د سقراط، افلاتون، ارسطو، اپیکور او زینو په نظر

# ښه انسان

لیکنه د
هومر بالابانیس

سریزه او ژباړه د
پوهاند محمد حسن کاکړ

Aghalibrary.com

# کتاب پېژند

دکتاب نوم : د سقراط، افلاتون، ر
او زینو
په نظر ښه انسان
لیکوال : هومر بالابانیس
سریزه او ژباړه: پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ
خپرندوی : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه_جرمني
شمېر : 1000 ټوکه
د خپرونو لړ : (120)
چاپ کال : ۲۰10 م / ۱۳۸۹ ل
کمپوزر : ذبیح شفق

اسد دانش مطبعه
د څلورمې حوزې څلور لارې، مروارید هوټل ته مخامخ،
ملي مارکېټ، کابل
Cell:0700-449298/0799-209272
www.danishpress.com

Aghalibrary.com

**د خپرندويې ټولنې يادښت:**
**د يو غوره انسان د کلاسيک ايډيال په اړه**
## غوره علمي_فلسفي اثر

*په افغانستان کې د علمي_فلسفي موضوعاتو په اړه او په تېره بيا په کلاسيکو او لرغونو دورو کې د فلسفي او فکري ودې د بهير د څېړلو په اړه له بده مرغه ليکنې او څېړنې نه لرو، په دې لړ کې چې هره هڅه کېږي، د ستاينې وړ ده.*

*د افغانستان نوميالی مؤرخ او ليکوال پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ له خپلو ډېرو علمي بوختياوو سره سره د هومر بالابانيس يو داسې مهم اثر له انګليسي څخه پښتو ته راژباړلی ، چې زموږ د هېواد د فکري ودې د څېړونکي نسل لپاره به پوره ګټور وي. له بلې خوا په پښتو ژبه ددغه اثر ژباړه زموږ د هغې موخې لپاره مرستندوی دی، چې هيله لرو خپله ژبه په علمي آثارو شتمنه کړو او خپلو لوستونکو ته په خپله ژبه د نړۍ د علمي او فکري تجربو نچوړ وړاندې کړو.*

*د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه د استاد کاکړ ددغې هڅې ستاينه کوي او ددې اثر له لوستونکو څخه هيله لرو، چې داسې آثار په غور او دقت ولولي. دغه راز موږ هيله من يو چې د افغانانو د فکري او علمي ودې په کار کې دغه اثر د يو ګام په توګه اغېزمن شي.*

په درناوی
**د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه**
جرمني_ د کولن ښار
د 2010 کال د مې نهمه / د 1389ل کال د ثور 19مه

# لــړلــیک


سرلـیک ... مخ
د ژباړونکي سریزه ..................... ۱
د یونان خلک ................. ۳
د لرغونو یونانیانو دین ............ ۵
پولس یا ښاري_دولت ............... ٦
د سپارتا ښاري _ دولت ............. ۱۰
د اتن ښاري _دولت ................ ۱۲
د پلي پونز جنګ ................. ۱۷
د سقراط محاکمه او مړینه ............ ۲۰
یونان د پلي پونیز له جنګ نه وروسته ..... ۲۵
یونان او آریانه .................. ۲۷
سریزه ........................ ۳۵
لومړی څپرکی: د سقراط او افلاتون په وخت کې ٤۱
دویم څپرکی: سقراط_ کلاسیک ښه انسان ...... ۵۰
درېیم څپرکی: د استاد په لار ........... ٦۷
افلاتون ....................... ٦۸
ارسطو ........................ ۷۵
اپیکور ........................ ۸۱
زینو ......................... ۸٤
څلورم څپرکی: د ښه انسان د شخصیت خاصیتونه_اعتدال ............................ ۸۸
پېنځم څپر کی: د ښه انسان د کرکټر خاصیتونه_زړه ورتیا او ......................... ۹۹
لوړ همتي ...................... ۱۰۲
شپږم څپر کی: د ښه انسان د کرکټر خاصیتونه_ مدني وفاپالي ...................... ۱۰٤
اووم څپر کی: د ښه انسان د کرکټر خاصیتونه_ عدالت ............................ ۱۰۹
اتم څپر کی: د ښه انسان د کرکټر خاصیتونه_عقلمني ............................ ۱۲۸
پایلیک ........................ ۱۳۰


## نــښلــونــې


د سقراط میراث ................... ۱۳٤
سقراط ولې معتقد شو چې باید مړ شي؟ ..... ۱۳۹
موږ ولې باید اخلاقي اوسو؟ ........ ۱۵۰
د ګایګز ګوتمی .................. ۱۵۰

اخلاقيات او دين ................. ۱٥۳
اجتماعي قرارداد ................ ۱٥٤
د اجتماعي قرارداد تيوري ولې جذابه ده ۱٥٦
د آزاد سواره پرابلم ............ ۱٥۹
اخلاقيات او خير رسونه ........... ۱٦۱
خير رسونه ...................... ۱٦۳
منصف توب ...................... ۱٦۷
پايله ......................... ۱۷۱

# د ژباړونکي سريزه

ددغه کتابګوټي اصلي نوم د ښه انسان کلاسيک ايډيال دی ) The Classical Ideal of the Good Man ( و، خو ما هغه د سقراط، افلاتون، ارسطو، اپيکور او زينو په نظر ښه انسان ونوموه. دغه نوم د کتابګوټي له منځپانګې سره سر خوري او پوهېدنه يې هم اسانه ده. په دغه اثر کې ددغو فيلسوفانو فکرونه د ښه انسان په اړه په لنډ ډول بيان شوي دي. د هغو په رڼا کې د لرغوني يونان مدنيت او کلتور هم پېژندل کېدلی شي. دلته دغو فيلسوفانو هغسې فکرونه، چې د عقلي او اخلاقي معيارونو پر بنسټ د انسان او د هغه د اجتماعي چاپېريال په اړه وړاندې کړی، نورو د بين النهرين، مصر، هند او چين په لرغونو مدنيتونو کې نه دي بيان کړي. دغو مدنيتونو هم ځلاوې لرلې، خو هغه زياتره د ديني عقيدو او له طبيعت نه اخوا مسئلو په اړه وې. دا يواځې يونانيان وو، چې د لومړي ځل لپاره يې د ښه انسان په اړه د عقلي او اخلاقي معيارونو پر بنسټ په پوره آزادۍ سره نظرونه وړاندې کړل او د نورو لپاره سرمشق شول. دا د دوی ستر ميراث دی.

څنګه چې ددغو فيلسوفانو د فکر محور انسان و، فکرونو يې نورو سيمو ته سرايت وکړ، که څه هم د يونان دولتونه ړنګ شوي او مدنيت يې هم تر خاورو لاندې شوی و. کله چې روميانو يونان ونيوه، هغوی د هغو د فکرونو تر اثر لاندې شول. په منځنيو پېړيو کې چې د آزاد فکر کولو مجال نه و، د يونان او روم فکرونه په ليکنو کې پاتې شول، چې د کليساګانو او نورو دغسې مرکزونو په ګوټونو او تاخچو کې له دوړو نه ډک، بې قدره پراته وو. دا

وروسته په څوارلسمې پېړۍ کې د ایټالیې په فلورانس کې فرانسسکو پترارک ( Francesco Petrach ( او بوکاسیو ( Boccaccio ( وو، چې ددغو اثرونو د موندلو او ژباړلو د حرکت یا رنسانس ( Renaissance ( مخکښان شول. دوی په دغه حرکت سره ددغو فیلسوفانو او داسې هم د نورو فکري مخکښانو لکه د شاعر هومر، هېرودوت، تاسیدایدز، پلي بیوس او د ډرامه لیکونکو لکه سافوکلز، یوروپید او په لسګونو نورو اثرونه ډګر ته وایستل شول. د یونان او روم مدنیتونه هم په هغو سره وپېژندل شول. رنسانس بیا ممکنه کړه، چې اروپایي ساینس پوهان له 1550 څخه تر 1750 پورې د علمي طریقې ( Scienfific Method ( په نامه د نوې پوهې د ترلاسه کولو لپاره نوې طریقه وباسي، چې د مؤلف چارلز ډورن په نظر" د پوهې له ټول ډول څخه چې لویدیځ و نړۍ ته ورکړي تر ټولو ارزښتناک یې د نوي پوهې د حاصلولو طریقه ده.)1("
د رنسانس او د غې علمي طریقې له امله و، چې له هغه وخت نه تر اوسه پورې په لویدیځ کې نوي حېرانوونکي فکرونه وړاندې کېږي او نوي حېرا نوونکي پرمختګو نه ک ېږي. د رنسانس او د غې علمي طریقې لومړني مخکښان همدغه فیلسوفان دي، چې د غه کتابګوټی پرې غږ یږي. د هغو د ښې پو هاوي لپاره به زه دلته د لرغوني یونان د خلکو او مدنیت په اړه یو څه وړاندې کړم.

## د یونان خلک

د یونانـــــــــــــــي اصـــــــــــــــلي اوســـــــــــــــېدونکي پیلاسګین ( Pelasgian ( نومېدل. تر هغو دمخه د مینوس ( Minos ( خلکو د کرېټ په ټاپو کې یو ځلانده مدنیت درلود، چې د ختیځ له مدنیتونو څخه متاثر و. دغه مدنیت له میلاد څخه مخکې 1400 په شاوخوا کې د یونان د مای سینای ( Mycenae ( خلکو له خوا ړنګ شو. دغه مدنیت، چې یې ښه وده کړې وه، دوه پېړۍ وروسته د ټرای جنګ ( 1194_11784له میلاد څخه مخکې( په نتیجه کې ضعیف او بیا د ډوري

قومونو ) Dorians ( له خوا نسکور شو، چې ډېر دمخه یې له شمال نه یونان ته مخه کړې وه. د کرېټ او مای سینای مدنیتونه نور نو افسانه شول او یونان ډوریانو ته په لاس ورغی، چې د هندو اروپایي ژبنی ډلې خلک وو. دا دوی وو، چې بومي خلک یې پیلاسیګین ونومول، چې د هېرودوت په وینا په غېر یوناني ژبه ګړېدل او ایونیان ) Ionians ( د همغو له نسب څخه وو. ډوریانو ایونیان ونه ځپل، لاندې یې کړل او له همغو او ای اولونیانو ) AeOlians ( سره یې په ګډه د یونان کلتور او مدنیت ودان کړ.

ډوریان د یونان په پراخې ټاپو په تېره په پیلوپونیس ) Peloponnesus ( کې غالب قوم شو او خپله هندو اروپایي ژبه یې په ټول یونان کې خپره کړه. ایونیان د ډوریانو په فشار د ایجن ) Aegean ( سمندرګي، وړې اسیا )ننني ترکیې( غاړو او وړو ټاپوګانو ته مخه وکړه او هلته مېشته شول او همغه یې ایونیا ) Ionia ( ونوموله. د یونان زیاتره فکري مخکښان له همدغو ایونیانو څخه هسک شوي دي.

د یونان او سېدونکي، د پښتنو په شان، په ډېرو قومونو وېشل شوي او هر قوم له ډېرو ځانګو او هره ځانګه له کورنیو نه جوړه وه. تر میلاد مخکې 700 پورې زیاتره یوناني پاچایان نسکور شوي یا له واکمنۍ نه بې برخې شوي وو او یواځې مذهبي رسمونه یې تر سره کول. ځای یې قومي ارستوکراتو نیولی ووو. ځمکې چې پخوا د یوه خېل د غړو ګډ مال و، زیاتره دغو قومي ارستوکراتو ونیولې، خو د دوی د ارستوکراسۍ بنسټ ټینګ نه وو. د یونان کرنیزې ځمکې لږې وې او ښېرازه هم نه وې. د ملک عمده محصول د انګورو له باغونو، د زیتون له غوړیو نه ترلاسه کېدل. یو ځای بل ځای له کانونو نه هم استفاده کېدله. د کانو ایستل د مریانو کار وو چې دوی ډېر بد ژوند لاره. ډېرو یونانیانو په بادي وړو کښتیو سره سمندري سفرونه او سوداګري کوله، چې له امله یې د مدیترانې او ایجن سمندرګیو په

غاړو کې مېشت شول. دغه پروسه تر میلاد مخکې 550 پورې دوه پېړۍ روانه وه، چې په لویدیځ کې د قرطه جیانو او په ختیځ کې د پارسیانو له خوا ودرول شوه. سره له دې هم اتن یو غټ سمندري ځواک و.

## د لرغونو یونانیانو دین

د پخوانیو مدنیتونو ډېر خلک د طبیعت نه اخوا یا میتافزیکي قوتونو په شته والي معتقد وو، خو له یهودانو نه پرته نور ولسونه لا په واحد خدای معتقد نه وو. لرغونو یونانیانو په ډېرو خدایانو عقیده لرله، خو دوی ورته په لوړ قدرت قایل نه وو. له همدې امله وه، چې په انګرېزي ژبه کې د یونان یوه خدا یا د ټولو خدایانو نومونه په واړه ج (g) لیکل کېږي، نه په لوی ج (G) سره، چې هغه کله په رب النوع هم ژباړل شوی دی. د لرغوني یونان خدای د رب النوع په مانا دی. د دوی خدایان په خپله د دوی، د مصریانو او اسیایي عنصرونو یو ترکیب وو. د یونان د دین لومړۍ مرحله هومري (Homeric) نومېږي، په دې چې د یونان لومړنی شاعر هومر په خپل ایلیاد (Illiad) نومي اثر کې د خدایانو بیان کړی دی. دغه خدایان د اولمپیا په نامه هم یادېږي، ځکه چې د هومر په وینا هغوی د یونان د اولمپیا په غره کې اوسېدل. د دوی ستر خدای زیوس (Zeus) نومېده. ماینه یې هم الاهه ګڼل کېدله، د هېرا (Hera) په نامه. اپولو (Apollo) هم د اتن له نومیالیو خدایانو څخه و، چې له ورانوونې، طب، موسیقۍ او شعر سره یې سر او کار لاره. دی د فلسفې او هنر حامي ګڼل کېده. د افسانو له مخې نورو نارینه او ښځینه خدایانو له یوه بل سره خپلوي او فامیلي ژوند لاره. د دلفي (Delphi) غونډۍ د مذهبي ماهرانو یا روحانیانو (Oracle) هستوګنځی وو. د دوی کار دا و، چې د خلکو پوښتنو ته د خدایانو ځوابونه ورسوي، نو دوی هغه ډول وظیفه ترسره کوله، چې برهمنانو په هندویزم کې ترسره کوله. د افسانو له مخې د

یونان خدایانو سره جنګونه کول او د خلکو په چارو کې یې ګوتې وهلې. بیا هم ترېنه غوښتل کېدل، چې خلکو ته د هغوی د راتلونکي ژوند په اړه پوهه ورکړي. دوی تلپاتي ګڼل کېدل او ستایل کېدل، چې د خلکو راتلونکی ښکاره کولی شي. د اولمپیا اوسېدونکو د یونانیانو په ژوند کې مهم رول لوبوه. هر کال مذهبي جشنونه نیول کېدل او د غه رسم د یونانیانو په هویت او اتحاد کې رول لاره.
خو دوی نه هر چېرې حاضر، نه په هر څه پوه او نه تر هرڅه قوي ګڼل کېدل. دوی دغسې ګڼل کېدل، چې له انسانانو نه ستر دي، خو ترېنه بېل یا بېګانه نه دي، خو د یونان دغو خدایانو ته جنګونه او ناروغۍ ګانې ازموینې وې او څنګه چې هغو ته یې ځوابونه نه لرل، خلک له ژوند نه اخوا ته متمایل کېدل[2].
له دغې شرح نه جوته ده، چې د یونان خدایانو د کوځ او مه کوځ په شکل حکمونه نه دي کړي او یونانیان په مذهبي لحاظ په فکر او عمل کې مقید نه، بلکې ازاد وو چې د هغه له امله فکري مخکښانو یې وکولی شول خپل کلتور د غومره شتمن کړي، چې تراوسه هم بصیرتونه ترېنه ترلاسه کېدلی شي.

## پولس یا ښاري دولت

لرغونو یونانیانو دغسې اجتماعي او سیاسي نظم وابست، چې په لرغونې نړۍ کې څه چې د انسان په تاریخ کې جوړه نه لري، چې هغه پولیس (**Polis**) او د هغه اداري طرز دی. پولس ته ښاري دولت ویل شوی، خو دا یې دقیقه او سمه ژباړه نه ده. یو عادي پولس د ښار په شان نه او له دولت نه زیات و. په ټول یونان کې پولس یا ښاري دولتونه یا سیاسي ټولنې ډېرې وې. دا چې پولس د یونان د جغرافیوي وضع یا د خلکو د غوښتنو نتیجه وه، معلومه نه ده خو لکه چې پروفیسر هولیستر (**Hollister**) وایي "علت چې هرڅه وي د لرغوني یونان کلتور له خپلواک ښاري دولت نه پرته درک کېدلی نه شي.[3]" نږدې په هر پولیس کې د کومې غونډۍ دپاسه یا د هغې په شاوخوا

کې د اسامبلې، شورا، او مذهبي رسمونو د ترسره کولو لپاره ودانۍ جوړې شوې وې. تر څنګ به يې د اګورا (Agora) په نامه بازار ګوټی و. دغه اکراپولس (acropolis) په واقع کې د پولس سياسي، مذهبي، اجتماعي، اقتصادي او اداري مرکز و. هر پولس ځانله اداري طرز لاره، د پروفيسر کيټو (Kitto) په وينا "واقعي حکومتي چارې به يا کوم پاچا... يا د ځينو اشرافي کورنيو مشرانو ته يا د اصلي تبعه وو شورا ته چې د شتو خاوندان به وو، يا ټولو اصلي تبعه وو ته سپارل کېدلې. دغه ټول يا د هغو ځينې تعديلونه د سياسي ټولنې (polity) دغسې طبيعي شکلونه وو، چې يونانيان يې په څرګند ډول له ختيځې پاچايي (Oriental Monarchy) نه چې پاچا به يې هېڅ مسؤليت نه لاره، ممتاز کاوه... ]که په يونان کې[ غير مسؤل حکومت و، هلته پولس نه و."[4]

دا چې يونانيان ولې د ډېرو سياسي واحدونو يانې د پولسو پرځای تر يوه واحد مرکزي نظام لاندې سره غونډ نه شول، شايد په اوله درجه د جغرافيوي وضع له امله و، چې خلک يې هم دننه په يونان کې او هم په ټاپوګانو او د سمندرګوټو په غاړو کې اباد وو. بل علت يې شايد دا وي چې يونان د پولس د هسکېدلو يانې د ميلاد څخه مخکې نهمې، اتمې او اوومې پېړۍ په اوږدو کې له بېرونيو خطرونو نه په امن کې و. د کريټ يا ميډنووا دولت له ميڼځه تللی و او فنيقيان چې سمندري ځواک او سوداګر وو، خطرناک نه وو. پروفيسر کيټو په دې اړه يو نظر وړاندې کوي، چې شايد د واقعيت انعکاس وي. دی وايي، چې "دا د يونانيانو عمومي ګڼنه وه، چې پولس له عدالت غوښتنې نه راولاړ شوی دی. فردونه يې قانونونه دي او پولس وظيفه لري، چې د ناروا پوښتنه وکړي، خو نه د دولتي ماشين له لارې ځکه چې دغسې ماشين د فردونو له خوا چلول کېږي، چې هغوی به هغومره ظالمان وي لکه اصلي ناروا کاران چې دی."[5] د همدغې ګڼنې له امله به و، چې يونانيانو پولس ته

د دولت په ځېر نه، بلکې د خلکو په سترګه کتل او هر یوه یوناني ځان مکلف ګاڼه چې له پولس سره مرسته وکړي. د غه ښاري دولتو نه چې واړه وو، د پولس د ټولو غړو له خوا نه بلکې د هغه د نارینه اصلي تبعه و له خوا په نېغ ډول چلول کېده. دوی ډېر نه وو، سره پېژندل یې او له عامه چارو سره یې دغسې رښتیني علاقمنې لرله، چې په نورو ټولنو کې هغه تراوسه لیدل شوې نه ده. ښځو، مریانو او سوداګرو د پولس په چلولو کې برخه نه لرله. دوی په واقع کې د اصلي تبعه وو د اړتیاوو په پوره کولو سره هغوی ته موقع ورکوله، چې د پولس سیاسي او اجتماعي چارې د ازاد فکر له مخې پرمخ بوځي. یونانیانو سیاست او سیاسي ژوند په پولس پورې تړلی ګاڼه. ارسطو ویل، چې "انسان هغه حېوان دی، چې دننه په پولس کې ژوند کوي." خو دده دغه وینا په دغه ډول عامه شوې، چې "انسان یو سیاسي حیوان دی."[9] په دې ډول یونانیانو فکر کاوه، چې آزاد انسان یواځې په پولس کې اوسېدلی شي، نه د پارس په شان امپراتورۍ کې، چې اوسېدونکي یې مڼونکي، مریان او بربریان دي، خو که له یوې خوا ازاد فکر کول، آزاد ګڼېدل او آزاد عمل کول د آزادي بیخ نور هم ټینګوي، له بلې خوا په آزادۍ کې اختلاف هم حتمي کېږي، ځکه په دغه حال کې هر څوک د خپل فکر له مخې ګڼېږي او مجبور نه وي د بل چا یا بل مقام په متابعت فکر او عمل وکړي، مګر په هغه حال کې چې فکر یې ورته رښتینی معلوم شي. په دغه حال کې استعداد، فکر او خیال ښه وده کوي، لکه چې په لرغوني یونان کې یې انکشاف کړی و او دغسې پاخه مفکران، ډرامه لیکونکي، شاعران، تاریخپوهان او سیاستمداران پکې هسک شول، چې اثرونه یې تراوسه پورې هڅوني کوي. په عین حال کې په لرغوني یونان کې هم دننه په پولس کې د فردونو او ډلو او هم د پولسو ترمنځ نښتې کېدلې، ترڅو چې د پولس سیستم د مقدونیې د لوی سکندر په هسکېدلو سره له منځه لاړ. له دې وروسته به د غه ټکی په خاص ډول د

سپارټا او اتن د ښاري دولتونو ترمېنځ او د سقراط په موضوع به نوره هم رڼا واچول شي، چې دد غې ليکنې د بحث غټ ټکي دي.

## د سپارټا ښاري دولت

د يونان په ښاري دولتونو کې سپارټا او اتن تر ټولو مهم وو، خو د هغوی فردي او ټولنيز ژوند سره پوره توپير لاره. په داسې حال کې، چې اتن د پاچايۍ، ارستوکراسۍ، استبداد (Tyranny) يا زورواکۍ او دموکراسۍ دورونو په تېرولو سره تحول وکړ، سپارټا دغسې لار ونيوله، چې د اوسپنيز دسپلين او نظامي موثريت لپاره يې سوداګري، کلتوري نوښت او د ژوند هوساينو ته توجه ونکړه. سپارټا په سياسي لحاظ تل ساتنپاله وه. په سپارټا کې، چې ارستوکراتان په واک ورسېدل، پاچايي يې نسکوره نه کړه، ضعيفه يې کړه. د اتمې پېړۍ په اخر کې چې د مسينيا (Messenia) ګاونډۍ سيمه يې لاندې کړه، او سېدونکي يې مريان کړل، که څه هم هغوی هم يونانيان وو. سپارټا نظآمي دولت او اصلي تبعه يې منظم دايمي سرتېري شول. کلتور يې د بارکونو سطح ته کوز شو او ښه ژوند پکې د اساسي روزنې پوځي ژوند شو. سپارټا ټينګه وچه ټولنه شوه، چې موجوده وضع يې په زور سره ساتله. سپارټا په يوه وخت کې دوه پاچايان لرل، لکه وروسته چې په روم کې دوه قونسلان يا لوړ واکمنان وو. د جنګ په وخت کې به يوه پاچا قومندانې کوله، خو دننه په هېواد کې د دواړو پاچايانو واک د درې څانګو له خوا محدود و: د لويانو د ارستوکراتيکې شورا له خوا، د يوې اجرائيوي شورا له خوا او د اصلي غړو د اسامبلې له خوا. نو سپارټا په اصل کې يوه محدوده دموکراسي وه. دغسې دموکراسي، چې نه يوازې ښځو او مريانو پکې ګډون نه شو کولی، ډېرو اصلي غړو هم پکې ګډون نه شو کولی. په اسامبلې او شورا کې هم په چارو بحث نه کېده، فيصلې په اتفاق سره کېدلې.

د سپارټا د اصلي غړو ژوند له زانګو نه تر ګور

پورې د دولت تر روزنې او څآرنې لاندې و، مقصد دا و چې سرتېري پیاوړي، زړور، انضباطي، منونکي او وفا پال وي. له دېنه منع و، چې بزګري، کسب او سوداګري وکړي. له باندې نه د نویو طرزونو، لوکس څیزونو او ایډیاوو له رانوتلو سره مخالفت کېده. د سپارتا خلک د جنګ له وخت نه پرته په نورو وختونو کې بیرون ته تللی نه شول. دولت به اوه کلن ناریانه ماشوم تر شل کلنۍ پورې تر روزنې لاندې نیوه، چې له سخت پوځي ژوند سره یې روږدي کړي. دد غې دورې په تېرولو سره به بیا دی د سپارتا اصلي غړی کېده، خو لس کاله نور به یې هم په بارکونو کې تېرول، که څه هم واده به یې کړی و. له هغه وروسته دی د سپارتا د اصلي تبعه په توګه په کور کې اوسېدلی شو. په دې ډول د سپارتا اصلي غړو فردي خپلواک ژوند نه لاره، روح او جسم یې دواړه دولت ته ځانګړي وو. د یونان بل هېڅ پولس کې ژوند تر دغسې تنظیم شوي دسپلین لاندې نه و، خو سپارتا په ټول یونان کې تر ټولو ښآري دولتونو نه ښه سرتېري لرل، سره له دې هم هغو له خپل دغه قدرت نه په احتیاط سره کار اخیسته. د سپارتا دغسې تنظیم شوی ژوند طرز په ټول یونان کې ستایل کېده، خو دغه ښاري دولت د اتن پرخلاف په فکري او ذهني لحاظ وچ او بېحاصله پاتې شو. د پروفیسر کیټو په وینا "هغه وخت چې سپارتا مخ په ځوړي او نسکوره شوه، د انرجي د نه شتوالي له امله نه، بلکې د مدني غړو او د ایډیاګانو د نه شته والي له امله و، چې په دې کې هغه په خپله ګرمه وه."(7)

## د اتن ښاري دولت

اتن له میلاد څخه مخکې **900** تر **600** پورې تر سپارتا وروسته درېیم ښاري دولت و. په همدغه وخت کې په داسې حال کې، چې سپارتا په پلي پونیز کې په ښکېل کېدلو سره په یونان کې پېژندل شوی قوت ګرځېدلی و، د اتیکا ) **Attica** ( ټول ښاري دولتونه د کوم مشر

په نوښت سره د اتیکا اتحادیې کې سره یو موټی شول او اتن یې خپل مرکز کړ. د اتن ښاري دولت په دغې اتحادیې سره د پراخې سیمې خاوند شو. پر هغه سربېره څنګه چې اتن دسپارټا پرخلاف سمندر ته نزدې و، سوداګرۍ پکې انکشاف وکړ. داسې هم هلته د وړو ځمکه والو ترڅنګه سوداګر، صانعان، ورور ورو هسک او اصلي اوسېدونکي یې د مدني حقونو خاوندان شول.

په دې ډول اتنیانو په هماغه لومړي سر کې په سیاست کې خاص مهارت یا د پروفیسر کیټو په ژبه "نبوغ" وښوده، چې "... ددغه نبوغ مهمه نښه... د اتنیانو عمومي میل دی، چې له اجتماعي نسلو سره د معقولو خلکو په شان معامله کوي، نه د ماشومانو او متعصبانو په شان چې له فزیکي زور نه کار اخلي. موږ په وار وار وینو، چې دوی همدغسې کوي. مم تازه طبقه یې د بحث لپاره اماده ده او په عمومي ډول فیصله په رښتیني ډول مني."[8] د اتنیانو "نبوغ" وروسته په هغو سمونونو کې وځلېد، چې سمون پالو لویانو یې د دولت او ټولنې د ښه کولو لپاره وکړل.

د اصلاحاتو په لړ کې لومړنی اصلاح دراکو (Draco) نومي ته منسوبۀ ده، چې په 621 کې یې عنعنوي دودیز قانونونه ټول او تدوین کړل. په دغې اصلاح سره لږ تر لږه د په خپل سر او حاکمانه چلند په برابر کې یو څه مصونیت پیدا شو. سره له دې هم دغه پروسه روانه وه، چې په هغې سره واړه ځمکه وال د لویو ځمکه والو پوروړي کېدل او د پورونو د نه تادیې په حال کې مریان کېدل او خرڅ ېدل، چې نتیجه یې عام ناراضي توب شو. د سولون (Solon) په نامه یوه سوداګر، چې په ملک کې ګرځېدلی او یو ډول فیلسوف، سیاستمار او شاعر و، له ناراضیانو سره خواخوږي ښکاره کړه. مخالفو ډلو هم ورته ډېر اختیار ورکړ. په داسې حال کې، چې په نورو ښاري دولتونو کې دغسې ناراضي توب د انقلاب لامل کېده، سولون په اتن کې د ناراضیانو غوښتنې بې له مقاومت او ګډوډۍ نه ومنلې. د پور په برابر

کې يې مريي توب لغو کړ او ځمکې يې لومړنيو څښتنانو ته بېرته ورکړې او حتی هغوی يې چې د پور په بدل کې له اتن نه دباندې پلورل شوي وو، بېرته وغوښتل. سولون اتنزيان وهڅول، چې د زيتون او تاکونو په زياتولو سره اختصاصي کرنه قوي کړي. په عين حال کې يې پلرونه مجبور کړل چې خپلو زامنو ته کسبونه وښيي. په نتيجه کې کسبونه په تېره کلالي دغومره ډېره وده وکړه، چې يوناني لوښي د مديتراني په شاوخوا سيمو او حتی مرکزي اروپا کې هم خرڅېدل. دا هغه وخت و، چې له ليديا څخه په اتن کې سکه او پيسې په دوران کې لوېدلې وې او سوداګري يې اسانه کړې وه.
سولون په سياسي ډګر کې هم سمون پلی کړ. تر دغه وخت پورې يوازې نسب د اسامبلې د غړيتوب شرط و. سولون د هغه پرځای شتمني د غړيتوب شرط وګرځاوه. په دې ډول سوداګر يا نوې سوداګره طبقه هم لوړ اجرائيوي مقام (**Archons**) ته رسېدلی شوه. د اسامبلې د غړو په ډېر پېدلو سره يوه څلور سوه کسيزه انتخابي شورا منځ ته راغله، چې د يو ډول اجرائيوي کمېټې په شان يې دنده ترسره کوله.[9]
سولون له دغو سمونونو نه وروسته په سفر لاړ، خو په نشته والي کې يې ناراضي توبونه پورته شول، چې تر پخوا هم ټينګ وو. بې شتو نارې وهلې، چې څه يې ترلاسه کړي نه دي، ممتازانو شکايت کاوه چې هرڅه يې له لاسه ورکړل. ټولو سولون ته بد ويل، ټوله اتيکا ناارامه او انقلابي شوه. سره له دې هم"...د اتن خلک په دغه فکر وو چې ګډه ګټه له ډله ييزې ګټې نه لوړه ده." اتيکا يو ځل بيا د سياسي ناکراريو ميدان شو. دا ځل هلته زورواکان (**Tyrants**) هسک شول. له سپارټا پرته په ټول يونان کې زورواکان يا ځواکمنان سياسي واکمنان شول. "خو يوناني زورواکان نزدې ټول ارستوکراتان او متمدن وو." پخوا چې په ټول يونان کې د پاچايانو پرځای ارستوکراتان په واک شوي وو، اوس د هغو پرځای زورواکان واکمن شول، چې هسکېدنه

یې په اصل کې د ممتازو او شتمنو او د منځنیو او ښکته طبقو د مخالفتونو او مبارزو نتیجه وه. په وروستیو کې د مریانو برخه غټه وه. په هغه وخت کې مریي توب یو پوره طبیعي څیز ګڼل کېده. هغه مریان په ډېر بدحال کې وو، چې په ځمکو او کانونو کې ترېنه کار اخیستل کېده. د اتیکا ټول مریان 125000 او نور اوسېدونکي یې له یو لک نه زیات تخمین شوي دي، خو د هغو مریو حال یو څه ښه وو، چې په کورونو کې یې کار کاه یا کاسبان وو[10]. سره له دې هم له مریانو نه کوم مشر جګ شوی نه دی.
نوي واکمنان، چې ټول یې له ارستوکراتو او ممتازو کورنیو څخه وو، په خپلو سمونونو سره د مریو حال یو څه ښه کړ. په عمومي ډول دوی د ښکته او منځنیو طبقو د خلکو په ملاتړ پورونه یا لغو یا لږ کړل، ډېرې ټول ګټې پروجې یې پلې کړې، ځمکې یې له سره ووېشلې او د مالیاتو طرز یې واړوه او د سیاسي مؤسسو غړي یې ډېر کړل، خو پخواني طرزونه په تېره سیاسي سیستم په اصل کې پرځای پاتې و. دغو واکمنو زور زیاتی هم نه کاوه. دغه ټول تحولونه له میلاد څخه مخکې 900 څخه تر 550 پورې عملي شول. دا هغه وخت و، چې د وړې اسیا له لیدیا نه په یونان کې د پیسو په چلند سره د سوداګری ډله هسکه شوې او په شتو کې توپیر ډېر شوی او د کرنیزې ټولنې یو ډول برابرتوب له منځه تللی و[11]. له سولون نه وروسته د اتن لوی مصلحان پې سستراتوس ( Pesistatus ) او کلایستینز ( Cleisthenes ) وو.کلییستینز د اتن قانون پوره دموکراتیک کړ. د اتن ټول اصلي تبعه یې د اسامبلې غړي کړل، د پخوانو ارستوکراتو قومونو نظامي او سیاسي وظیفې یې لغو کړې، یواځې تشریفاتي دندې یې ور ته پرېښودلې. د پخوانیو ارستوکراتو پیاوړو قومونو پر ځای یې لس نوي قومونه تنظیم کړل، چې نسب یې د غړیتوب شرط نه و. اسامبله د ټولو اجتماعي ډلو له غړو نه جوړه شوه، د بې ځمکو اصلي تبعه وو او د کارګرو په ګډون. اسامبلې عمومي سیاستونه ایستل او د پلي کولو

وظيفه يې يوې پېنځه سوه کسيزې اجرائيوي شورا ته وسپارله، چې هر کال ددغو لسو قومونو له هر قوم نه پنځوس تنه غوره کېدل، خو د چارو د ترسره کولو مخکښ به هغه څوک کېده، چې د نفوذ او حيثيت خاوند کېده. دی په شخصي وړتيا سره د "خلکو مشر" په نامه يادېده او تر هغو به يې مشري کوله، چې د اسامبلې او شورا غړي به پرې ولاړ وو. ده رسمي مقام نه لاره.

پريکلس (Pericles) په پېنځسمې پېړۍ کې همدغسې مشر و، چې د يونان په "طلايي دوره" کې يې د ارستوکراتو او وګړو ترمېنځ انډول وساته او يو د پرش کاله يې مشري وکړه. دی دغسې يو واقع ليدونکی سياستمار او اغېزمن ويانډ و، چې چارې يې په منطق او هڅونې سره ترسره کولې، نه په زور سره. د هولستر په وينا "د فرد او ټولنې ترمېنځ د همغږۍ په حاصلولو کې د يونان د پولس برى هېڅ چېرې هغومره پوره نه و، لکه په اتن کې چې له دموکراسۍ سره د انسان د لومړۍ مهمې مقابلې په ډګر کې و." په دې هکله تاريخپوه تاسيدايدز د پلي پونيز د جنګ په مهال کې د پريکلس يوه وينا په دې ډول راوړي:"... زموږ اساسي قانون ته دموکراسي ويل کېږي، ځکه چې هغه د څو کسو په لاس کې نه، بلکې د ډېرو په لاس کې ده، خو زموږ قانونونه ټولو ته د هغو په شخصي دعوو کې برابر عدالت خوندي کوي، نه د امتياز په توګه بلکې د وړتيا د انعام په توګه... په ټولو دولتونو کې يواځې موږ هغه څوک چې له اجتماعي خدمت نه ځان ګوښه کوي، سفر نه بلکې بې خيره ګڼو. موږ د سياست په ټولو موضوعګانو باندې په خپله غور کوو او داسې نه ګڼو، چې قول او عمل سره نه جوړېږي، بلکې داسې ګڼو چې هغه کړه له اول نه ناکام وي، چې له مباحثې او مشورې نه پرته کېږي.(12)"

## د پلي پونيز جنګ

د سپارتا او اتن په مشرۍ د دوو اتحاديو جنګ يا د

## پلي پونيز جنګ له میلاد څخه مخکې 431 څخه تر 404 پورې

اوه ویشت کاله اوږد شو. د جنګ مسؤل اتن ګڼل شوی، چې تر جنګ دمخه یې یوه امپراتوري جوړه کړې او نور دولتونه ترېنه وېرېدل. اتن د نورو په مرسته په 490 کې په مره تان (Marathon) کې په 480 کې په سه لامي (Salamis) کې او په 479 کې، په پلاټای (Plataea) کې د هخامنشي پارس لوی یرغلیز پوځونه مات کړي او د غټ اعتبار او حیثیت خاوند شوی و. په جنګ کې غټ ورانی هم ورته پېښ شوی و. د سه لامي په جنګ کې اتن د پارس د لښکرو له خوا چور شوی او د اکراپولس غونډۍ له پاسه معبدونه یې هم وران شوي وو.

اتن چې په 480 کې د ټول یونان دولت په نامه اتحاد جوړ کړی و، له جنګ نه وروسته په کال 477 کې یې په خپلې مشرۍ سره یوه نوې اتحادیه جوړه کړې وه، چې له اتیکا نه ایونیا پورې د ایجن سمندرګي د غاړو او ټاپو ګانو ز یاتره ښاري دولتونو پکې غړیتوب لاره. وروستیو تاریخپوهانو دغې اتحادیې ته د ډیلوس (Delos) لیګ نوم ورکړی. دغه لیګ د پریکلس په زیار سره ورو ورو د اتن په امپراتورۍ بدل شو او اتن یې قادر کړ، چې له غړو هېوادونو څخه په پلمو عواید ټول کړي او د ایجن سمندرګي کې په لاس بر کېدلو سره خپلې سوداګرۍ ته انکشاف ورکړي او ځان شتمن او پیاوړی کړي. د پلي پونیز تر جنګ پورې نیمه پېړۍ د اتن طلا یي دوره وه. سپارتا ووېرېده او له یو شمېر دولتونو سره یې اتحاد وکړ، چې هغوی هم له اتن نه وېرېدل. د یونان ښاري دولتونه، چې له اول نه په خپلواک ډول هسک شوي وو، په خپلواکۍ ولاړ وو او نه یې غوښتل له لاسه یې ورکړي. پرته له هغه هم سپارتا او اتن، لکه چې دمخه ویل شوي، په دولتي طرز کې سره په متضاد قطب کې وو. دوی هر وخت سره سیال دولتونه وو. سپارتا او متحدان یې ډوري یان او اتن او متحدان یې زیاتره ایونیان وو. سپارتا کو ښښ کاوه په پل

پونيز کې اوليګارکې يا د متنفذو حکومت او اتن د پريکلس په سروال توب کوښښ کاوه د خپلې امپراتورۍ په ښارونو کې دموکراتې ډلې په واک کړي. سره له دې هم د پلي پونيز جنګ چې شايد د نړۍ لومړنی په دقيق ډول بيان شوی جنګ وي، ايډيالوجيکي جنګ نه، بلکې ساده د قدرت جنګ و. "اتن تر خپلې ولکې لاندې د ټول يونان د راوستلو خوب ليده او سپارتا او متحدان يې ټينګ وو، چې د اتنيانو امپريلزم ختم کړي." (13)

د پلي پونيز جنګ له يوه لنډ درنګ نه پرته اوه ويشت کاله روان و. د ير غل نوښت د سپارتا او د هغې د ملګرو په لاس و. په ټول يونان کې يواځې د سپارتا اصلي غړي په نظامي فن کې روزل شوي وو. اتنيانو دغومره قدرت نه لاره، چې د يرغل ابتکار وکړي. دوی سمندري ځواک وو. د جنګ په دويم کال کې، چې د اطراف خلک په ښار کې د ديوالونو دننه پناه وړې وه، وبا ولګېده. د اتن ځلورمه برخه خلک د پريکلس په ګډون پکې تلف شول. تاريخپوه تاسيد ايدز، چې وبا وهلی او تربېنه روغ شوی و، دغه جنګ په خپل اثر کې د پلي پونيز جنګ په نامه په دقيق او افاقي ډول بيان کړي. دغه تاريخ په لرغونې نړۍ کې جوړه نه لري. د هغه له مخې په دغه جنګ کې قانون، مذهب، رښتين توب او معقول توب ته اطاعت هوا وکړه او اخلاقي چلند او ژوند له مېنځه لاړه. د پريکلس له مړينې نه وروسته د اتن مشري د افراطيانو لاس ته ورغله او د اتن دموکراسي د وګړو د حاکميت بڼه غوره کړه. په دغه حال کې کله چې اتنيانو د ميلوس (Melos) بې پرې ټاپو ونيوه ناريڼه يې ورته ووژل او ښځې او ماشومان يې د مريانو په شان وپلورل. د پريکليس دغه نظر رښتيا شو، چې ويلي يې و چې "دی د سپارتا له طرح ځخه هغومره نه وېرېږي، چې د اتنيانو له تېروتنو ځخه وېرېږي." د اتنيانو بله تېروتنه دا وه. چې د غلطې ستراتيجې له امله يې د خپل سمندري ځواک غټه برخه د ليرې پراته سيراکوز (Syracuse) سيمې په

دفاع کې له لاسه ورکړه. له هغه وروسته، چې د ایجن په سمندرګي باندې د اتن کنټرول سست شو، تر لاس لاندې دولتونه یې په برابر کې جګ شول، ترڅو په پای کې د پلي پونیز مخالف سمندري ځواک، چې د پارس په طلا سره پیاوړی شوی و، د اتن سمندري ځواک په هیلسپانټ (Hellespont) کې له مېنځه یووړ. بیا چې اتن ته د خوړو ځیزونه ونه رسېدل، اتن مجبور شو په 404 کې سپارتا ته په دغسې حال کې تسلیم شي، چې امپراتوري یې له مېنځه تللی او شتمني او معنویات یې له لاسه ورکړي وو. اتن د جنګ په بهیر کې د سولې څو وړاندیزونه رد کړي و. له بلې خوا ساتنپالې او محتاطې سپارتا هم ونه شو کولی د اتن په شان امپراتوري جوړه کړي. په لاس لاندې دولتونو کې یې د اتن په ګډون شتمن متنفذان په واک کړل، خو په خپله یې له ټولو هېوادونو سره ډېر ناوړی چلند پیل کړ او هغوی یې خپل مخالف کړل. په اتن کې د سپارتا تر لاس لاندې زورواک د کریتیاس (Critias) په مشری "دېرش" نومېدل، په دې مانا چې اتن د دېرشو دکتاتورانو له خوا اداره کېده، خو اتنیانو یو څو میاشتې وروسته هغوی نسکور کړل او خپله اسامبله او شورا یې بیرته فعاله کړه او دموکراسي یې ژوندی کړه. دغې پېنځه سوه کسیزې شورا پېنځه کاله وروسته په 399 کې سقرط په مرګ محکوم کړ.

## د سقراط محاکمه او مړینه

سقراط دد غه کتابګوټي ډېره مهمه موضوع ده، د محاکمې او مرګ په اړه یې ما له یوه بل کتاب نه دوه څپرکي ملګري کړي دي. زه به هم ددغې موضوع په اړه یو څه اضافه کړم.

سقراط د پلي پونیز د جنګ په وخت کې د معمول په شان په بازار کې ګرځېده، لویان، چارواکي، شاعران، لیکوال او ځوانان یې پوښتل او ځوابونه یې اورېدل او خپل نظرونه یې ورته اورول. د سقراط د محاکمې په اړه د هغه اخري خبرې د هغه شاګرد

افلاتون په خپل اثر کې راوړي په نامه د سقراط دفاعیه. سقراط د لوړو چارواکو په اړه محاکمه کوونکو ته وایي، چې"... ماته معلومه شوه چې هغوی چې په لوړ نظر ورته کتل کېدل، په واقع کې تر ټولو ډېر نیمګړي وو. په داسې حال کې چې هغوی چې ترېنه ښکته ګڼل کېدل، په پوهې کې تر هغو نه ډېر ښه وو." د شاعرانو په اړه وایي، چې "وروسته له هغه چې له چارواکو نه خلاص شوم، شاعرانو او نورو ته مې... مخه وکړه او فکر مې کاوه چې د هغو په ملګرتوب کې به زه تر هغو نه ډېر ناپوه ښکاره شم. نو مې یو څو هغه شعرونه غوره کړل، چې زما په فکر د هغو په جوړولو کې یې ډېرې ستونځې ګاللې وې او د هغو د ماناګانو په اړه مې وپوښتل. ددې لپاره چې په دغې پروسې کې به له هغو نه یو څه زده کړم."
"ښاغلو! زه اوس یو څه نارامي حس کوم، چې حقیقت درته ووایم، خو هغه باید وویل شي. په واقع کې هر حاضر تر هغو شاعرانو نو نه د هغوی د شعرونو په اړه ډېر ښه ګړېدلی شي. یو ځل بیا د هغوی په اړه په دغه څه پوه شوم، چې دا د هغوی د عقلمنې په وجه نه ده چې خپل اثرونه یې جوړ کړي، بلکې د غیب ویونکو او وړاند لیدونکو په شان د خپلې طبیعي ذکاوت او الهام له امله، ځکه چې دغه کسان هم ډېر ښکلي لفظونه سره پیيي، خو په هغو موضوعګانو چې پرې غږېږي، هیڅ نه پوهېږي. ماته څرګنده شوه چې شاعران هم په همدغه حال کې دي، په عین حال کې مې درک کړه چې دوی د خپلو شعرونو په سبب د نورو موضوعګانو په اړه هم ځانونه ډېر پوه ګڼي، په داسې حال چې هوښیار نه وي."
د سقراط ټینګ پلویان ځوانان وو، چې د هغه په وینا "دوی هم زیاتره په خپله زما مثال خپل سرمشق ګرځولی او له نورو څخه پوښتنې کوي... په نتیجه کې هغه خلک، چې دوی ترېنه پوښتنې کولې، له ما نه خپه دي، که څه هم هغوی دغسې نه وایي او وایي چې هلته بیرون یو افت دی په نامه د سقراط، چې

ځوانان فاسدوي." سقراط بیا وايي، چې "څه وخت چې له دوی نه پوښتل کیږي چې هغه څه کوي او څه ښودنه کوي، هغوی څه نه وايي، ځکه چې دوی هیڅ نه پوهیږي چې هغه څه کوي، خو ددې پرځای چې کم ښکاره نه شي، ټول هغوی چې عقلاني پلټنې کوي، په غټو تورونو تورن کوي." (14)
له دموکراسۍ سره د سقراط مخالفت او له السیبیا د (Alcibia des) او کریتیاس سره د هغه ملګرتوب به هم پارونې کړې وي. لومړنی د اتن هغه ارستوکرات و، چې له اتن سره یې خیانت او له سپارتا سره ملګرتوب کړی و او وروستي په اتن کې د پلي پونیز له جنګ نه وروسته د هغو دکتاتورانو له ډلې څخه و، چې سپارتا په واک رسولی و، خو سقراط هغه په دغه کار سره سخت غندلی و. دا عجیبه نه ده، چې وګړو اتنیانو به ددغو دواړو کړه د سقراط د ښوونو نتیجه ګڼلې وي. په دغه حال کې ناممعقوله نه بریښي، چې ډېرو به د اتن د عنعنوي معیارونو اخلال د سقراط د ښوونو او انتقادونو له امله ګڼلی وي.
سره له دې هم د اتن پېنځه سوه کسیزې شورا د ډېرشو رایو په توپیر سره سقراط په مرګ محکوم کړ، خو له دغه حکم نه اصلي مطلب دا و، چې سقراط به له اتن نه وتښتي او چا یې مخه هم نه نیوله، لکه چې وروسته ارسطو له اتن نه بیرون شو او که بیرون شوی نه وای، د لوی سکندر په معلمۍ سره محاکمه کېده، ځکه چې هغه اتن لا ندې کړی و. د سقراط محکومیت به له دې امله هم و، چې د هغه په وینا که تبریه هم شي له خپلې لارې به وا نه وړي.
"وطنوالو اتنیانو! زه تاسې ته بیخي ډېر احترام لرم، خو زه به نظر دېته چې د تاسو اطاعت وکړم، د خدای اطاعت وکړم او تر هغو چې زه ساه کاږم او کولی شم، زه به هیڅکله له خپل فلسفي تمرین نه لاس وانه خلم." "وطنوالو اتنیانو! تاسې به اني توس (Anitus) ته غوږ ونیسئ یا ونه نیسئ، هسې مو چې خوښه وي، یا به مې تبرئه کړئ یا تبرئه نه کړئ، هسې مو چې خوښه وي، ځکه چې زما د بل ډول

عمل کولو چانس نه شته حتی که زه څو ځله هم ومرم."[15] اني توس له يو څو نورو سره سقراط د ځوانانو په فاسدولو تورن کړی و.

د سقراط په محکوميت او مرګ کې تناقضونه ليدل کېږي، لومړی تناقض دا دی، چې "هغه وخت چې اتن سقراط محکوم کړ، له ځان سره يې رښتيا ونکړه. هغه ښار چې په آزادۍ وينا کې يې نوم ايستلی و، دغسې فيلسوف محکوم کړ چې له هغې نه له استفادې نه پرته يې بل جرم نه و کړی." د سقراط محاکمه په واقع کې د فکر محاکمه وه او دی د آزادۍ وينا او آزاد فکر لومړی قرباني د. بل تناقض په خپله د سقراط په سلوک کې ليدل کېږي او هغه دا چې هغه ټول عمر په نه مطابقت او نوښت کې تېر کړی او اوس يې له دغسې حکم سره مطابقت وکړ، چې هم هغه او هم نورو هغه ناعادل او ناسم باله[16]. دا په دغسې حال کې، چې له دغه حکم سره د هغه نه مطابقت د اتن دولت زيانمن کولی نه شو او ده په ژوندي پاتې کېدلو سره انسانانو او هم فلسفې ته خدمت کولی شو. په دې سربېره هغه يوه مېړمن، درې زامن او پيروان لرل او د هغو په نظر د هغه دغه سلوک له اخلاقي مسؤليت نه اوړه خالي کول و. په اصل کې له ژوند نه هغه هم د سقراط غوندې اخلاقي او عقلي ژوند نه تېرېدل، له بېجوړې نعمت نه تېرېدل کېږي. ددغسې ژوند د کيف له امله و، چې سقراط غريبې غوره کړې وه، سره له دې هم هغه ترېنه تېر شو. دا هم يو تناقض او نه هوارېدونکې معما ده.

د سقراط د محکوميت او مرګ له امله و، چې افلاتون د ټولنې او دولت د ښه نظم او د انسان او د هغه د فکر د ښه کولو په اړه نوي فکرونه وړاندې کړل، چې نور دولتونه هغسې و نه کړي لکه د اتن دولت چې وکړ. د افلاتون جمهوريت نومي اثر همدغو مسئلو ته ځانګړی شوی دی. بيا ارسطو، اپيکور او زينو په خپل وار همدغسې وکړل، چې د دوی ټولو د فکرونو غټ ټکي ددغه کتابګوټي موضوعګانې دي. په اصل کې دا د پولي نيز جنګ و، چې يوناني سوچوال يې وهڅول، چې

ډول ډول نوي فکري مکتبونه پرانيزي. په بل ملک کې له کوم جنګ نه وروسته نوي او ژور فکرونه هغسې ځلېدلي نه دي، لکه په اتن کې چې غوړېدلي وو. دوه زره او څلور سوه کاله وروسته د لومړي نړېوال جنګ نه وروسته کمونستان او فاشستان په واک شول، خو دوی د خپلو ايډيالوجيو په نشه کې په مليونونو انسانان له مېنځه يووړل او نړۍ يې په مخالفو کامپونو سره ووېشله. افغان ايډيالوجي پالو هم د پلي پونيز جنګ ته ورته کورنۍ جګړه کې د ايډيالوجيکي سياستونو له امله افغان ټولنه قطبي کړه او د ډېرو او بې سارو مرګونو سبب شول.
په دغه ملک کې له هغه نه وروسته نه دا چې د ټولنې، دولت او انسان په اړه رغنده فکرونه وړاندې شوي نه دي، د هغه پرخلاف په افغانانو کې عنعنوي فکرونه نور هم پياوړي شوي، چې له امله يې دوی اوس هم هغسې ازاد فکر کولی نه شي لکه يونانيانو چې دوه نيم زره کاله دمخه کاوه.

## يونان د پلي پونيز له جنګ نه وروسته

د پلي پونيز نه جنګ نه وروسته د يونان ښاري دولتي طرز مخ په ځوړ روان شو او د لرغوني يونان دوره پای ته ورسېده. له هغه پرته هم له هغه وروسته په يونان کې د اختصاص دوره پيل شوه او د ا ماتورانو دوره، چې دولت يې چلوه ختمه شوه. اتنيان هم د پولي پونيز له جنګ نه وروسته فردي شول او ښاري دولت ورته په دويمه درجه مهم شو. له بلې خوا فاتحه سپارتا هم له دېنه پاتې راغله، چې لاس لاندې دولتونه اداره کړي، سره له دې چې په هر يوه کې يې د خپلې خوښې شتمن نفوذ منان يا اليګارکان په واک کړي وو. سپارتيانو خپله ډېره زيږه څېره نورو ته ښه وښودله. "په سپارتا کې چې دوی منونکي او ساده سپماګرو وو، دباندې نه په واک او نه په پېسو کې د اعتبار وړ ګڼل کېدل. کومه هغه ازادي چې دوی يونان ته ور کړه، هغه سپارتا ته آزادي وه، چې څنګه يې غوښتل هغسې يې

زور چلوه. "(17)"

د څلورمې پېړۍ په نيمايي کلونو کې د يونان قدرت د سپارتا، تبس او اتن ترمېنځ تغيير کاوه، ترڅو په 359 کې په مقدونيې کې فليپ پاچا شو. مقدونيه د يونان په شمال کې د يو ډېر بېرته پاتې هېواد و، خلک يې چې دوري يوناني وو، د سپارتايانو په شان جنګيالي وو. پاچا فليپ په 3o8 کې يوه غوڅونکې جګړه وګټله او ټول يونان يې تر ولکې لاندې شو.

دوه کاله وروسته د هغه په مرګ سره د هغه زوی سکندر په شل کلنۍ کې د هغه پرځای پاچا شو. همدغه ځوان سکندر و، چې په خپلو بېجوړو نظامي بريو سره په ټولې معلومې نړۍ کې د لوی سکندر په نامه ياد شو. هغه نه يواځې ټول يونان لاندې کړ، د پارسي هخامنشي پراخه امپراتوري يې هم لاندې کړه او په کال 330 کې له خپل پوځ سره پخوانی افغانستان يا اريانه ته ورسېد. څلور کاله يې په اريا )هرات(، اراکوز يه )کندهار(، باختر يا بکتر يا )بلخ(، سغديانه )سمرقند(، کوفن )کابل(، خوسپه )کونړ( او باجوړ او سوات کې په جنګونو کې تېر کړل او د اباسين نه واوښت او جېلم ته ورسېد، ترڅو چې پوځ يې له ورانې تګ نه ډډه وکړه. د بلوچستان )ګدروسيه( له لارې يونان ته د تګ په لار کې يا بابل ته ورسېد او هلته په څه بانډې درې ديرش کلنۍ کې مړ شو )356_323(. دده امپراتوري له يونان نه له اباسين نه تر اخوا پورې غځېدلې وه.

## يونان او اريانه

سکندر که څه هم په اريانه کې لږه موده )څلور کاله( تم و، اثرونه يې ژور او تلپاتي شول. ډېر غټ ميراث يې د يونان باختري دولت و، چې له ميلاد څخه مخکې 256 کې د ديودوتس )Diodotus( په مشري شروع شو او څه بانډې يوه پېړۍ وروسته له مېنځه لاړ. ځای يې ساکانو )Sakas( ونيوه، چې له درې ټبرونو هاماورګه )Haumavarga(، مساګيتا )Massagetae( او تګراکس

هارده )Tigrazhaurda ( نه جوړ و. يوچيانو بيا د ساکانو ځای ونيوه او وروستی سيستان ته واوښتل. د يونان باختري واکمنۍ په وخت کې به د يونانيانو شمېر ډېر وو، چې څه باندې يوه يې واکمني وکړه. سکندر په باختر کې ډېر يونانيان ګومارلي وو، چې د باختر دېرش زره ځوانان په پوځي چارو کې وروزي. د يونانيانو او ځايي خلکو ترمېنځ اړيکي تر دې حده ښې وې، چې د نولسمې پېړۍ تاريخپوهانو "...د ټولو لرغونو مدنيتونو ښه توب په باختر کې وليد" يانې چېرته چې يونانيانو ځايي خلک "... ګټور سياسي او اجتماعي ملګري وګرځول."[18] په دغې دورې کې د اريانه اقتصاد د غومره ډېره وده وکړه، چې اريانه د زرو ښارونو هېواد په نامه ياد شو. واکمن نيکاتور په 300 کې د آی خانم ښار جوړ کړی و، چې د اتن د ښار په شان د يوې جګې غونډۍ په خواو کې حکومتي او شخصي ودانۍ لرلې او يونانيانو له هغه ښار نه واکمني کوله. دغه ښار په 1964 کې فرانسوي لرغون پوهانو لوڅ کړ، چې څرک يې پاچا محمد ظاهر ورکړی و[19]. په اريانه کې د يونان باختري واکمني کې نقره يي سکې د غومره ډېرې په چلند کې وې، چې د نولسمې پېړۍ په دريمې لسيزې کې د چارلز ميسن په نامه يوه انګلس ګرځندوی ډېرې سکې ترلاسه کړې او بيا پروفيسر ولسن د هغو پر بنسټ د لرغوني اريانه په نامه يو مستند اثر وکيښ[20].

په اصل کې سوداګري د اريانه په شتمن کېدلو کې غټ اثر لاره. مهمه دا ده، چې د اريانه خلکو لږ و ډېر د اتنيانو په شان هغه فکرونه منل، چې ورته معقول ښکارېدل. دوی د انګرېزانو تر لومړي يرغل پورې ښه پراخ نظر وو، تنګ نظر نه وو. د نولسمې پېړۍ د ټولو بانديو ګرځندويانو په نظر هغومره چې افغانان ازاد فکر وو، د اسيا بل هېڅ ولس هغسې ازاد فکر نه و.

په افغانستان کې د يونانيانو تلپاتې ميراث شايد نورستانيان وي، چې په عام نظر د سکندر له پوځ نه

پاتې دي. دوی د سکندر د پوځ بقايا نه دي، خو د نورستانيو او يونانيانو ترمېنځ دغسې ګڼ خاصيتونه شته، چې د هغو له مخې ممکن ډېر نورستانيان په اصل کې يوناني وي. سکندر څلور مياشتې )د 327 کال له نومبر نه د بل کال تر فبرورۍ پورې( په خوسپس )کونړ( او باجوړ کې د اسپه سيو )او سنيو يوسف زيو( له ډېر سخت مقاومت سره مخ شو. "په يوه نښتې کې اوږه يې په غشي سره ټپي شوه او د عملياتو په پای کې يې وضع چې ډېره ښه بيان شي، سخته عصبي به وښودله شي. په ډېرو دنګو کلاګانو يې چې يرغل وکړ، نه يې غوښتل خپل ورونه ورته بېرته کړي، ټينګ مقاومت يې کاوه. کله چې په پای کې لاس يې پرې بر شو، ټول اوسېدونکي يې ورته له تېغ نه تېر کړل."(21) په دې ډول سکندر او يونانيان او اسپه سي سره دغسې دښمن شول، چې هلته د يوناني پوځ د کومې برخې پاتې کېدلو امکان يې له مېنځه وړی و. غېر له هغه هم سکندر خپل پوځ ته ضرورت لاره او د هغه په اړه اثرونو کې هم ددې يادونه نشته چې هغه به هلته خپل سرتېري پرې ايښي وي، خو ددې احتمال شته چې باختري يونانيان د ساکانو او يوچيانو له لاسه له باختر نه ووتل او په لغمان، باجوړ او نورو سيمو کې خواره شول او بلورستان ته هغه وخت پناه وړې وي، چې په يوولسمې پېړۍ کې د سلطان محمود له خوا تر فشار لاندې ونيول شول، چې مسلمان شي او دوی مسلماني نه غوښته. وروسته دغه بلورستان د "کافرستان" په نامه ياد شو. تاريخپوه مير غلام محمد غبار ليکي: بعد ازينکه "...يونانيان برای ابد سقوط کردند عده ای از باختری های مدنی در همان محاربات اولی تخارها با باختر مغلوباً به دره های بلورستان پناه بردند و ضمناً با اهالی اميخته رسوم و عادات مدنيه باختری را بانها ارمغان دادند."(22)

دغه "مدني باختريان" هماغه يوناني اصله باختريان وو، چې د دين، رسم او رواج او ژوند طرز له مخې له ګاونډيانو نه بېل او اتنيانو ته ورته وو. دوی

هم د یونانیانو په شان، په یو لړ خدایانو معتقد وو، چې امرا یا یمرا (Yamra, Imra) په نامه خدای یې د یونانیانو د زیوس (Zeus) خدای په شان تر ټولو مشر و او اوتاه (Utah) په نامه یوه روحاني لکه د اتن او ریکلز یا مذهبي غیب ویونکي (Oracles) غونډې مذهبي رسمونه پرځای کول.
داسې هم دوی د اتنیانو په شان ښځینه خدایانې لرلې، په نامه د دایازاني (Diazani)، کروماتي (Krumati) او نیرمالي (Nirmali). د دوی د ښځو اجتماعي او مدني دریځ هم د یونان د ښځو په شان ښکته و، خو تر سختو جنسي قیدونو لاندې نه وو. هغسې چې په یونان کې مریي توب رواج و، په دوی کې هم رواج و. په دواړو ملکونو کې مریانو هم د خپلو څښتنو په کورونو کې او هم بیرون خدمت کاوه. په دواړو کې مریان کسبګر وو. په کافرستان کې لاسي صنعت د ترکانۍ په ګډون د مریانو شغل و. د امیر عبدالرحمن په وخت کې چې "کافرستان" ونیول شو، ډېرې لرګینې مجسمې ترېنه ټولې شوې، چې په کابل کې ورکې شوې. دوی هم د یونان د کسبي مریانو په شان د کار په مهال په څوکۍ یا لرګین کټګي باندې کېناستل. دغه څوکۍ په اصل کې د یونانیانو اختراع وه. په مصر او منځني ختیځ کې له هغې نه استفاده نه کېده[23]، خو په کافرستان کې له هغه نه استفاده عامه وه. بله ځانګړتیا چې یواځې په یونان او کافرستان کې یې څرک لیدل شوی، له ټولنې نه د نامطلوبو کسانو شړل وو. په اتن کې هر هغه څوک، چې فکر کېده دولت ته به زیان ورسوي، د شورا په فیصلې سره به لس کاله تبعیدېده. په کاپرستان کې یو قاتل د قومي شورا (Vrey) له خوا له ټولنې نه تر هغو شړل کېده، چې وربانديې ایښودل شوې جریمه چې درنده به وه، ادا کړي[24].
له یونانیانو سره د افغانانو په تېره د پښتنو نور مشترکات هم لږ نه دي. د ناموس کلمه یې یو مثال دی. ناموس افغانانو ته د مروجې یا دودیز

قانون په شان ارزښت لري. "د طبيعت ناموس" د طبيعت د قانون په شان په دوی کې يوه اشنا افاده ده. په يوناني ژبه کې هم "ناموس د عرف يا قانون مانا ورکوي" په يونان کې "ناموس اول په عنعني او وروسته په قانوني ډول تثبيت شو" سقراط به ويل، چې "د ښار د ناموس [قانون] اطاعت وکړئ. دا د ښه عمل کولو لار ده."[25] څنګه چې پښتو او يوناني دواړه اريايي ژبې دي، د ناموس کلمه ممکن له اول نه په دواړو ژبو کې رواج شوې وي، لکه چې په پښتو او انګريزي کې اوس هم ډېری کلمې په يو ډول يا نژدې يو ډول ويلی کېږي: تندر (**Thunder**)، وله (**Willow**)، دربول (**drub**) او ټبر (**Tribe**). بله کلمه اسپه سيان يا اسپه زيان (**Aspasians**) ده، چې په اتن کې د اسپه سيا (**Aspasia**) په شکل د پريکلس د معشوقې نوم و او په باجوړ او خوسپس (کونړ) کې د خلکو نوم وو. اسپه سي په اسلامي دوره کې يوسف زی شو، لکه ساک زی چې اسحق زی شو. اسپه سيان، چې سترابو (**Strabo**) په هسپه سوي (**Hipasoi**) ياد کړی، د سانسکرت اسواکي (**Asvaki**) نوم و، چې په اصل کې د اس په مانا له (**as'va**) نه راوتلی دی. اوس هم د يوسف زيو يو وګړي ځان ته د آسپ (**Asip**) يا ايسپ (**Isip**) وايي[26]. د سکندر بل ميراث د هغه نوم دی، چې په افغانانو کې عام دی.

کوښښ مې کړی، چې د دغه کتابګوټي په دقيق ډول په پښتو واړوم، خو په پښتو کې د نااشنا افادو، اصطلاح ګانو او کلمو دقيق ژباړل ګران دي. ستونزه دا ده، چې په پښتو کې کلمې معياري شوې نه دي، په دې وختونو کې خو ځينې په پښتو کې خپل سري هم کوي، خو ما مفهوم او کلمې يا ژبه د سوچه توب قرباني کړې نه ده او مفهومونه مې په هغو کلمو کې افاده کړي، چې په اسانۍ د پوهاوي وړ وي. د دغه اثر په کال **1972** کې د امريکې په کليفورنيا کې د ډايبلو خپرونکې مؤسسې له خوا خپور شوی و.

له دغه کتابګوټي سره مې د پروفيسر جيمز راکيلز

( James Rachels ) له يوه اثر "فلسفي مسئلې" څخه دوه څپرکي هم مل کړي، په نامه د "سقراط ميراث" او "مونږ ولې بايد اخلاقي اوسو؟"[27] دغه څپرکي د کتابګوټي د اصلي موضوعګانو په اړه انتقادي بحثونه دي، چې هيله ده له لوستونکو سره به د موضوعګانو په پوهاوي کې مرسته وکړي.

محمد حسن کاکړ
مارچ 2010

## یادښتونه:

1. چارلز ډورن، د پوهې تاریخ، بالنټاین کتابونه، نیویارک، 1991، 184
2. د کولمبیا دایرة المعارف، د یونان دین، د کولمبیا پوهنتون، پېنځم چاپ، 1993، 1138
3. وارن هولسټر، د لویدیځې عنعنې ریښې، د پخوانۍ نړۍ لنډ تاریخ، الفربډناف، نیویارک، 1982، 78.
4. اچ. کیټو، یونانیان، د پنګون خپرونه، 1957، 71
5. پاسنی اثر، 72
6. پاسنی اثر، 78
7. پاسنی اثر، 89
8. پاسنی اثر، 98
9. پاسنی اثر، 101
10. سي. وج وود، د زمان غنیمتونه، له پخوا نه تر شپاړسمې پېړۍ پورې د نړۍ تاریخ، فینکس خپرونه، لندن، 1984، 78. کیټو، یاد شوی اثر، 132
11. هولسټر، یاد شوی اثر، 83
12. پاسنی اثر، 87_91
13. پاسنی اثر، 99
14. افلاتون، د سقراط، یوتیفرو او کریټو دفاعیه، ډي ووډ ګالپ ژباړونکی، اکسفورډ پوهنتون خپرونه، نیویارک، 999، 32_35
15. پاسنی اثر، 43_44
16. ای. سټون، د سقراط محاکمه، براون او ملګري، بوسټون، 1988، 184، 191، 197
17. کیټو، یاد شوی اثر، 152
18. فرانک هولټ، تندر و هونکی زیوس، د یوناني باختر جوړونه، کلیفورنیا پوهنتون، لاس انجلس، 1999
19. پټ افغانستان، د پیسر کامبون تر ځارنې لاندې، خپرونکی او د خپرېدو کال او ځای نامعلوم، خو دغه خپرونه د لرغوني افغانستان د ای خانم، طلا تپه، بګرام او نورو په اړه مصور او مفصل معلومات ورکوي.
20. اچ. ولسن، لرغونې اریانه، اسیایي پوهنیز خدمتونه، نوې دهلي، 1998. د لومړني چاپ فوټوکاپي.
21. ارین، د سکندر یرغلونه، د سیلنکورت ژباړه، پنګون خپرونه، 1971، 241. پیترګرین، د مقدونیې سکندر، تاریخي

بیوګرافي، کلیفورنیا پوهنتون خپرونه، 1992، 382.
22. میر غلام محمد غبار، جغرافیای تاریخی افغانستان، مرکز نشراتی میوند، پشاور، 1999، 137
23. وج ووډ، یاد شو اثر، 76
24. محمد حسن کاکړ. د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاري، 1863_1901. برل خپرونه، 2006، 142. ج رابرټسن، د هندوکش کاپران، لندن، 1895. دغه اثر د کاپرستان د عنعنوي جامعې په اړه ډېره مهمه سرچینه ده. لیکونکی یې پخوا له دې چې کاپرستان په 1896 کې فتح شي، دوه ځلې هلته تللی او تر یوه کال نه زیات هلته اوسېدل او دغسې قیمتي معلومات یې د هغه د خلکو او ټولن په اړه ترلاسه کړي، چې جوړه نه لري.
25. د سقراط محاکمه، یاد شو اثر، 201
26. لویس کمنګز، لوی سکندر، ګروف خپرونه، نیویارک، 1968، 318، 323.
27. جیمز راکیلز، فلسفي مسئلې، نیو مک هراهل، نیویارک، 2005، 1_9، 170_185

# سریزه

زما په نظر ددغې لیکنې )د کلاسیک ایډیال ښه انسان( مقصد له هغو اساسي مسئلو سره سر خوري، چې زموږ اوسنۍ صنعتي ټولنه ورسره مخ ده.
ددغې ټولنې په تحول کې ماده، نه انسان، زموږ د توجه محراق دی او د هغې محصول ساینس او تکنالوجي زموږ مادي اړتیاوې او غوښتنې په اوله درجه پوره کوي، خو په غاړو کې یې موږ که څه هم په ناڅرګند ډول مومو، چې یوه نوې ورځ هم په ټوټې‌دو کې ده، چې هلته شخصیت یو ځل بیا مرکزي مقام ته په رسېدلو کې ښکاري. د جنګ د بحران په فضا کې زموږ اخلاقي ارزښتونه او معیارونه د بیا ارزونې تر عملیې لاندې راغلې او دا هغه بحران راپه زړه کوي، چې د یونان فیلسوفان یې وهڅول، چې د اتن او سپارټا ترمېنځ د اوږده دردوونکي جنګ په بهیر کې په موجودو اخلاقي معیارونو باندې بیا نظر وکړي.
هغه څه چې دغو فیلسوفانو انسان خیال کاوه او هغه څه چې انسان باید د دوی په فکر هغسې وي، زموږ په نظر موږ ته سرمشق کېدلی شي. موږ له هماغو عمومي مسئلو سره مخ یو او هغه موخه غواړو چې افلاتون یې بیان کړی دی او هغه دا چې دغسې ګډې ټولنې ته انکشاف ورکړو، چې د نژاد، ملیت یا جنس له حدودو څخه واوړي او په هغو اجتماعي محرکاتو او ګډ نظر سره یو موټی شوی وي، چې په ژوندانه کې ښه او ښکلی وي.
ددغې لیکنې فکر هغه وخت راته پیدا شو، چې په دې نژدې وختو کې په اګورا )**Agora**( یا د پخواني اتن په بازار کې په یوه ځای کې ودرېدلم، یانې چېرته

چې سقراط په خلکو کې ګرځېده او ورته يې ښوونه کوله او د ښه والي د ماهيت او ښېګڼو په اړه يې ترېنه پوښتنې کولې.

په دغسې مهمې موضوع باندې د رڼا اچولو څه ښه مناسب ځای د اکراپولیس ( Acropolis ) غونډۍ په ډډه کې د اتیکا ( Attica ) د لمر د زرينو وړانګو لاندې، چې د پارتینن ( Parthenon ) معبد ښکلې ماڼۍ د تاج په شان ځلېده، چې د عقل الاهې اتینا ( Athena ) ته ډالۍ شوې وه.

د دوه نيم زره کلونو په اوږدو کې مې د سقراط شته والی حس کاوه او د هغه اواز مې اورېده، چې له ما نه يې هم هماغه پوښتنې کولې. بيا مې نو وپتېيله، چې معلومه کړم هغه او د هغه شاګردانو څه ډول ښوونه کوله.

دد غې ليکنې په کښلو کې زه د لومړي والي يا انتقادي پوهې ادعا نه کوم، دا مې هم مقصد نه دی چې ځان په وچ فلسفي بحث بوخت کړم. دلته مې زيار ايستلی، چې عام لوستونکي د يونان د پراخې او پېچلې او کله کله د کړوونکو فلسفي فکرونو په ډګر کې د ګرځېدلو په وخت کې له ورک کېدلو نه وژغورم.

په خاص ډول مقصد مې دا دی، چې د يونان د اخلاقي فيلسوفانو نظرونه او معيارونه چاڼ کړم او چې څومره کولی شم، هغه اسان او روښانه کړم، بې له دې چې جوهر يې قرباني شوی وي.

دا داسې يوه دنده ده، چې غټ زړه غواړي، خو زه حاضر يم دغه خطر ومنم، ځکه زه عقيده لرم چې ښه دا ده چې د يوناني فيلسوفانو ښوونې نظر دېته چې څراغ يې د يو څو پوهانو ذهنونه روښان کړي، د ډېرو فکرونه روښان کړي. زه په هغو ستونځو هم ښه پوهېږم، چې په هغه کوښښ کې نغښتې دي، چې د ډېرو اثرونو منځپانګې په يوه کتابګوټي کې په لنډ ډول بيانېږي او هيله کوم چې زما دغه کرښته ژباړه به د افلاتون ايډيا او ادبي سلوک لوړ روح، رڼه ښکلا او درنښت ټپي نه کړي.

البته د يونان د فلسفې تحليلونه په هر ښه

کتابتون کې موندل کېدلی شي، خو د هغو ډېر یې د پوهانو له خوا د پوهانو لپاره دي. که د غه اثر کومه ښېګڼه ولري، هغه زما د غه څرګند مقصد دی چې لوستونکو ته خدمت وکړم. زما مقصد دا هم دی، چې د هغو یوناني فیلسوفانو ښوونو ته توجه وشي، چې دغې پوښتنې ته یې ځواب وایه، چې د ښه انسان خاصیتونه کوم دي؟.

زما د معلوماتو سرچینې په لومړۍ درجه د سقراط، افلاتون، ارسطو، ویناوې او لیکنې دي، چې د اخلاقي فلسفې درې ستر معماران دي: د فیساغوري (Pythagorian)، رواقي (Stoic) او اپیکوري (Epicurian) ښوونځیو فلسفې پکې په لنډ ډول ذکر شوی دی. کوښښ مې کړی له اصلي "موضوع نه بیرون نه شم" خو دلته او هلته څه وخت، چې کلاسیکي اخلاق له عیسوي اخلاق سره سر خوري، یا هغه وخت چې زموږ تر بحث لاندې موضوع پورې یې اړه لرله، له دغې هڅې نه مې ځان ژغورلی نه شو، چې لنډې تبصرې وکړم.

یونانیانو انسان د انتروپو (Anthropo) په کلمه، نارینه د آنر (Aner) او ښځه د جېن (Gyne) په کلمو یادول زموږ پرخلاف، چې د مین (man) کلمه د دواړو لپاره په کاروو، نو زه د انتروپو مفهوم یا د (مین) یا هي (he) په کلمو یادوم. که ماته وویل شي، چې په لرغوني زمانه کې د ښځې ځای د ننه په کور کې و، نه په ذهنو نو یا د فیلسوفانو په شوراګانو کې، زه به لوستونکي ته د افلاتون جمهوریت په یاد کړم. د جمهوریت په یوه ډایه لاګ کې یو چا شکایت کړی، چې که ښځې د دوی په ډله کې راوړلی شي، چې زده کړه وکړي چې د دولت ساتونکي شي، دوی به له خپلې ساحې نه بهر شوي وي. افلاتون ځواب ورکوي، چې په ټولنې کې د یوه چا شخص مقام باید د هغه په ظرفیت او د وړتیا پر پرنسیب وټاکل شي، نه د هغه د جنس پر بنسټ.

پر هغه سربېره باید په یاد ولرو، چې نومیالۍ اسپه سیا (Aspacia)، د پریکلس رومانتیکي او د

سقراط فکري ملګرې وه، چې ساپ هو ) Sappho ( بذمې شاعره وه، چې ايفي جينيا ) Ephegenia ( ، ايليکترا ) Electra ( او انتي ګان ) Antigone ( د يونان په تراجيديو کې مرکزي رول لوبولی دی، چې هيرا ) Hera ( ، ارتمس ) Artemis ( او افرودايت ) Aphrodite ( د يونان خدايانې وې او چې اتنا ) Athena ( د عقل الاهه او د اتن ساتونکې بزرګه وه.

د يوناني فيلسوفانو د اثرونو ښې ترجمې په انګريزي کې ډېرې دي او يو شمېر ښه تفسيرونه يې هم شته، خو هغه ځوک چې په يوناني ژبه غږېږي، پوهېږي چې دغه ژباړې دقيقې نه دي، نه له دې امله چې د کلاسيک پوهانو د يوناني اصطلاح ګانو رښتيني مفهومونه درک کړي نه دي، خو د هغو ستونځو له امله چې له يوې ژبې نه بلې ژبې ته د يوه فکر انتقال، چې په بېل چاپېريال کې يې وده کړې وي، حتی د هم مهالو اثرونو په ژباړلو کې يو ځوک بايد هم په لغت او هم د هغه په تاريخي او کلتوري چاپېريال پوه وي، چې هغې اصطلاح پکې وده کړې ده. د بېلګې په ډول د "Segeration" لغوي مانا له يوې ډلې نه د بلې ډلې بېلوالی دی، خو په امريکې کې چې دغه کلمه اوس يادېږي، جذبه پاروي. هغه زموږ د وخت د نژادونو د مبارزې تداعي کوي، چې جذباتي اثر يې د هغه له قاموسي مانا څخه ډېر توپير لري او يو ليکوال به څنګه د روز ولت د وخت "New Deal" په مانا لرونکې فرانسوي واړوي، يا د "Establishment" اصطلاح، چې زموږ ځوانان يې نن ورځ کاروي.

څه وخت چې موږ له هغو اصطلاح ګانو سره سر او کار لرو، کومې چې يوناني فيلسوفانو دوه نيم زره کاله دمخه په کارولې، د ژباړونکي دنده د وخت د تېرېدلو او د اصطلاح ګانو د مانا د تغير کولو له امله هغسې چې زموږ اوسنی تفکر پرې پوهېږي، لا هم ګرانېږي. پر دې سربېره ځينې مجرد مفهومونه هم شته، لکه هغه چې افلاتون يې راوړي، چې حتی هغه په

خپله هم د هغو مانا بې د استعارو له استعمال نه افاده کولی نه شو، یانې هغه یوناني اصطلاح چې په عمومي ډول په بدیعي صنایع یا ) Figure of Speech ( ترجمه کېږي.
ددغو ټولو دلیلونو له امله هغه وخت، چې ما له اصلي سرچینو نه استفاده کړې، کوښښ مې کړی چې خپلو لوستونکو ته د لیکوالو د نظرونو روحیه او رښتینې محتوی شرح کړم، که څه هم ځینې وخت اړ شوی یم ددغسې اصطلاح ګانو لکه عدالت او ښېګڼې )فضیلت( د شرح لپاره له یوې فقرې څخه کار واخلم. ما له دغسې تېروتنو نه د ژغورلو په مقصد د هغو لپاره چې غواړي خپله ځېړنه پرمخ یوسي، اصلي یوناني کلمه په انګرېیزي کې هم راوړې. څنګه چې ما د یوناني فیلسوفانو له اثرونو نه په نېغه استفاده کړې او څنګه چې هغه مې ددغې لیکنې په متن کې یاد کړي دي، د لمنلیکونو له ورکولو نه مې ډډه کړې ده.

## لومړی څپرکی

# د سقراط او افلاطون په وخت کې

که هغه سیاسي او ټولنیز چاپېریال، چې یوناني فکر پکې وده وکړه، پوره شرح کړم دغه لیکنه به له حد نه ډېره اوږده شي، نو دلته به پرځای یې یوه لنډه لیکنه وړاندې شي. له میلاد څخه مخکې د څلورمې او پېنځمې پېړۍ په بهیر کې چې اخلاقي فلسفې وده وکړه، یانې هغه وخت چې پوښتنې وشوې او ځوابونه واورېدل شول، چې انسان څه ته وایي او انسان باید څنګه وي؟ د یونان مدنیت له تور سمندرګي نه د جبل طارق تر تنګي پورې غزېدلی او ]دغه فکر عام و چې[ **Pas Me Hellen baroros** یانې هغه څوک، چې له یونان څخه نه دی بربر ( **barbarian** ) یانې بېګانه دی. فیلسوف ای سوکرات ( **Isocrates** ) په دې فکر و، چې اتن د هیلن ( **Hellen** ) کلمه ایستلې "نه د نژاد بلکې د ذهني سلوک" په مانا، نو بېګانه هغه چاته ویل کېده چې د اتنیانو د ژوند له روحي طریقې نه بېګانه و.
سکندر د ارسطو شاګرد او د هغه ځای ناستو یوناني ژبه او کلتور د نیل له سین نه د اباسین تر سین پورې خپور کړ او وروسته، چې رومیانو یونان ونیوه، هغوی په خپل وار په یونانیت ( **Hellenism** ) سره جذب شول: د یونان هنر، ادب او فلسفه یې د خپل مدنیت بنسټ وګرځول او په شمال کې یې آن تر برتانیې پورې په خپلو مستعمرو کې مروج کړ.
په لویدیځې اروپا کې د یو څه وخت لپاره تیاره خپره شوه، خو د قسطنطینې له نسکورېدلو نه وروسته هغه وخت چې د کلاسیکي ښوونو څراغ، چې د بیزانس خلکو روښانه ساتلی وو، د

رنسانس ( Ranaissance ) انسان پالو ( Humanists ) ته په لاس ورغی، وړانګو یې یو ځل بیا ټوله لویدیځه نړۍ د امریکې د وچې په ګډون روښانه کړه.

یونانیان په پولیس ( Polis ) کې اوسېدل، چې د مناسبې کلمې په نه شته والي سره هغه موږ په ښاري دولت ( City-State ) ژباړو. د اتن ښاري دولت چاپېر یو شمېر کلي پراته وو، په یونان کې یو شمېر ښاري دولتونه وو او هغه ټول د وګړو او ساحې په لحاظ د نن ورځې په معیار واړه وو. مریي توب یوه منل شوې مؤسسه وه او په یو شمېر ښاري دولتونو کې د مریو شمېر له آزادو اصلي غړو ( Citizens ) نه ډېر وو، خو د یونان مریان د امریکې د متحدو دولتونو د لویدیځو ایالتونو یا دولتونو له داخلي جنګ نه دمخه مریو سره پرتله کېدلی نه شي. ډېر مریان په اصل کې یونانیان وو او ډېر یې تعلیم کړي کاسبان وو، چې د ارسطو په وینا د بادار په کورنۍ ژوند کې شریک وو. په دې اړه به وروسته نور هم وویل شي.

اتن د ډموکراسي زانګو وه، شورا چې قانونونه یې ایستل له ازادو یونانیانو نه جوړه وه. دا یوه نېغه دموکراسي وه، نه تمثیلي دموکراسي، چې موږ یې په امریکې کې لرو، یانې چېرته چې قانونونه د خلکو د استازو له خوا جوړېږي. د اتن شورا واکمنان ( archons ) هم غوره کول، چې د اجرائیوي کسانو یا حکومتي چارواکو په شان یې خدمت کاوه. دوی په رایو سره له کار نه ګوښه کېدلی شول. پریکلس دغه امتیاز لاره، چې په وار وار د ارکان په شان غوره کېده او یو دېرش کاله یې چارواکي وکړه. دا یو عملي سیستم و، ځکه چې په هر دولت کې شکېل ازاد تبعه لږ وو او په حکومت کې د هر آزاد تبعه ګډون حتمي دنده وه. په واقع کې د فارغ وخت لپاره ضرورت چې په مدني چارو کې برخه واخیستله شي، د مریي توب طرز لپاره یو دلیل و.

اتن په واقع کې په ټولې یوناني نړۍ کې سیاسي، کلتوري، اقتصادي او مذهبي مرکز و. د وینا آزادي

که څه هم ځینې وخت تربنه ناوړې ګټه اخیستل کېده، فردي حقونو ته درناوی تبدعه وو ته اجازه ورکوله چې پوښتنې وکړي، اعتراض وکړي، د رښتین توب لپاره څېړل وکړي او سوچ وکړي. ددې لپاره چې دغه آزادي او دغه کلتور د ختیځ استبداد (**Oriental despotism**) له یرغلو نو څخه وژغورل شي، یونانیانو د پارس د پراخې امپراتورۍ له پوځونو او سمندري ځواکونو سره په مره تان (**Marathan**)، سه لامي (**Salamis**) او پلاټي (**Platea**) کې وجنګېدل او په شا یې کړل او د باربرزم څپې یې اروپا ته پرې نه ښودلې. په مره تان کې د سپارتا د مرستې جلبلولو لپاره و، چې د فیدي پیدز (**Phidippides**) په نامه یوه ځوان په دوه ورځو کې یو سل او څلوېښت میله وځغستل. د اولمپیک په لوبو کې ځغاسته د یونان د ښېګڼې لپاره د هغه د حېرانوونکي عمل یادګار دی.

د انسان په تاریخ کې دا یوه معجزه ده، چې دغسې یو ووړ غرنی هېواد په خپل واړه جمعیت سره، هغه هم په لنډمهال کې د سترو دماغونو یوه لړۍ تولید کړي: فیلسوفان لکه سقراط، افلاتون او ارسطو، سیاستماران لکه سولون، لیکرګوس (**Lecurgus**) او پریکلس، ډرامه لیکونکي لکه اشیلوس (**Aeshylus**)، سافوکلز (**Sophocles**) او یوروپیدز (**Euripides**)، تاریخپوهان لکه هیرودوت او تاسیدایدز، هنرمنان لکه فیدیاس (**Phidias**) او پرکسي ټیلز (**Praxiteles**)، معماران لکه اکټینوس (**Ictinus**) او کالي کریټس (**Cali crates**) او یوه ډله نور...

آزادي، دموکراسي، د انساني حیثیت او رښتین توب موندلو پلټنه په یونان کې هسکه شوه او یونانیان د رښتین توب لپاره له پلټنې نه نه وېرېدل، که څه هم پای یې هرڅه وي. یهودي پوه سان پال (**Saint Paul**) د عیسی د نوي انجیل لپاره حتی د خپلو خلکو له خوا ووهل شو او بندي شو، خو په اتن کې هغو هغه د اکراپو په ډډه کې اریوپاګس (**Areopagus**) ته بوته او وویل، چې راځئ پوه شو چې دغه سړی څه فکر

کوي؟ هغه څه چې سان پال ویلي د نوي انجیل په اکټونو (Acts) کې خوندي دي.

مصر که څه هم تر یونان نه ډېر لرغونی دی، مدنیت یې د تقلید لپاره کم څه لري. د مړي کفن د لرغونو مصریانو ژوند تر سیوري لاندې نیوه او یوه یوازې مذهبي ډلو ته ځانګړې وه. د ژوند لپاره لېوالتیا د یونانیانو ذهن روښانه او دوی د پوهې څراغ لوړ نیوه، ددې لپاره چې ټول یې وویني. څه وخت چې کوم مصري ځوان غوښتل په څه پوه شي، خپل دیني عالم ته ته او هغه له ژوند نه د وروسته نړۍ په اړه ورته ګړېده. څه وخت چې کوم یوناني ځوان غوښتل "د چا دماغ وتخنوي" هغه سقراط ته ته او هغه د ښېګڼو په اړه ورته ګړېده. مصریانو د مړو لپاره هرمونه ودان کړل، یونانیانو د ژوندیو لپاره تیاترونه جوړ کړل. موږ ته د مذلو وړ نه ښکاري، چې د پریکلس په وخت کې یونان خپلو تبعه وو ته پیسې ورکولې، چې د سافوکلز او یوري پیدز ډرامې ننداره وکړي. هېڅوک باید له دغه چانس نه محروم نه وي، چې ننداره یې وکړي، که څه هم په خپله یې د ننداره کولو توان ونه لري. تیاتر د زده کړې او ساعت تېرۍ لپاره یوه وسیله وه، د ټولنې آئینه چې د هغې د ټولو ښېګڼو او هر دم خیالیو او بدیو انعکاس کوي.

"یونانیانو د هغه لپاره یوه کلمه لرله" هغه افاده وه، چې د کارونې ډګر یې پراخ دی. موږ په خپل کلتور کې ډېر عنصرونه له هغو څخه په میراث وړي دي. د بېلګې په ډول فلسفه، میټامیټکس (ریاضیات)، بیالوجي، فزیک، کمیډي، تراجیډیو ایتکس (اخلاقیات)، پالیټکس (سیاست پوهنه)، ایکانامیکس (اقتصاد) ټول یوناني نومونه دي او په زرګونو داسې نور... څه وخت، چې روسانو وغوښتل هغوی ونوموي چې د ځمکې شاوخوا وګرځېدل، دوی دوه یوناني نومونه واخیستل: کوسموس (Cosmos) چې مانا یې نړۍ ده او ناټس (Nautes)، چې د ګرځنده مانا لري او هغوی یې

کازمونات ) Cosmonautes ( یاني د نړۍ ګرځندویان وبلل. امریکایانو د استرو ) Astro ( کلمه چې مانا يې ستوري دي او ناټس ) Nautes ( کلمې په کار کړې او هغوی یې استروناټ ) Astronauts ( ونومول. هو، یونانیانو هم د ډېر پخواني او هم د ډېر عصري لپاره، چې بیان یې کړي، لغت لاره. په همدې ډول لکه چې وبه لیدل شي کومې هغه مسئلې، چې دوی د خپل سیاسي او ټولنیز ژوند لپاره غوره کړي، په اویاومې لسیزې کې د امریکې ټولنې لپاره هم مسئلې دي.

د پېنځمې پېړۍ د پریکلس عصر د اتنیانو د سیاسي نفوذ او کلتوري پرمختګ ډېره لوړه هسکه په نښه کوي. د پلي پونیز جنګ، چې ورپسې راغی، د هغه د مخ په ځوړیتوب نښه ده. د ورور وژنې دغه جنګ، چې له میلاد څخه مخکې په431 کې پرې پیل وشو، د دوو سترو سیالانو ) اتن او سپارتا ( او د هغو د متحدانو ترمېنځ و، چې اوه ویشت درد ناک کلونه اوږد شو. اتنیان او سپارتایان که څه هم تر هغه دمخه د پارسیانو په شړلو کې سره یو موټي شوي وو، همدا چې د ختیځ د استبداد خطر شنډ شو، د یونان د مشرۍ لپاره سره په سیالۍ شول. د نورو علتونو نه پرته هم د دوی ترمېنځ نښته، زر یا وروسته راتلونکې وه، ځکه چې بل دوه دولتونه په خپل اجتماعي تنظیم او ژوند کې دغومره سره مخالف نه وو، لکه دوی چې وو. اتن نړۍ وال ) Cosmopolitan (، د سوداګرۍ منځی، سمندري ځواک، د مدیتراني له ټولې نړۍ سره په پوهاوي کې، د روښانتیا او راحت ښار، د هنر، ادبیات او فلسفې مرکز، یو دینامیک آزاد دموکراتیک مرکز و. له بلې خوا سپارتا، ګوښه، په وچه محاط، کرنیزه ټولنه، نظامي قدرت او په کلتوري لحاظ ځای پرځای ولاړ و او ددغې ځپونکې ارستوکراسۍ له خوا اداره کېده، چې له خپلو غړو نه یې سختې، یوشانې توب او بې ګړو بېره اطاعت غوښته.

اتن وروسته له هغه، چې په 404 کې په

هلسپانټ (Heeles pont) کې يې سمندري ځواک تباه شو او د خوړو سرچينې يې بندې شوې، سپارټا ته تسليم شو، خو د جنګ په پای کې دواړه خواوې پوره ستړې شوې او انساني او مادي قوتونه يې برباد شوي وو. له دواړو خواوو نه په زرګونو ښه انسانان تلف شول او په زرګونو نور، چې د اتن په دېوالو کې دننه د ژغورل کېدلو لپاره ټول شوي وو، له وبا نه تبآه شول، چې په هغو کې پريکلس هم و.

د اتن د ژوندانه په دغه بحران کې يانې په دغسې دوره کې، چې د انسانانو روح يې ازمويه، هوښيارو کسانو د رښتين توب او راحت په پلټنه فلسفې ته مخه وکړه او د اخلاقي معيارونو په بيا ارزونې پسې يې پښې لوڅې کړې، چې د جنګ او نښتو په کړکېچ کې فاسد شوي او له منځ نه تللي وو.

هغه فضا او ذهني چلند، چې د پلي پونيز د جنګ په وخت کې مسلط و، زموږ له هغې اخلاقي فضا او ذهني چلند سره ډېر ورته والی لري، چې د ويتنام جنګ په امريکې کې راوستلی و. په يونان کې يوه ځلانده تاريخپوه تاسيدايدز د جنګ فضا انځور کړې. ده د پلي پونيز په جنګ کې ژوند کاوه او ليدل يې چې جنګ د يونان په کرکتر څه کوي. د هغه د پلي پونيز جنګ تاريخ په درېيم کتاب کې راغلي، چې:

"ټولې يوناني نړۍ وسله جګه کړې وه او په هر ښار کې پاڅونونه وشول. په دغه مقصد چې د يوه يا بل لوري مخالفو په قطار کې ودرېږي... انساني قوي احساسات وپارېدل او عقل او سالم پرنسيپونه نور نو د هغو له ادارې نه عاجز شول.... حتی د لغتونو مانا اوس تغير وکړ، خلکو يو څه ويل خو مقصد يې بل څه و. د هرې خوا مشرانو ددې لپاره چې خپل چلند په حقه وښيي د ريا شعارونه ورکول... د فکر کولو او ټالولو لپاره هره مشوره په بې زړه توب تعبيرېدله، په داسې حال کې چې تجاوز زړه ورتيا ګڼل کېدله. هر هغه چا د يوې موضوع ټول اړخونه په نظر کې نيول او د اعتدال لار يې نيوله، د عمل سړی نه ګڼل کېده... جنګ د تشدد ښوونکی شو او هغو چې

په تشدد ټینګار کاوه، د اعتماد وړ ګڼل کېدل. په داسې حال کې چې هغو چې مخالفت یې کاوه تر شک لاندې راتلل. د بري لپاره مبارزه کې هېڅ خوا له هېڅ څیز نه دریغ نه کاوه او نه یې له ډېرو حیوان ډوله جرمونو نه ډډه کوله. انسانانو د انسانیت قانون تر پښو لاندې کول، ددې لپاره چې له نورو نه انتقام واخلي. ټولنه په دوه سره بې اعتمادو دښمنو ډلو ویشل شوې وه او پخلاینه یې ناشونکې شوې وه. ټینګه لېوالتیا د وطنپالونکي علامه وه او چې د دښمن په برابر کې په هرې وسیلې سره توطیه وشي، د ځان قانوني دفاع ګڼل کېدله."

افلاتون په حقه و، دا سقراط نه و چې د ځوانانو ذهنونه یې فاسد کړي و، دا په خپله ټولنه وه چې په جنګ سره ککړه او حېواني شوې وه. هغه څه چې له مېنځه وړل شوي و، اوس باید له سره ودان شي. د ژوند نوې فلسفه او انساني ارزښتونه باید هسک شي.

# دویم څپرکی

## سقراط _ کلاسیک ښه انسان

د ښه انسان د مشخصو خاصیتونو له بیان نه دمخه غواړم د ځینو یوناني فیلسوفانو فکرونه، د ښه والي په اړه د هغو نظرونه او په دې هکله، چې ښه انسان باید څنګه وي؟ د هغو عمومي ایډیاګانې وړاندې کړم. له سقراط نه په دغه بحث پیل کوم، چې د ښه انسان سرمشق دی.
ارسطو خپل د نیکوماکوس اخلاقیات )چې زوی یې نیکو ماکوس تنظیم او تدوین کړي و(، داسې پیل کوي:"فکر کېږي چې د هر هنر او هرې مطالعې یا څېړنې او داسې هم د هر عملي تشبث مقصد ښه والی )agathon( دی، نو په دې ډول... د ټولو څیزونو مقصد د ښه توب په لور وي." ارسطو په دې ډول وینا د خپل استاد د ښه والي نظر تاییدو، چې ښېګڼه )فضیلت( د شته والي دلیل دی او دا چې د ټولې پوهنې موخه د ښه والي پوهه ده.
یونانیان لومړي کسان وو، چې دغه موخه درک کړي چې نن ورځ د عمومي پوهنې )General Education( په نامه یادېږي، چې نظر دېته چې ساینس پوه یا تخنیک پوه ته ښوونه وشي، انسان ته پوهنه وشي. دوی د انسان په ارزښت او درنښت عقیده لرله او فیلسوفان یې په دغه فکر وو چې د انسان نهایي لوړه موخه )telos( دا ده، چې خپلو ټولو ظرفیتونو ته انکشاف ورکړي، نه یواځې خپلو خاصو مهارتونو ته. افلاتون په خپل قانونونه )Laws( نومي اثر کې دغې پایلې ته رسېدلی و، چې هغوی چې په ښه ډول ورته ښوونه وشي، په عمومي ډول ښه انسانان کېږي، ځکه چې هېڅ انسان بې له عقل نه په کار اخیستلو سره ښه کېدلی نه شي

او هېڅوک بې له پوهې نه عقلي قدرت ترلاسه کولی نشي. افلاتون په خپلې دغې وينا سره د خپل استاد د فکر انعکاس کاوه، چې ويل يې "ښېګڼه )يا فضيلت( پوهه ده." د "په ښه ډول زده کړې" کلمو ته ځير شي، ځکه چې يونانيان له موږ سره موافق وو، چې "لږه پوهه يو خطرناک شيز دی."
فيلسوفان سره موافق وو، چې ښه والی يو ارام حالت نه دی، يوازې د بدۍ نه شته والی، بلکې مثبت خاصيت دی يانې هغه چې د انسان په چلند او کړو کې ځرګندېږي. دا چې او سئ او وکړئ د ښه والي دوه حالتونه دي. پر دې سربېره ښه کړه بايد د ګټې په مقصد ونه هڅول شي، ښه محرکه ښو کړو ته مخکېنی شرط دی او د ښه والي جايزه له ځان سره لري، ځکه چې ښه انسان يو نېکمرغه انسان هم دی.
د ارسطو وينا ده، چې "انسان يو سياسي حيوان دی." مانا يې دا ده، چې انسان په يوازې ځان نه، بلکې په ټولنې کې ژوند کوي. د هغه کرکټر او سلوک په هغو ټولنيزو دودونو، قانونو او مؤسسو سره جوړېږي، چې د هغو لاندې ژوند کوي. بيا نو موږ لومړی اړ يو وټاکو چې د ښه او نېکمرغه ژوند شرطونه کوم دي؟. اخلاقيات او بيا دغسې حکومتي طرز وټاکو سياست چې په پوهې او نورو مناسبو شرطونو سره تنظيم شوی وي، چې انسان قادر کړي چې ښه انسان ترېنه جوړ شي. افلاتون يو اثر وکيښ په نامه د "جمهوريت" او په هغه کې يې د اجتماعي نظم يو پوره مطلوب پلان وړاندې کړ، په دغه مقصد چې عدالت، آزادي او د انساني استعداد انکشاف پکې په ډېر ښه ډول تضمين شوی وي، په داسې حال کې چې ارسطو په خپل سياست ليک ( **Politics** ) اثر کې د يو شمېر ښاري دولتونو اساسي قانونو ته وکتل، په دغه مقصد چې د ښه کرکټر د انکشاف کوم يې ډېر ښه مناسب دی. په څلورم څپرکي کې به په دغې موضوع نور هم بحث وشي.
تر دغه ځايه د ليکنې لنډيز دا کېږي: د يونان اخلاقي فيلسوفان په دې فکر وو، چې د انسان نهايي

مقصد د مثبت ښه والي ترلاسه کول دي، چې هغه په خپل عقل سره وده کوي، پوهه یې تائیدوي، په دغسې ټولنیز چاپېریال کې چې ښه والی پرمخ بیایي.
له سقراط نه دمخه فلسفې په عمده ډول له تیوګاني (Theogony) سره سر او کار لاره یانې د خدایانو له سرچینې او کرکټر او کاسمولوجۍ (Cosmology) د مادي جوړښت او د فزیکي کاېناتو له سرچینې او کار کولو سره. فیلسوفان د تالیس (Thales) له وخت نه په خاص ډول هغوی چې د یونان په ایوني مستعمرو کې اوسېدل، د یوه واحد عالمي څیز په لټه کې وو، لکه هوا، اور یا اوبه چې په طبیعت کې یې ټول ډولونه او تغیرونه په بې اختیار ډول تولیدول.
داسې هم له سقراط نه دمخه عام اخلاقیات، چې په عمومي مشاهدې او تمرین سره یې قانوني قدرت حاصل کړی و، د قانون_ایستونکو په شخصي صلاحیت ولاړ و، چې هغوی خدایان یا انسانان وو. دا چې هغه چا ویلي و ډېر مهم و نظر و دېته چې څه یې ویلي و.
په هغو وختونو کې د یونان خدایان د دولتي دین برخې وې، چې په جشنونو کې یې رعایت کېده، نو د دوی قانونو د اسماني سرچینې حیثیت غوره کړی او په یوه مفهوم یې د خدایانو اراده تمثیلوله.
له میلاد څخه مخکې د پېنځمې پېړۍ په نیمایي کې یو نوی آواز واورېدل شو، د سقراط اواز. مونږ د افلاتون او زنه فون (Xenophon) له لیکنو نه داسې پوهېږو، چې سقراط غټ انسان و، له بدرنګه خو زړه سواندي مخ سره، له پراخو خواخوږیو او بې شانه سادګۍ او پوره رښتین توب سره. دی دغومره غریب و، چې له زړو جامو نه پرته یې بل څه نه شو اغوستلی او پښې ابلی به روان و، چې په تاوده موسم کې دا یو عام رواج و. دی په دې عقیده و، چې د هغه لېږو اړتیاوو د هغه ذهن له دنیایي چارو څخه آزاد کړی او په دې یې قادر کړی و، چې په روحي او معنوي څیزونو سوچ وکړي. د ژوند په سر کې یې د هوښیار نوم وایست او انسانانو د یونان له ډېرو برخو نه

اتـن تـه مـخه وکـړه، چې لـه هغه څخه ځه زده کـړي. دی په خاص ډول د اتـن ځوانـانـو تـه منـلـی و، زيـاتـره بـه د لـويـانـو مېـلـسمـتـيـاوو تـه بـلـل کېـده، ځکه چې دی يـو ښه مـلـګری و.

سقـراط يـوه نـوې فـلـسفـي لار وايـستـلـه. اول ده د انـسان مـطـالـعې تـه، د هغه ذهـنـي تـرکـيـب، د هغه سلـوک، د هغه هيـلـو او پـه مـتـمـدنـې ټـولـنـې کې د هغه مـقـام تـه خـپـلـه تـوجه واړولـه. سقـراط پـه ځـوانـۍ کې د کـايـنـاتـو پـه اړه د هغـو فـيـلـسوفـانـو پـلـټـنـه تـر کـتـنـې لانـدې ونـيـوه، چې لـه ده نـه دمـخه هسک شوي وو، خو هغه يـې د ټـولـنـې د ټـيـنـګو اړتـيـاوو لـه پـاره بـې ځا يـه او بـې نـتـيـجې ومـونـدل. ده پـه فـکـر فـلـسفـه تـر هغـو لـوړ مـامـوريـت لـري، چې د بـې روحـه څيـزونـو پـه اړه حقـيـقـت درک کـړي. دا لـېـره مـهـمـه وه، چې درک شي ځمکه څنـګه رامـېـنـځ تـه شوه او ډيـره مـهـمـه دا ده، چې انـسان پـه کـومې خوا درومـي. کـه سقـراط اوس ژونـدی وای، پـه دې بـه يـې سر نـه وای خلاص شوای، چې مـوږ ولـې پـه مـلـيـاردونـو ډالـر د نـويـو عنـصرونـو پـه کـشف بـانـدې يـا د هستـوي قـدرت پـه انـکـشاف بـانـدې لـګوو، يـا دا چې مـوږ د سپـوږمـۍ د تـيـږو پـه کـيـمـاوي تـرکـيـب پـه تـحلـيـل بـانـدې لـګوو دا خو لا پـرځای پـريـږده چې د ټـول وژنـې لـه پـاره د وسلـو پـه لـټـه کې يـو. پـه داسې حـال کې چې د ښارونـو پـه خـوارو ګنـډه ګونـډو محلـونـو کې د مـلـيـونـونـو مـاشومـانـو ذهـنـي او روحي انـکـشاف تـه تـوجه نـه کـوو.

نـو لـه مـادي څخه و انـسان تـه د تـوجه انـتـقـال د سقـراطي فـلـسفـې يـو اصل و. بـلـه دا چې سقـراط تـر عقـلـي تـحلـيـل (**reasoned analysis**) لانـدې د جـاري اخلاقـي مـفـهـومـونـو پـه راوستـلـو سره ددې لـه پـاره، چې د هغـو رښتـيـنـې مـانـا مـعـلـومـه شي، يـوه نـوې دوره پـيـل کـړه. بـيـا نـو سقـراط ددې لـه پـاره چې لـه ټـولـو پـخوانـيـو مـيـلـونـو نـه ځان ازاد کـړي، داسې وګڼلـه چې دی د هېـڅ څيـز پـه اړه هېـڅ نـه پـوهېـږي. ويـې غوښتـل چې لـه يـوې پـاکې ذهـنـي تـختـې نـه پـيـل وکـړي. بـيـا يـې نـو د دلـفـي (**Delphi**) لـيـکـنـې پـه پـيـروۍ چې "ځان وپـېژنـه" پـه دې پـيـل وکـړ، چې هسې چې افلاتـون ويـلـي، هغه پـه دې

پسې شو چې "انسان په انسان کې کشف کړي" او وټاکي چې انسان باید څوک وي؟ یو څوک څنګه په نورو کې د ښه او بد په خواصو پوهېدلی شي، مګر دا چې هغه ښه او بد خاصیتونه په خپل ځان کې درک کړي؟ څومره رښتین! انسانان چې په خپله د ممثل )اکټر( پوښ په ځان کوي، د بل له یوه پوښ نه وړاندې چې یې اغوستی وي، لیدل کولی نه شي. سقراط په حقه ددغه لقب مستحق دی:"اخلاقي فلسفي پلار.".

سقراط معتقد و، چې دده د وخت دودیزو اخلاقیاتو د فکر په طبیعي آزادی باندې مصنوعي قیدونه لګولي دي. د طبیعي آزادی مقصد ددغسې رښتین توب کشفول دي، چې په عام ډول ددغسې مفهومونو لکه ارتیي )arete( لپاره ترېنه استفاده کېږي، چې هغه په عمومي ډول په ښېګڼې یا فضیلت سره ژباړل شوې او دغسې تعریف شوی، چې هغه د ډېرې لوړې سطح د ښه والي د کشف لپاره د انسان کو ښښ دی. پر هغه سربېره سقراط داسې ګڼله، چې د انسانانو تېروتنې د هغوی د ناپوهی نتیجه وي او دا چې ښېګڼه یا فضیلت له پوهې او له دغې مناسبې پوهاوي نه لاس ته راځي، چې کوم څه سم دي او کوم څه ناسم دي؟ هر چا چې دغه توپیر په څرګند ډول وکړ، هغه خپله اراده دېته بدلی شي چې ښه وکړي او له بدی نه ځان وژغوري.

هغه طریقه، چې سقراط د حقیقت موندلو لپاره غوره کړه، په دې ډول وه: هغه به له خپلو شاګردانو څخه هر ډول پوښتنې کولې، پوښتل به یې چې "عدالت څه ته وایي؟" ځوابونه به ډول ډول وو او هغو د یو چا په پوهاوي او د ټولنې په ډول باندې، چې د غې اصطلاح پکې وده کړې وه، ارتباط لاره. سقراط ته د "قابلې" په توګه هم کتل شوي دي. دی په دې بوخت نه و، چې خپلې عقلي ایډیاګانې وړاندې کړي، بلکې په دې پسې و چې د نورو له ذهنونو څخه فکرونه وباسي. کله کله به شاګردان د سقراط له انکار نه زړه خوږین شول، چې هغوی ته غوڅ ځواب ورکړي. په دې ډول سقراط د اورېدونکو د ځوابونو له اوږده او

ځېړنيز تحليل نه وروسته له ډېرو ګډوډو نظريو څخه د عدالت يوه دغسې مفکوره ايستله، چې هغه به رښتينې، افاقي او د ګډ خاصيت په لرلو سره به بې د شرايطو له ملاحظې نه په عالمي ډول د تطبيق وړ وه. بيا به يې له شاګردانو څخه په ټينګه غوښتل، چې کوښښ وکړي هغه په خپل ژوند کې پلي کړي.
دا د اتن ځوانانو په سوچ کولو کې يوه نوې تجربه وه، په داسې حال کې چې له هغوی نه غوښتل کېدل چې د دوديزو اجتماعي قانونو له مخې سلوک وکړي، خو د ځوانانو په هڅولو سره چې ددغو منل شويو قانونو اعتبار تر پوښتنې لاندې کېده، داسې ګڼل کېده چې سقراط هغه واک تخريبوي، چې لويان په هغه سره د خپلو ماشومانو سلوک کنټرولوي. پر هغه سربېره سقراط د يوناني مؤسسو اسماني سرچينې ته ګواښ کاوه. د افلاتون په يودي فرو ( Euthyphro ) نومي دايه لاګ ( Dialogue ) کې د سقراط له قول نه ويل شوي، چې ښه ددې لپاره ښه نه دي، چې خدايانو منلي، بلکې خدايانو هغه ځکه منلي چې هغه ښه دي. په دې ډول سقراط د اخلاقي خدای مفکوره مروجه کړه. هغه خدای چې لکه افلاتون وروسته وويل، چې "غوښتل يې ټول څه بايد ښه وي." خدايانو ته ددغسې اخلاقياتو نسبت د اولمپس ( Olympus ) د خدايانو له لومړۍ مفکورې نه انحراف و، لکه هسې چې د هومر ( Homer ) په ايلياد ( Iliad ) يا د ايشي لوس ( Aeschylus ) په ډرامو کې ښودل شوي وو. هغه خدايان، چې په جنګ کې يې يوه خوا نيوله، په خپلو کې سره جنګېدل، بې ګناهو ته يې جزا ورکوله او په هر ډول دسيسو بوخت وو.
د سقراط هم مهال سوفسطائيان ( Sophists ) وو، چې مشر يې پروتاګوراس ( Protagoras ) نومېده. هغه او پلويانو يې ادعا کوله، چې دوی فيلسوفان يا د عقل مېنان دي، خو دوی په واقع کې يواځې د خپل ډول عقلمنې ( Wisdom ) تمرين کوونکي وو. دوی ذکي ښوونکي وو، چې د خپل وخت ابن الوقتان چې شاګردان

یې د پیسو په بدل کې روزل، چې په سیاست او سوداګرۍ کې څنګه دمخه ولاړ شي؟ د بلاغت یا د هڅونې هنر د هغو خاصه وسیله وه. سوفسطائیان په دې فکر وو، چې انسان په خپلو حواسو سره عمل کوي او څنګه چې د بېلو خلکو حواس په مختلف ډول درک کوي، نتیجه دا کېږي چې حقیقت یا سم چلند پوره نسبي وي. عندي موضوع چې باید دفرد اختیار ته پرېښوول شي. سوفسطائیان د بحث لومړني ښوونکي وو، چې شاګردانو ته یې ښووله چې د یوې موضوع په هر اړخ باندې په قناعت کوونکي ډول بحث وکړي. د هغوی موخه هڅونه وه، نظر دېته چې د حقیقت موندل وي. پروتوګوراس ویل، چې "انسان د ټولو څیزونو معیار دی، د هغو شته والي یا نه شته والي ته په یو شان." په هغو شرایطو کې چې دی ځان مومي، په هغه پورې اړه لري چې فیصله وکړي چې کوم شی حق دی او کوم څیز ناحق دی؟ شخصي ګټه باید لارښوونکی اصل وي "طبیعي" حق د هغو خنډونو په مخالفت، چې ټولنه یې تحمیلوي.

سوفسطائیانو د یونان په تاریخپوه هیروودت باندې استناد کاوه، چې په ډېرو ملکونو کې ګرځېدلی او ویل یې چې اخلاقي ارزښتونه او قانونونه له یوه کلتور نه و بل ته تغییر کوي. بیا نو یو چا نه شو ویلی چې یوه ټولنه ښه او بله بده وه، په دې چې دوی سره توپیر لاره. سوفسطایانو په واقع کې د اتنیانو د ذهن له پراخي سره ښه مرسته وکړه، خو د دوی له خوا د ټولو افاقي معیارونو په بې اهمیته ګڼلو کې هغه هم هغه وخت، چې اتنیان له سپارتا سره د مرګ او ژوند په جګړه کې ګیر وو، په دوی باندې نیوکې کېدلې چې مروج اخلاقیات بربادوي، په کوم چې د اتن ټولنه ولاړه وه.

سقراط په خلکو کې په غلطه د سوفسطائیانو په کتار کې ګڼل کېده او ارستوفان په خپلې کومیدي "وریځو" کې دغه انتباه پیاوړې کوله او د اتن نزدې هر مهم شخص یې د سقراط په ګډون مسخره کاوه.

تر هغه حده چې سقراط هم د خدای توب او د موجودې

اخلاقي وضع مروجې مفهومونو ته چيلنج ورکاوه او ځوانان يې دېته بلل، چې په خپله فکر وکړي ځان يې په خپله د سوفسطايانو په قطار کې درولی و. خو دا يواځې تر هغه حده وو چې سقراط د اخلاقو مروجي قانونونه غېر عقلي بلل او نوي او افاقي معيارونه يې پلټل او لا لوړو او غېر شخصي ايډيالونو ته يې وفاپالي غوښتله. هغه ښوونه کوله، چې په ژوندانه کې د انسان لومړی موخه دنيايي برياليتوب نه، بلکې د "روح پوره کول" دي.
سره له دې هم په سقراط تور ولګول شو او محکمې ته راوستل شو، چې له پېغځه سوه او يو غړو نه جوړه وه. تور دا و، چې دی د ښار ځوانان فاسدوي او مقدساتو ته سپکاوی کوي. دغسې نه زغم توب د اتن د دموکراسۍ له تاريخي روح نه، چې د فکر په آزادۍ او مباحثې سره خړوبېده، پوره انحراف او عجب و، خو لکه چې دمخه ويل شوي اتن له سپارتا سره په ډېر اوږده جنګ کې اخلاقي ماتې خوړلې وه او له هغې نه راپيدا سياسي ټکان خلک ګډوډ او کم عقله کړي و. سقراط د محکمې په وړاندې د خپلې دفاع يا د خپلو ښوونو په اړه ليکلی سند هېڅ نه دی پرې ايښی. هغه څه چې موږ په دې اړه پوهېږو هغه تر زياتې اندازې د افلاتون ليکنې دي، چې په خپلو نامتو ډايه لاګونو کې يې سقراط خپل ويانډ ګرځولی او د سقراط دفاعيه يې د بښنې (Apology) په نامه اثر کې راوړې وه.
د سقراط دفاعيه سربېره پر دې چې د هغه د تورنانو قوي رد دی، په ټول تاريخ کې د ډېرو سترو سندونو څخه يو سند دی. هر څوک چې هغه لولي د هغه د لوړو فکرونو احساس کوي او ارومرو به دې پايلې ته رسېږي، چې سقراط سربېره پر دې چې يو ستر منطقي سوچوال و، يو کلاسيک ښه انسان هم و. سقراط د محکمې په وړاندې قاضيانو ته څرګنده کړه، چې د تورنانو په تورونو کې د رښتين توب يو ټکی هم نه شته. هغه تاييد کړه، چې هغسې عقل چې په عامه ذهن کې و او په دلفي کې د غيب ويونکو له خوا ده ته

نسبت ورکړل شوی، په دغه واقعیت کې پروت دی، چې دی په هغه څه پوهېږي چې پرې نه پوهېږي. په داسې حال کې چې نورو فکر کاوه، چې پرې پوهېدل خو پرې نه پوهېدل. هغه ورته وویل، چې دده ګناه، که هغه ګناه کېدلی وشي، داده چې دی بازار ته د غوباړي یا د څارویو مچ په شان ته، خلک یې تخڼول او ځوانان او لویان یې پوښتل، چې ددغسې مفهومونو لکه ښېګڼه او عدالت په هکله څه فکر کوي، د دوی ناپوهي به یې څرګندوله او رټل به یې چې هغو څیزونو ته توجه نه کوي، چې په ژوندانه کې ډېر مهم دي. هغه وویل، چې دی په دغه کار ډېر بوخت و، ځکه چې یو دننني آواز "خدایي قدرت" **A divine power** ده ته دستور ورکاوه، چې هغه څه وکړي، کوم چې ده کول. ده وویل چې په دغه ډول بوختیا سره ده خپل شخصي کارونه پرې ایښي و او په نتیجه کې ده "په ډېرې غریبۍ" کې ژوند کاوه. هغه له ځان نه دغه فرضي پوښتنه وکړه، چې که سقراط آزاد پرې ښودل شو، غلی به شي؟ د هغه ځواب دا و:"که تاسې فکر کوئ چې د سړیو په وژلو سره به تاسې له ګرم کېدلو څخه وژغورل شئ، تاسې به په غلطه اوسئ..." د هغو د غلي ساتلو لار دا ده، چې "ځانونه هغومره ښه کړئ چې کولی یې شئ." هر څه چې وشول دی به د پخوا په شان د اتن له خلکو څخه په ټینګه وغواړي، چې شتمني او عزت ته لږه او "عقل، رښتین توب او د خپل روح پوره کولو ته ډېره پاملرنه وکړي."

د رای ورکولو وخت، چې ورسېد یوه ساده اکثریت راووړل شوي تورونه ومنل او سقراط یې په مرګ محکوم کړ. هغه تعجب وکړ، چې څومره ډېرو د هغه برئت لپاره رایې ورکړې. که یواځې دېرش رایې په بل ډول ورکړل شوې وای، هغه به بې ګناه ګڼل شوی او آزاد شوی وای[1]. د حیرانۍ ځای دی، چې دغسې

---

[1] څنګه چې د اتن شورا له پېنځه سوه غړو نه جوړه وه، د سقراط پر ضد رایې به 280 او په پلوی به یې 220 وې. د

هوښيار او ښه انسان په دغه ډول جزا محکوم شو، خو تاريخ ښوولې چې ګرانه ده له عمومي تعصب سره په عقل او له ناپوهۍ سره په رښا مجادله وشي. سقراط د هغو د اخلاقياتو تر پوښتنې لاندې راوستلو او د هغو د ناپوهۍ او ادعاګانو په برالا کولو سره ډېر دښمنان پيدا کړي و، ځکه چې زموږ هر يوه لپاره ګرانه ده چې کله چې د يوه څيز په حقانيت په پټو سترګو قانع اوسو، څوک موږ له هغه څخه واړوي او ووايو چې په غلطه يو. د جنګ په حال کې دغه وينا لا صدق کوي، چې په دغه وخت کې د انسانانو احساسات په قوي ډول پاريږي او سوچ يې کړېږي.

سقراط له محکوميت نه وروسته د محکمې په ځواب کې د خپل روح سترتوب وښود. فکر يې وکړ، چې دا غلطه ده چې غوږه مالي وکړي، بښنه وغواړي يا د قاضيانو خواخوږي جلب کړي. داسې يې هم نه کيدنه، نه نفرت او نه له مرګ نه وېره وښودله. ويې ويل، چې دوی به يې په ناحقه ووژني، خو چې زيان ورسېږي، هغه به دوی ته ور سېږي، نه ده ته. ده اوږد او خوښ ژوند کړی، په هېڅ چا يې ظلم نه دی کړی او له مرګ څخه نه وېرېږي، ځکه چې "ښه سړي ته نه په دغه ژوند او نه له مرګ نه وروسته ژوند کې شر پيښېږي." هغه لا فکر وکړ، چې مرګ به يې ممکن په ګټه وي. که له مرګ نه وروسته يو څوک د کوم څيز احساس ونه لري، بيا نو مرګ يو خوښ، بې له خوب ليدلو نه ارام خوب دی. له بلې خوا که مرګ له دغې نړۍ نه بلې ته انتقال وي، څه نېکمرغه حال به وي چې هلته ورتګ وشي او دغسې تل ژوندي انسانان لکه اورفيسس ) Orpheus ( او هومر ) Homer ( او هسي يود ) Hesiod ( او اوډي سي ) Odysseus ( وليدل شي او غورې ورسره وشي.

---

رايو برابري تبرئه وه. په اتن کې مدافعه غوښتنه لا مروج شوې نه وه. مسلط فکر دا و، چې سقراط به له اتن نه وتښتي او چا يې مخه هم نه نيوله، خو سقراط ونه غوښتل قانون مات کړي او ځان وژغوري. ژباړونکی.

موږ د افلاتون له کرېټو (Crito) نومي ډايه لاګ نه پوهېږو، چې د سقراط عمري ملګري کرېټو زندان ته ورغی او کوښښ يې وکړ ويې هڅوي چې له زندان څخه وتښتي. استاد ورسره ومنله، چې تورنان يې شرير وو او محکمې ورسره بېعدالتي وکړه، خو اضافه يې کړه چې له ظلم نه سرغړول به له شرارت سره په شرارت مقابله کول وي، بيا يې نو دغه پوښتنه پورته کړه چې ايا لازمه ده يو څوک بل چاته زيان واړوي، حتی که هغه يې زيانمن کړی هم وي؟ سقراط وويل، چې نه. د يونانيانو لپاره دا يوه انقلابي مفکوره وه، حکه چې دوی د عادت له مخې دغه فکر منلی و، چې يو څوک بايد خپلو ملګرو ته ګټه او خپلو دښمنانو ته زيان ورسوي. سقراط بيا وويل، چې "کرېټو! نور مې پرېږده چې د خدای اراده عملي کړم او هر لوري چې لارښوونه کوي، په هغه لور لاړ شم."

يوه ورځ له ميلاد څخه مخکې د 399 په پسرلي کې هغه مهال، چې له مر د اکرا پولس د غونډۍ تر شا په پرېوتو و، سقراط زهر وڅښل. دی اويا کلن و.

وروستۍ خوځوونکې صحنه د افلاتون په قلم د هغه په فاييدو (Phaedo) نومي دايه لاګ کې انځور شوې، چې د نړۍ د ادبياتو شاهکار او خپل استاد ته يې له سترو يادنامو څخه يو دی. په وروستيو ګړيو کې چې له بنديزونو څخه ازاد شوی او غم ځپلي شاګردان يې د مخه ښې لپاره ور نه چارپېر شوي وو، د هغه وروستي ليکچرونه د روح د تلپاتي توب په اړه وو. دوی ورته کړه، چې دی د هغو د پلار په شان و، چې مړينه به يې يتيمان کړي. سقراط په ځواب کې وويل، چې ځانونه خوښ وساتئ، ځکه چې "تاسې به يوازې زما بدن خاورو ته وسپارئ..." دی د روح په تلپاتي توب معتقد و او احساس يې کاوه، چې دی به د خدای تر ساتنې لاندې وي او د "خدايانو په محل کې" به يې هرکلی وشي. داسې ښکارېده، چې دی د خپل روح ژغورنې ته سترګې په لار و او فکر يې کاوه، چې د بدن تقاضاګانو او پياوړو احساساتو چې بندي کړی و، فاسدوه. روح به يې چې له بدن او ټولو څيزونو

څخه پاک شوی وي، رښتینی واقعیت او په مطلوب ژوند کې رښتینې ښکلا درک کړي.
وروسته یو نوکر د زندان کوټې ته ننوت او وې ویل، چې "سقراط! زه پوهېږم چې ته به له مانه خپه نه شې او بد به راته ونه وایې، لکه نورو چې ویلي و، چې د چارواکو په دستور به زه وغواړم چې زهر راوړل شي، ځکه چې په دغه ټول وخت کې او په هر ډول ماته ثابته شوې چې ته په ټولو هغو کې چې دلته راغلي، تر ټولو ډېر نجیب، د ښه خوی خاوند او ښه وې. په مخه دې ښه او کوښښ وکړه، چې هغه څه وزغمې چې باید ویې زغمې. په دومره اسانی سره چې یې کولی شې." سقراط هم په ځواب کې وویل، چې "له تا سره هم مخه ښه"، "چې څه وایې زه به یې وکړم." په دغه وخت کې نوکر پړنګ په ژړا شو او له کوټې څخه ووت. سقراط شاګردانو ته مخ واړوه او ویې ویل چې "څه جذاب انسان." "په ټولې مودې کې چې زه دلته وم، هغه له ما سره ښه چلند کړی، رابه غی چې و مې وینې او راسره غورې وکړي او د هغه څومره نجابت چې زما لپاره وژاړي."
وروسته چې زندان وان راغی چې زهر وربانډې وڅښي، سقراط وپوښته چې "زما ښه سړیه، زه باید څه وکړم؟" هغه ورته کړه، چې "ټول هغه څه چې ته یې باید وکړې، دا ده چې دغه پیاله وڅښې او تر هغو قدم ووهې چې پښې دې درنې شي، بیا پرې وځه او زهر به خپل اثر وکړي." دا یې چې وویل، فیلسوف ته یې پیاله ورکړه." سقراط وویل، چې "خدایان دې زما سفر نېکمرغه کړي" او چې پیاله یې شونډو ته پورته کړه، محتویات یې په پوره ارامی سره له ستونې څخه تېر کړل. شاګردانو یې خپلې اوښکې نه شوای درولې، خو استاد یې وسکونډل چې "غلي او زړه ور اوسئ، پرېږدئ چې دغه ځمکه په درناوی وړ او ارامی سره پرېږدم."
افلاتون وروسته ولیکل، چې "دا و زموږ د ملګري پای چې د خپل وخت په ټولو ناریډه وو کې تر ټولو ښه،

تر ټولو هوښيار او ډېر زيات حق ليدونکی و."
څلور سوه کاله وروسته او په هماغو دليلونو سره د نظارت (Nazareth) عيسی په صليب بانديې له هماغه برخليک سره مخ شو. ده هم په خپل وعظ سره په مونټ (Mount) باندې مروجي اخلاقي قانونو ته چيلنج ورکړ او دغسې عجب فکرونه يې وړاندې کړل، لکه "له خپلو دښمنانو سره مينه ولرئ" او "د شر په برابر کې ښه وکړئ." دا پوره ممکنه ده، چې څنګه چې سقراط معتقد و، چې د انسانانو تېروتنې د هغو د ناپوهی له امله دي، ده هم ممکن د عيسی په شان په خپل وروستي وخت کې دعا کړې وای چې خدايان دې دوی ته بښنه وکړي، ځکه چې دوی نه پوهېږي چې څه وکړي.
تر هغو چې عيسويت خپل اخلاقي قانون وايست، سقراط په بې ديني نړۍ کې د اخلاقي کمال د طرح په شان دوام لاره. سقراط کمال ته د روح د رسېدلو په ټينګار سره د خپل ځان او د خپل خالق (Creator) د خدايي مقصد ترمېنځ همغږي لټوله. "کرېټو، پرې مې ږده چې د خدای اراده عملي کړم او چې په کوم لور لارښوونه کوي، په هغه لور لاړ شم." د تاريخ په ټولو دورو کې هغو چې د سقراط او عيسی روح پېژندلی، زده کړې يې ده چې څنګه په ارامۍ سره مړه شي، که څه هم سخت ظلم او بېعدالتي ورسره شوې وي.

## دريیم څپرکی

# د استاد په لار

سقراط په خپله نه فلسفي سيستم او دکتورين وايستل او نه يې د خپلو فکرونو په اړه ليکنه پرېښوده. اوس نو شونکې نه ده، چې فلسفې ته يې يو ټاکلی شکل ورکړل شي، يا له سره تنظيم شي، خو له هغو نه چې افلاتون او ترڅه حده زنه فون د هغه په اړه ليکل کړي دي، پوره ممکنه ده چې دغه شخص له سره جوړ شي، چې د ټولو هغو فيلسوفانو په ذهن کې يې ژوند کړی دی، چې له هغه نه وروسته هسک شوي دي. هغه دوی ته د حقيقت په لټولو کې عقلي تحليل (logistical reasoned analysis) وښود او هغه د يوه ښه انسان په شان له خدايي مقصد سره په همغږۍ سره ژوند وکړ او مړ شو. نظري فيلسوفان د پېړيو پېړيو په اوږدو کې د هغه په لار روان شول، که څه هم د حقيقت د موندلو لپاره هغوی په بېلو بېلو وختونو کې يون وکړ. په اساس کې د هغوی نهايي مقصد او طريقه يوه وه: هيڅ انسان، فيلسوف يا نه چې د سقراط روح يې درک کړی، بې اثره پاتې شوی نه دی.

## افلاتون

د نېکمرغۍ ځای دی چې سقراط په خپلو شاګردانو کې په افلاتون (427_347 له ميلاد څخه مخکې) باندې حساب وکړ، هغه څوک چې د خپل استاد په ډېرو ژورو فکرونو پوهېده. د هغه اصلي نوم ارسطو کلز (Aristocles) او تخلص يې افلاتون و، چې په يوناني ژبه کې د پلن والي يا پراخ والي مانا لري. پلار او مور يې چې له لوړ نسب څخه وو، ډېر ښه تعليم ورکړ او کافي وسيلې يې ورته برابرې

کړي، چې خپل ټول عمر د فلسفې په زده کړه کې تېر کړي.
افلاتون ډېر پیاوړی منطق پوه، ستر نفوذمن سوچوال او د یونانی نړۍ لوړ خیال شاعر و.
ایمرسن (Emerson) یې په هکله وایي چې "له افلاتون څخه ټول هغه څه راووتل چې لا هم لیکل کېږي او په سوچ والو انسانانو کې پرې بحث کېږي." افلاتون لس کاله د سقراط په شاګردۍ کې تېر کړل او ډېرش کلن و، چې د خپل استاد محاکمه یې له سترګو نه تېره شوه. د اتن د عوامو په بې‌عدالتۍ سره پارېدلی و، د جمهوریت (Republic) په نامه یې یو اثر ولیکه او په هغه کې یې لکه چې پاس وویل شول، دغسې اجتماعي او سیاسي ایډیالي نظام انځور کړ چې "فیلسوف پاچایانو" له خوا به چلول کېږي، چې د هغو په واکمنۍ کې به دغسې جنایت ته هېڅ اجازه ورنکړه شي.
افلاتون په اتن کې اول په یوه جمنازیم او وروسته د اکادیموس په نامه په یوه بڼ کې یو فلسفي مکتب پرانېست، چې له هغه نه دا اکادمي نوم راوتلی او تراوسه پورې معمول دی. اکاډمي ډېر زر په ټولې مدیترانې نړۍ کې ادبي او فلسفي منځی شو، لومړی پوهنتون چې نهه پېړۍ یې دوام وکړ. افلاتون هلته څلوېښت کاله درس ورکړ او لیکل وکړل. ویل کېږي، چې افلاتون په اتیاکلنۍ کې د یوه واده په جشن کې ګډون وکړ او په خپلې څوکۍ باندې ویده شو. سهار چې کوربه وغوښتل ویښ یې کړي، ورمعلومه شوه چې ساه یې ختلې وه. دا له میلاد څخه دمخه 347 کال و.
افلاتون اټکل دېرش دیالوګونه پرې ایښي دي، چې له نېکه مرغه ټول یې ساتل شوي دي چې په هغو کې یې هم د پخوا او هم د خپل وخت په فلسفي فکرونو بحث کړی دی. ډا یه لاګ په معمولي ډول د دوو ترمېنځ خبرې یا مرکه ده چې افلاتون په هغو کې د سقراط له طریقې نه کار اخیستی دی، یانې د پوښتلو او ځواب ورکولو له طریقې نه، ددې لپاره چې د یوې ګڼېې یا فرضیې حقیقت ته ورسېږي. افلاتون په بحث کې د مشر

په توګه له سقراطي طريقې نه په کار اخيستلو سره په مخ تللی، چې د پوهې په ډګر او د انسان د سلوک په اړه تحقيق وکړي. د هغه ډيالوګونه له دغسې عملي مسئلو څخه لکه عدالت، نېکمرغي، ښېګڼې او ايډيالي دولت او داسې هم له دغسې مجردو فکرونو څخه لکه الهيات او د پوهې له تيورۍ نه بحث کوي.
افلاتون په خپلو لومړيو ديالوګونو کې د خپل استاد فلسفه شرح کوي، په تېره د ښه توب په اړه د سقراط له علاقمنۍ نه، خو په خپل پاخه عمر کې په خپل فکر په پراخو ساحو کې ننوځي. افلاتون له سقراط سره له شخصي تماس نه او د فيثاغورث او پارمينيدز ( **Parmenides** ) له پخوانيو فلسفو څخه د خپلو ايډياګانو دوکتورين ( **Doctrine of Ideas** ) ته انکشاف ورکوي، چې ټول کاينات په غېږ کې نيسي.
سقراط، چې د انسان ددغسې خصوصيتونو لکه عدالت او اعتدال رښتينې مانا ته رسېده، له شاګردانو نه به يې په ټينګه غوښتل، چې "د خپل روح د پوره کولو لپاره" عادل او معتدل اوسي. د هغه فلسفه شخصي اصلاح وه. له بلې خوا تصوفي فيثاغوريان په غېږ شخصي او عالمي روح معتقد وو. د انسان روح د کايناتو د روح يا ژوند يوه ډېره وړه برخه وه، دغسې کاينات چې حدود نه لري، خدايي او تلپاتې وي. په مرګ کې د انسان روح له بدن څخه بيلېږي او له خپلې سرچينې سره يوځای کېږي: بيا له هغه ځای نه په انسانانو يا ځناورو کې چې له هغه وروسته راځي، حلول کوي. فيلسوف پاراپاميډيدز لا په دې عقيده و، چې حقيقت نه يواځې هغه دی چې يې موږ په خپلو حواسو سره تجربه کوو، بلکې هغه چې زموږ د فکر يوه برخه ده.
دغو نظريو د افلاتون مخيله وتخنوله، چې نتيجه يې د ايډياوو دکتورين شو چې د کايناتو مادي او هم روحي عنصرونه يې په غېږ کې ونيول. د افلاتون په فلسفي سيستم کې دغه دکتورين دغومره اساسي و، چې په خپل ديالوګونو، ټيماپوس ( **Timaeus** )، فايډو ( **Phaedo** ) او جمهوريت کې په وار وار پرې

ګرېدلی دی.
موږ به دلته خپله لیکنه د هغه، هغه دکتورین ته ځانګړې کړو چې په اخلاقیاتو پورې اړه لري. د شرح کولو لپاره دا یوه ډېره ګرانه، ژوره او پېچلې تیوري ده، چې د لوستونکي زغمناکه او دقیقه توجه غواړي. حتی په خپله افلاتون هم هغه د استعارو، سمبولونو او افسانوي رمزونو څخه پرته شرح کولی نه شو، خو د افلاتون دغه دکتورین عملي اړخ لري، په دې چې هغه دغسې یوې اصلي نمونې ته ګوته نیسي، چې ښه انسانان باید ورسره ځان موافق کړي.
راځئ چې دلته د بېلګې په ډول د ښکلا مفهوم تر کتنې لاندې ونیسو. ښکلا د حواسو له لارې بېل بېل مفهوم غوره کوي، چې هغه د یوه چا په روزنې او شالید پورې اړه لري. د بېلګې په ډول ښکلا په انځورګري کې ممکن کسبي هنرمن ته یو مفهوم او عام وګړي ته بل مفهوم ولري، خو ښکلا د ایډیا ( Idea ) په شان د انسان له عندي ارزونې څخه لوړه ده. هغه اصلي نمونه ( Prototype )، یو عالمي ایډیال، یو مطلق معیار دی چې په هغه سره ښکلا په ټولو خلکو، په ټولو شیزونو او په ټولو شیزونو کې په یو شان تر ارزونې لاندې نیول کېږي.
یو ځل بیا، د مثال په ډول ښکلا په ښځو یا ګلانو کې ځي او راځي، خو ښکلا د ایډیا په شان پرځای پاتې وي. انسانان او ګلان مري د ښکلا ایډیا یا مفکوره تلپاتې وي. لایر ) د لرغوني یونان د موسیقۍ یو ډول اله ( به دړې وړې شي او تارونه به یې وشلېږي، خو همغږي ( Harmony ) د ایډیا په شان تلپاتې وي. هغه تلپاتې او تحول نه منونکې وي. په دې ډول د ښکلا ایډیا یواځې یوه کلمه یا افاده نه ده، یا خاصیت چې په کوم انسان یا مادې کې نغښتی وي. هغه له انسان څخه په خپلواک ډول وجود لري او په حواسو سره یې درک نه کېږي، درک یې د انسان په عقل یا روح ( reasonیا soul ) سره کېږي. انسان هېڅکله اصلي نمونې یا لومړی شکل ( Prototype ) ته په پوره ډول رسېدلی نه شي، خو باید د خپلې غوښتنې موخه یې

وګرځـــــــــــــــوي. ډېـــــــــــــــــر لـــــــــــــــوړ
شه توب بايد له دغه ماډل سره د انسان په يوځای
کېدلو او توافق کې ولټول شي. افلاتون په بل هېڅ
ځای کې په دغومره پياوړي باور نه ګرېږي، لکه چې
په خپل "فايدو" نومي ډايه لاک کې وايي، چې "زه
په ساده، څرګنده او شايد په احمقانه ډول په
ټينګه وايم، چې دا د ښکلا له ايډيال سره د حضور
او ګډون له امله ده چې څيزونه ښکلي کېږي." په
خپل جمهوريت کې پرې اضافه کوي، چې "... هغه وخت
چې يو ښکلی روح له يوه ښکلي شکل ) ايډيا ( سره
همغږې کېږي، دواړه په دغسې قالب کې سره لوېږي چې
د هغه چا لپاره چې د ليدلو سترګې لري، تر ټولو
ښکلې منظره وي."
دا استدلال په دغسې پروسې سره و چې افلاتون د غې
نتيجې ته ورسېد چې روح بايد تلپاتې يا نه فاني
کېدونکی وي.
د افلاتون د غه دکتورين چې وغځوو او په دنيايي
څيزونو يې تطبيق کړو، راته به ووايي چې موږ ته
ښايي له تصادفي او بې هدفه نظر او د حواسو له
محرکې نه لوړ اوسو او د عالمي مفکوروو پرنسيپونو
يا قانونو په چوکاټ کې فکر وکړو، چې بنسټيز او
رښتيني واقعيتونه دي. په دې ډول که موږ د
انسانيت له نظر نه فکر وکړو، نظر دېته چې د دغه
يا هغه کس له نظره فکر وکړو، چې خوښېږي يا مو نه
خوښېږي، موږ شايد د انسان روحي ماهيت په ښه ډول
درک کړو او وبه وينو چې ټول بشريت يو دی.
د افلاتون د واقعيت دغه روحي مفکوره وه چې
فيلسوف_ذهنه سان جان په خپلې ليکنې کې د
لاګوس ) **Logos** ( له اصطلاح نه په هماغه مانا ګرېږي.
لاګوس په خپل لوړ مفهوم سره د هغه تر لفظي مانا
نه چې "کلمه" ده، ډېرې مانا وې لري. هغسې چې هغه
نويو_افلاتونيانو ) **neo-Platonists** ( په کاروله، د هغې
مانا خدايي عقل دی چې کاينات په حرکت راولي،
لارښوونه ورته کوي او اداره کوي يې. په رواقي
فلسفه کې ) **Stoicism** ( چې په لومړۍ عيسوي پېړۍ کې

مروجه وه، لاګوس په خدايي بڅرکي يا خدايي قدرت مانا کېدله چې ټول طبيعت په عقلي او ډېر ښه ډول اداره کوي. ګومان کوم چې سان جان چې د عيسويت لوی مبلغ و، د خپل انجيل په لومړی فقره کې يې د لاګوس اصطلاح په دغې مانا کارولې وي.

که موږ د افلاتون د ايډيا دکتورين باندې پوه اوسو، په اسانی سره ليدلی شو چې افلاتون ولې له سوفسطايانو سره موافق نه و، چې ويل يې هغه څه چې رښتيني او واقعي دي، هغه دي چې په حواسو پورې اړه لري. داسې هم دوی معتقد وو چې دا په هر فرد پورې اړه لري، چې په خپله فيصله وکړي چې د يوې قضيې رښتينی واقعيت څه دی؟ د افلاتون په فکر دغسې نظر د اخلاقي انارشی سبب کېږي. ده دا هم ويل، چې دغسې نظر به انسان د څارويو په ډله کې راولي چې د احساس قابليت لري، خو دغه قابليت نه لري چې د ژوند سرچينه درک کړي چې په حرکت يې راولي. دغه ناتواني هم د دوی لپاره ناشونکې کوي، چې د حق او ناحق ترمېنځ توپير وکړي، ځکه چې دوی به هېڅ اصلي نمونه، هېڅ سرمشق ونه لري چې هغه ته په رجعت سره خپل ژوند عيار کړي.

# ارسطو

ارسطو په لومړیو کلونو کې د افلاتون د ایډیا دکتورین پلوي کوله، خو وروسته یې وویل چې "رښتین توب اړ کړ" چې د خپل استاد تیوري پرېږدي او بله لار ونیسي.
ارسطو (384_322له میلاد دمخه( د شمالي یونان په ستاګیرا (Stagira( کې زېږېدلی او په اتلس کلنۍ کې د زده کړې لپاره اکادمي ته ور غی او هلته له افلاتون سره شل کاله پاتې شو. د افلاتون له مړینې نه وروسته په وړې اسیا (Asia Minor( کې اسوس ته لاړ او هلته یې د ځان لپاره فلسفي ښوونځی پرانیست. وروسته د مقدونیې پاچا فلیپ ترېنه وغوښتل، چې د هغه د دیارلس کلن زوی ښوونکی شي، چې هغه وروسته لوی سکندر شو. د پلوتارک په وینا سکندر ویلي و چې د ژوند لپاره د خپل پلار او د ښه ژوند لپاره د ارسطو پوروړی دی.
سکندر چې د یونان له نیولو نه وروسته په هخامنشي امپراتورۍ ودانګل، ارسطو اتن ته ستون شو او هلته یې د لای سیم (Lyceum( په نامه ښوونځی پرانیست. دلته هغه او شاګردان یې په ځېړنو بوخت شول چې د ټول ژوند او ټولو فزیکي ځېړنو په اړه وو. له بده مرغه د وخت له تاړاکونو نه د هغه څلورمه برخه لیکنې را پاتې دي. پلار یې طبیب و او ارسطو په ځوانۍ کې دغه موقع لرله، چې د واقعیتونو په اړه هغه دقیقې مشاهدې وګوري چې پلار یې د مرضونو په تشخیص او درملنه کې کولې. ارسطو په دې ډول د مادې او انسان په مطالعه کې میتافزیک او داسې هم د واقعیت طریقې ته انکشاف ورکړ. دی لومړی فیلسوف و، چې د انساني پوهې بېلې بېلې ساحې یې په منظم

ډول تصنيف يا طبقه بندي کړې. د هغه اثرونه د منطق، فزيک، ميتافزيک، بيالوجي، سيکالوجي )ارواپوهنې(، اخلاق، سياست او بديعياتو په اړه دي.
د ارسطو اخلاقي فلسفه، د شاعر افلاتون پرخلاف، په دريو اثرونو کې بيان شوي چې د "نيکوماسي اخلاق" يې تر ټولو لوی او عمومي دی او په اوله درجه د عمومي لوستونکو لپاره دی، په ساده نثر کې کښل شوی چې په هغه کې د انسان اخلاقي کمزوري ګانې بيان شوي دي. د هغه اخلاقي حکمونه او دستورونه ډېر متحول او په اسانه د پوهېدلو وړ دي.
ارسطو په 323 کې د سکندر له مړينې نه وروسته د مقدونيې له پاچايانو سره د اړيکو په لرلو سره د اتن خلکو ته نامطلوب (Persona non grata) (شخص او مقدساتو ته د سپکاوي په تور تورن شو. څنګه چې سقراط هم په همدغه جرم تورن شوی و، ارسطو اتن پرېښود چې د هغه په وينا دی نه غواړي اتن "د فلسفې په برابر کې دوه ځله ګناه وکړي." دی د خپلې مور کور ته چې په کالسس (Chalcis) کې و لاړ او هلته د څلور شپېتو ]دوه شپېتو[ په منګ مړ شو.
افلاتون په زيات اندازه له عقلاني موضوعګانو، ميتافيزيکي نړۍ نه بحث کاوه، که څه هم هغه په عقلاني ليکنو کې د دولت په تنظيم او دندو هم بحث کړی دی، لکه هسې چې د هغه له جمهوريت، سياستوال او قانونو له اثرونو نه ښکاره ده. د افلاتون په فکر عقل او ذهن د رښتيني واقعيت درک کاوه. ارسطو هم له عقلاني تحليل او مجرد تفکر سره علاقه لرله او د اخلاقياتو او ميتافزيک په اړه يې ليکنې کړي دي، خو هغه د طبيعي حادثو د يوه لېوال کتونکي په توګه د خپلو عمومي مفکورو په جوړښت کې د حواسو په درک او د ورځنيو تجربو په رول هم قايل و. د ارسطو په نظر د افلاتون د ښکلا ايډيا يو مجرد واقعيت و، چې شته والی يې لرلی نه شو. د هغه پرخلاف، هغه په هغه څيز کې شته و چې پکې نغښتی و. هغه کورسټوس (Choristos) نه و چې له مادې نه بېل او او خپلواک شته والی ولري. موږ ښکلا په يوې ښځې

یا یوه ګل کې وینو، هغه هلته ]په هغو کې[ وجود لري، نه په مجردې نړۍ کې.
بیا نو ارسطو د جسم او روح په اتحاد اعتراف کوي او وایي، چې روح ز موږ په فزیکي شته والي کې څرګندتیا مومي، خو هغه وخت چې هغه تائیدوي چې هرڅوک په ځان کې دغه استعداد ) Dynamis ( لري چې ځان ایډیال یا مطلوب کمال ته ورسوي، تر هغه ځایه چې کولی یې شي او دا چې د هغه دغه استعداد په ژوندي مقصد لرونکي "نه خوځېدونکي خوځوونکي" یا نهایي علت _خدای_ په کمال، نامتحول او تلپاتي سره فعال کېږي، بیا نو افلاتون د هغه د الهام سرچینه کېږي. هغه نور هم له هغه نه الهام اخلي، چې هغه دغه "خوځونکی" "خدای" بولي او اضافه کوي چې صوفیا ) Sophia ( یا ددغه "خوځونکی" په اړه ژور سوچ د ذهن تر ټولو لوړ او تر ټولو نېکمرغه فعالیت دی. سقراط او افلاتون او داسې هم ارسطو تر هغه ځایه، چې دی په افلاتونیت یا په افلاتون معتقد پاتې شوي چې لیکنې یې د روح تلپاتي توب شوی او د انسان له هغې هیلې نه ګړېدلی چې غواړي کمال ته ورسېږي، د عیسوي دوکتورین مخکښان کېدلی شي. تر دغې ورځې پورې د رافاییل ) Raphael ( یو لړ ښکلي انځورونه چې "د اتن ښوونځی" ښیي، د واتیکان د ماڼۍ دیوالونه ښکلي کوي.
ارسطو ښېګڼه یا ښه توب "د کرکټر حالت، د ښه توب لپاره استعداد" ګڼي چې په ورځني ژوند کې د ارادې په تمرین سره د قضاوت په مصلحت ) Phronisis ( سره ترلاسه کېږي. همدا چې په سمې لارې باندې یون عادت شي، انسان په محفوظي ساحې کې داخل وي. ښه نو اوس سمه لار کومه ده؟ لوستوکي به ددغې پوښتنې ځواب په وروستیو څپرکو کې ومومي. دلته به دغومره وویل شي چې په عمومي ډول څه وخت چې ارسطو له "ښې لارې" نه غږېږي هغه "طلایي وسیله" په نظر کې لري.
د ارسطو په فکر د انتخاب آزادي د اخلاق لپاره اساسي شرط دی، ځکه چې ښېګڼه په هغه حال کې مانا

لرلی نشي، چې یو څوک په بدې لار باندې د تګ اختیار ونه لري. یو څوک چې له ټولو بدو نفوذونو یا له شریرو بدیلونو څخه ګوښه او تجرید شوی وي، هغه هیڅکله زده کولی نه شي چې ښه څنګه وکړي. یواځې هغه انسان چې اختیار لري ښه یا بد وکړي او بیا ښه وکړي، ښه یا نیک وي. یو څوک په وار وار په ښې لارې باندې تګ سره هغه عادت (**ethos**) خپل کوي چې په کولو سره یې اخلاقي کرکټر ودانېږي. "یو عادل انسان د عادلو کارونو په کولو او د اعتدال خاوند د اعتدالي کارونو په کولو سره جوړېږي."

د افلاتون په نظر ښه انسان خپل ذهن هغه ایډیالي پرنسیپ ته چې کوم څیز ښه دی، کشوي. د ارسطو په فکر ښه توب یا خیر هغه څیز دی چې هغه یې له ورځني تمرین نه زده کوي، نو د لاعملي انسانانو لپاره ارسطو یې اخلاقیات د خیر د ترلاسه کولو لپاره قانون او طریقه شوه او د "فیلسوف" ایډیاګانو د پېړیو په بهیر کې د ښه ژوند لپاره د یوې طریقې حیثیت پیدا کړ.

ځینې لیکوالان چې وایي د ارسطو لپاره نېکمرغي هغه موخه ده، چې هغه باید په خپل ذات کې ترلاسه شي، د هغه په نظر نه دي پوه شي. ارسطو په وار وار په دغه ټکي ټینګار کړی چې د خوند نهایي درجه (**eudaimonia**) هغه څوک تجربه کولی شي چې د یوه کامل انسان په توګه پوره عمل کوي. دا د عقلي عمل ژوند یا "له ښېګڼې سره توافق کوونکی" دی چې نېکمرغي راوړي، نو نېکمرغي یو څیز دی چې باید وګټله شي، نه نه فکر کېدونکي خواږه چې له اسمان څخه راولوېږي.

څه وخت دمخه یوې مور راته وویل، چې لور یې له درې اونیو نه وروسته پوهنځی پرېښود، ځکه چې "هغه خوښه نه وه." ما ورته کړه چې هېڅ څوک پوهنځي ته ددې لپاره نه ځي چې خوښي یا نېکمرغي ومومي لکه یو څوک چې د خزانې په لټه کې جایزه وګټي. یو څوک پوهنځي ته ددې لپاره ځي چې فکر وکړي، د سترو انسانانو ذهنونه کشف کړي، د ځان او نړۍ په اړه

چې پـ کې او سي پـو هـه تـرلا سـه کـړي، لـه نـورو سره ایـډیـاوې شریـکې او مبـادلـه کـړي، مـهـارتـونـه زده کـړي، لـه محـتـاجـو هم ټـولـګـیـوالـو سره مـرسـتـه وکـړي او پـه عـقـلانـي او اجـتـمـاعي نـظـره وده وکـړي. نـېکـمـرغي ددغـسې کوښښونـو د مېـوو لـه څکي نـه پـیـدا کـېږي. سـتـا لـور پـه لـومـړیـو درېـو اونـیـو کې لـه دغـو نـه هـېڅ یـو تـرلاسـه کـولـی نـه شـو. زه پـه خـپـل اوږده عـلـمـي ژونـد کې لـه دغـسې مـحـصلانـو سره مخ شوی یم، چې پـه اولـو کې یـې بـاور نـه لاره چې پـوهـنـځی "ښـه" وګـڼـي، خـو د کـــال پــــه اخره کې یـې ورسره "مینـه" پـیـدا کـړه. د ارسطو ویـنـا چې بـیـا راوړم، دا د ښـه تـوب تـمـریـن دی چې پـه ژونـد کې د ښـه تـوب او نـېکـمـرغی لامـل کـېږي.

# اپیکور

دغه ځپرکی به د اپیکوریانو او رواقیونو په اړه لـه لنډ بحث نـه وروسـته ختم کړم.

اپیکور (343_270) د یوه غریب پلار او مور زوی و، چې شاید د ساموس په ټاپو کې زېږېدلی وي. د ارسطو او افلاطون پرخلاف چې له ښوونکو نه یې زده کړه کړې وه، هغه لېږ و ډېر په خپله ځان رسولی و. لومړنی ښوونځی یې په وړې اسیا کې لوستی و او وروسته اتن ته لاړ او هلته یې د باغ ښوونځی (School of the Garden) پرانیست. په ښوونځي کې یې نارینه او ښځې د کنچڼیو په ګډون شاملې وې چې د وروستیو په اړه د خندا وړ مسخرې کېدلې او د شاګردانو د اجتماعي فعالیتونو له امله په خلکو کې غېبتونه کېدل. دا هغه وخت و چې د پـلي پونیز له جنګ او د اتن امپراتوری له شړېدلو نه وروسته یونان د مقدونیې تر لاس لاندې شوی و، افلاتون او ارسطو دواړه مړه وو او د عقلي او اخلاقي قوت رول چې دوی یې ښوونه کوله، نور نو د یونان د خلکو په ذهن اثر نه لاره. په دغه حال کې ډېرو د اپیکور په فلسفه کې له ترخه واقعیت نه پرار او د خوند ژوند ته لار ومونده.

اپیکور د کاینـاتو د سرچینې او کار کولو په اړه میخانیکي شرح ومنله. کاینات د هغه په فکر د یوه غېر شخصي په خپله خوځېدونکي ماشین په شان دی، چې د دغسې عقلي خالق (Demiurgus) له خوا ځخه نه ورته لار ښوونه کېږي او نه اداره کېږي، لکه هسې چې افلاتون وايي او نه له کوم عقلي "خوځوونکي" لـه خوا چې ارسطو پرې معتقد و. د اپیکور په فکر انسان د نورو ځارویو او وده والو په شان ژوند کوي او مري او د هغه ذهن یا روح، چې د حواسو له

ذرو ) اتمونو( څخه جوړ دی، د هغه په ټول بدن کې تیت دی او له هغه سره یوځای مري. انسان په دغسې نړۍ کې د تلپاتي توب او د جنت هیله کولی نشي او نه اړ وي، چې د دوزخ له هیبتونو څخه ووېرېږي.

د اپیکور ښوونځی د خوند )Hedone( د پرنسیپ له مخې جوړ شوی دی، چې د نېکمرغۍ اساسي رکن ګڼل کېده. اپیکور ښوونه کوله چې انسان په طبیعي ډول د خپلې دغې غوښتنې له مخې عمل کوي چې خوند ترلاسه کړي او له درد نه ځان وژغوري او عقل یواځې هغه وخت رول لوبوي چې ددغې موخې لپاره لار یا وسیله غوره کوي. اپیکور یواځې په ورځنیو حسي تجربو ډډه کوي لکه خوړل، څښل، ټنګ ټکور اورېدل، جنسي عمل د یوې وسیلې په شان چې نېکمرغه ژوند ترلاسه کړي. اپیکور وایي، چې "راځئ چې له ښو څیزونو څخه په دغه وخت کې خوند واخلو... دا زموږ بخت دی." داسې ښکاري چې اپیکور د افلاتون په ښوونو نه پوهېده چې ویل یې چې څنګه چې انسان د نه شته والي او د میل تر اقتناع نه دمخه یو تریخ او دردناک حال تېروي، د اقناع یا خوند پای صفر کېږي او دغسې حسي خوند غولوونکی وي. ته بس ځان سکوندې او په درد کوې، نور څه نه. یواځې ذهني خوندونه سوچه خوښي وي.

ددې لپاره چې د اپیکور په حق کې بې انصافي نه وي شوي باید ووایو چې د هغه پرېماني او شتمن ژوند ایډیا د فسق او حسي مزو چړچو ژوند نه و. هغه معتقد و، چې د هر څیز حتی د خوند له حد نه زیاتی دردناک وي. داسې هم هغه په ژوندانه کې لوړ خوندونه له نظر څخه نه غورځول لکه د ملګرتوب خوښي، له اندیښنې او غم نه آزادي او داسې نور... هغه ویل چې شتمني ته د شتمنۍ په خاطر لټه، د بریالیتوب او قدرت ګټلو لپاره ټینګه لېوالتیا او د دولتي مقام لپاره درانده مسؤلیتونه ټول اندیښنې او کړکېچونه پیدا کوي، چې باید ترېنه ډډه وشي. هر هغه څوک، چې په اتن کې حکومت کوي، پرېږدئ چې حکومت وکړي. تاسې د خپل بڼ په ارامۍ کې له خپلو ملګرو سره د ژوند ساده موندونو لپاره

ځانونه وزګار کړي، څومره ښه!.
تر هغې اندازې چې د اپیکور فلسفه په دغه مقصد ایستل شوې چې موږ له طبیعت نه اخوا هېښتونو او له دنیایي اندېښنو څخه وژغوري، په هغې کې ارزښت پروت دی، خو په خپله د خوند فلسفه ) hedonism ( چې د اپیکور زم زړی دی، انسان له هغې سطحې څخه ښکته کوي چې سقراط او شاګردانو یې پکې انسان ته ځای ټاکلی و. "هېڅ انسان یواځې په ډوډۍ باندې ژوند نه کوي."

# زیـــنو

دغه فیلسوف ) اټکل 364_336 له میلاد دمخه ( د قبرس په ټاپو کې زېږېدلی، خو شل کاله په اتن کې اوسېدلی او هلته یې په یوه محل کې چې د برنډې یا دالان په مانا ستوا ) Stoa ( نومېږي، د فلسفې یو ښوونځی پرانېستی و. له ستووا نه ستوئیک کلمه راوتلې. ) په فارسي کې دغه کلمه د رواق په نامه ترجمه شوې او پیروان کې په رواقیانو یا رواقینو یاد شوي دي. (
زینو او اپیکور دواړو سقراط ستایه، دوی په هغه کې د سپماګر ذوق یو دغسې عقلاني انسان لیده، چې تر وروستۍ شېبې پورې یې ارامتیا وساتله او د خپل ذهن له سولې نه یې خوند واخیسته، خو په داسې حال کې چې سقراط دغسې څوک و چې حسي خوندونو ته یې په خواره سترګه کتل او په خوښۍ سره ورته بې تفاوته و، زینو له هغو څخه پرهېز، ښېګڼه او فضیلت ګاڼه.
له رواقیانو سره پخلاینه نه کېږي. اخلاقي ژوند د ذهني ارامتیا ) ataraxia ( ژوند دی چې په انساني حسیاتو باندې په پوره کنټرول ) apatheia ( او د کاینانو له پلان یا د انسان له برخلیک سره په

مطابقت حاصلېږي چې په هغو هېڅ څوک کنټرول نه لري، خو هغه د تل لپاره د اسماني قدرت له خوا د ژوند د نافعالیت یا قسمت ته د تسلیمېدو مانا نه لري. د انسان برخلیک وړوند نه دی، خو هغه د تل لپاره د اسماني قدرت له خوا په عقلي ډول اداره کېږي او دا د انسان دنده ده چې د هغه ]خدای[ له دغې عقلي طرح سره مطابقت وکړي. په دغې طرح باندې د لاس بري لپاره کوښښ احمق توب دی او نتیجه یې نابریالیتوبونه یا تر هغو لا هم بد. زموږ آزادي باید دېته محدوده نه وي چې موږ څه غواړو، باید دېته محدوده وي چې یې په حتمي ډول وغواړو. انسان همدا چې خپل مقام په خدایي پلان کې ومومي او بیا د هغه په مطابقت عمل کوي، ذهني ارامتیا او د مقصد ثبات ته رسېږي، نه هڅونې، نه خطر، لېوالتیا یا مرګ یې اړولی شي. ښېګڼه یې مقصد وي، نه شتمني، نه نومیالي توب، نه ښکلا کولی شي هغه له خپل مقصد څخه واړوي. هغه ممکن ښېګڼې ته د رسېدلو لپاره د هغه په کوښښ کې وسیلې وي. دغسې دنیایي مقصدونه د هغه دننني ژوند ارامتیا لپاره بېځایه (**adiaphora**) او دا دغه ارامتیا ده، چې نېکمرغي راوړي.

خو باید اعتراف وکړم چې موږ ډېرو فنا کېدونکو ته دغسې سخت دسپلین ډېر ګران او دردناک دی. ښه به دا وي چې په لږ سخت دسپلین باندې قناعت وکړو او تر هغه لږ سخت رواقیت (**Stoicism**) غوره کړو او هغه دا چې عاقل سړی هغه دی، چې "څیزونه په لویو ګامونو اخلي، د خیزونو د طبیعي نظم د یوې برخې په شان او هغه څوک چې د دغې نړۍ د وړو څیزونو په اندېښنه کې یا د هغو څیزونو په اندېښنه چې دی یې واړه ګڼي، ځان نه ربړوي. دی د سختۍ په برابر کې هغه وخت چې د شاوخوا ناتوان انسانان د خپلو جذبو قرباني کېږي، ټینګ ولاړ وي.

رواقیت د هغه په برابر کې چې حتمي وي تقوا لرونکي ګوښه توب دی. دی و هغه انسان ته چې له تراجیدۍ سره مخامخ وي، مرستیال دی. اپیکورزم لا

ښه ایسدونکی دی او په اسانی ورسره مطابقت کېدلی شي، خو هغه وخت چې یو ځوک له سختې ستونځې سره مخ وي، رواقیت د جذباتي انډول په ساتلو کې ورسره مرسته کوي.
دلته یو ځل بیا موږ د یونان له اعتدالي ایډیال سره مخ کېږو. د زینو فلسفه، چې په یونان کې وزېږېده، وروسته یو پراخ غورځنګ شو. له یونان څخه دباندې په نورو هېوادونو کې یې هم په تېره په روم کې پلویان او مفسران ومو ندل. د روم د ټولنې لوړو طبقو چې د خپلو عنعنوي خدایانو لپاره له عقلاني ملاتړ پیدا کولو نه عاجز وو، رواقیت یې د خپل ژوند د فلسفې په توګه غوره کړ. سیسرو (Cicero) او مارکوس اریلیوس (Marcus Aorelius) یې دوه پلویان وو چې په لیکنو کې یې زینو انعکاس وکړ.
فلسفې که د سقراط، ارسطو، رواقیانو یا اپیکوریانو وې، ټولو د ازمویني لپاره د ښه ژوند کولو لپاره په واقعي عمل باندې ټینګار کاوه. دوی ویل، چې یواځې پوهه بسیا نه کوي، د ښېګڼې لپاره یواځې پوهه نه ده چې انسان ښه کس کوي، په هغې باندې عمل دی چې یو څوک ښه کس کوي. دا د هغه چا چې پوهېږي مکلفیت دی چې ښېګڼه وکړي. سقراط د یوه ښه انسان تمثیل کوي، نه ددې لپاره چې هغه پوهېده، بلکې ددې لپاره چې هغه څه و او څه یې وکړل. دا د ځینو هغو تش په نامه روښانفکرو لپاره یوه لارښوونه ده، چې الفاظ په خدمت کې لري او په عقلاني جمناستیک کې تمرین کوي، خو په دې کې بېرته پاتې وي چې "هغه څه وکړي چې تبلیغ یې کوي." پر هغه سربېره دغو فیلسوفانو ویل، چې نیکي او بدي ساري دي او دغه صفتونه په تماس سره نورو ته انتقال کوي.
موږ زیاتره به ومنو چې که څه هم په ښوونځي کې مو ډېر مضمونونه لوستلي وي، موږ یې نومونه هېر کړي، خو موږ استاد الف او استاد ب په یاد لرو چې په خپل شخصیت او کرکټر سره یې په موږ اثر کړی او

زموږ ژوند یې د ټول لپاره اغېزمن کړی دی. څومره خپه کوونکی چې زموږ په وخت کې موږ کوښښ کوو، چې خلک په غېر شخصي او میخانکي وسیلو سره وپوهوو چې د واقعیتونو پوهه اسانه کوي، خو نه ځان پوهه. موږ په پوهنه کې د "مولدیت" په هکله ګړېږو چې لکه زده کړه د څیزونو یوه ټولګه وي، چې د ټولو لپاره تولید او په بازار کې خرڅه شي.

## څلورم څپرکی

# د ښه انسان د شخصیت خاصیتونه_ اعتدال

موږ اوس د خپلې موضوع عملي زړي ته رسېدلي یو. د مشخصو او اساسي خاصیتونو شرح چې د ښه انسان نښې دي لکه هسې چې د یونان فیلسوفانو پرې بحث کړی دی. افلاتون په وار وار هغه څلور ګڼي: اعتدال یا په حال توب، زړورتیا او عقلمني یا هوښیاري. ارسطو لوړ همتي (magnanimity) او وفا پالي یا د قانون اطاعت پرې اضافه کوي. زه به هغسې چې ارسطو پرې بحث کړی ازادي یا سخاوت هم پرې ورګډ کړم، که څه هم دا به ښه وي چې په هغه د عدالت په برخه کې بحث وشي. داسې به زه عزت یا سرلوړي (honor) هم پرې اضافه کړم، که څه هم عزت په فلسفي لحاظ "باندني ښه توب" یانې هغه څه دي چې څه وخت چې هغه د یوه چا په کرکتر کې څرګند شو، هغه ته ورکول کېږي، نه دا چې د هغه د کرکتر برخه وي.
د اعتدال (temperance) اصطلاح د سافروسین (Sophrosyne) ډېر مناسب معادل دی چې د افلاتون د چارمیدز (Charmides) دیالوګ موضوع ده. دغه اصطلاح په حال توب هوښیاري یا منځ لاري توب یا نرمی سره هم ژباړل کېدلی شي.
اعتدال د یونانیانو په فکر د سوچه توب مفکوره نه وه، له هر څیز نه د پرهیز په مانا نه وه. یوناني له ژوند او له هر هغه څه سره چې ژوند ورکولی شول مینه لرله. ځان درک د ژوند په ټولو مرحلو او تجربو کې د برخې اخیستلو په مانا وه. افرودایت

(Aphrodite) ]د مینې او ښکلا الاهه[ او داسې هم آتنا (Athena) ]د عقل الاهه[ د هغه په ژوند کې مهم رول لوبوه. هیپیاس (Hippias) او داسې هم عیب لټونکي ډایوجینس (Diogenes) دلته او هلته له دنیایي څیزونو سره ژوره بې تفاوتي ښووله او د بېړ ته طبیعت غورځنګ ملاتړي او د ځان بسیاتوب تبلیغ یې کاوه او لکه زمونږ د وخت د ځوانانو د ټولنو د غړو په شان یې له شور او زوږ او ښاري فاسد ژوند نه ډډه کوله. ډایوجینس په رڼا ورځ څراغ په لاس داتن په ښار کې "صادق سړی لټوه" او څه وخت چې لوی سکندر ورته ورغی او ورته یې وویل چې څه خدمت درته وکړم، هغه په ځواب کې ورته وویل چې "مهرباني وکړه له ما څخه لېرې شه، تا د لمر مخه نیولې ده".

خو دغسې انسانان ډېر لږ وو. شاعر هومرو وایي چې "مونږ له مېلمستیا، ټنګ ټکور، نڅا، جامو بدلولو او تاوده حمام... سره مینه لرو". سافوکلز اضافه کوي چې "هغه چا چې د خوښې احساس له لاسه ورکړی، لا دمخه مړ دی". یوناني فیلسوفانو منلې وه چې انسانان په دې چې انسانان دي او خدایان نه دي باید له حسې خوندونو څخه یو څه برخه ولري. حتی افلاتون هم منلې وه چې "مونږ ته حتمي ده چې په ګډ ژوند کې ښه ولټوو". له دې څخه د هغه مقصد څه و؟ هغه ویل چې د انسان روح درې ظرفیتونه لري چې د لاس بری توب لپاره مبارزه کوي. لېوالتیا ګانې او غوښتنې چې اقناع غواړي؛ پیاوړي او نه کنټرول کېدونکې انرجي (Thyrnos) چې د عمل پاره هڅول کوي او عقلي قوه چې هغو دوو ته لار ښوونه کوي او کنټرولوي یې په دې ډول مونږ په انسان کې هم مادي او هم روحي ظرفیت مومو خو افلاتون ویل چې پلله باید د روحي ظرفیت په خوا درنه وي.

مونږ د افلاتون په سمپوزییم نومي دیالوګ کې د روحي ظرفیت په اړه دغسې ټینګار ونیو. ډرامه لیکونکي اګاتون (Agathon) یوه مېلمستیا کړې وه چې

له نورو ډرامه ليکونکو سره په سيالۍ کې خپل برى ولمانځي. سقراط د عزتمن مېلمه په توګه مېلمستيا ته ورځي او "خپلې ډېرې ښې ځپلى په پښو کوي". دا د کوربۀ لپاره د هغه غټ امتياز و چې هغه د نورو په وينا "له ځپلى جوړونکو سره په مخالفت کې زېږېدلى و". ملګري هم ورسره وو )تر نن پورې د يونانيانو عادت دى چې په مېلمستيا کې خپل ملګري هم له ځان سره بيايي(. خواړه او شراب پرېمانه وو، خو ټول له دغه شعار سره يوه خوله وو چې هېڅ څيز له حد نه زيات نه (medan agan). هېڅ سمپوزييم بې له عقلاني بحث څخه نه و. د دغې مېلمستيا د بحث موضوع مينه (eros) وه چې يو په بل پسې پرې وغږېدل. دوى د جسمي مينې چې د جسمي ښکلا په برابر کې غبرګون دى او اسماني مينې ترمېنځ چې د ټولو ښکلو څيزونو په برابر کې دروح له مينې څخه پېدا کېږي، توپير وکړ. سقراط په خپل وار وويل چې دواړه ډول مينې مهمې دي او دواړه يې ماشومان زېږوي خو په داسې حال کې چې هېڅ څوک د هغه چا عزت نه کوي چې يوازې "د انسان په شان" ماشومان زېږوي خو هغوى چې په روح سره يې ماشومان پېدا کړي، ښکلي څيزونه لکه عقلمني، ښېګڼه، هنر او شعر د زيارتونو او خلو په درولو سره ابدي کېږي چې په درناوي يې جوړېږي.
ارسطو د اعتدال د بيان لپاره د (mesotis) يا (metriotis) کلمه راوړې چې لفظي مانا يې د مېنځ لارې غوره کول دي. خو دواړه اصطلاح ګانې په اصل کې د اندولیزې اندازې ایډیا ورکوي چې مونږ يې "طلايي وسيله" بولو. دغه حد يا اندازه د ځله کوونکي له پوره پرهېز او داسې هم خوند ته له پوره تسليمى سره مخالفه ده. همدغه ايډيا ده چې يونانيانو يې د ژوند په هرې څرګندونې کې رعايت کړى. په جسمي خوندونو کې، په هنر کې، په معمارى کې، په شعر کې او په جمنا ستيکونو کې د غه نفوذ د يوناني فيلسوفانو په تېره د ارسطو په تفکر کې تر دې حده

موثر و چې له افراطیت نه د ډډه کولو په موضوع کې اعتدال ته په لیوالتیا کې دوی په خپله نږدې افراط ته لاړل.
د انساني سلوک په ساحه کې چې ز مونږ د جسمي خوندونو له کنترول سره اړه لري یوناني اصطلاح انګري شیا (engratia) نومیږي. دا له دواړو افراطونو څخه د ډډې کولو ظرفیت دی چې د پرهیز او بې بندوبارۍ ترمنځ یوه متعادله لار غوره شي او د دغسې لارښود له خوا اداره شي چې ذهن ]یا عقل[ نومیږي. د دغسې لار ښوونې له خوا چې ذهن نومیږي لارښودنه شوې وي، دا د انسان معجزه ده.
بیا هم ازموینه ارادي انتخاب دی. انسان په حتمي ډول اعتدالي نه وي، ترڅو په دغسې حال کې نه وي چې افراطي کیدلی و شي. هغه څوک اعتدالي وي چې موقع ولري بې بندوبار شي او د بې بندوبارۍ وسیلې یې په لاس وي او په دغه حال کې فیصله کوي چې دوافرتوب او تش لاس توب ترمینځ انتخاب وکړي، دی د ښه ذوق انسان دی. دی چې د طلایي وسیلې د اصل په لور هڅول کیږي په هغه باندې په ټینګښت سره ډېر خوند ترلاسه کولی شي.
افلاتون هغه وخت چې د اعتدال اصل په هغو فعالیتونو کې وینې چې له بدن سره تعلق نه لري د خپل "قانونو" په کتابګوټي کې وایي چې انسان دې "د خپل بیخي ډېر غم یا خوښۍ کنټرول وکړي او کوښښ وکړي چې په مناسب ډول سلوک وکړي. که بخت ورسره یاري کوي یا که د خپل ژوند په بحران کې وي، هغه وخت چې ښکاري په لوړه خیږي یا په ژوره کې ننوزي ]او[ خدایان ورسره مخالفت کوي...."
تاسیدایدز دپریکس له قول نه وایي چې "ځکه چې مونږ د ښکلا مینان یو، بیا هم په خپلو ذوقونو کې ساده یو مونږ ذهن روزو بې له دې چې سړیتوب مو له لاسه ورکړی وي". په داسې حال کې چې آی سوکرات (Isocrates) په خپل Panathenalcus کې تائیدوي چې هغوی د فضیلت خاوندان دي چې "خپل خوندونه تل تر خپل کنټرول لاندې لري او په بدمرغیو کې ځانونه نه

بايلي او... هغوی چې په خپلو بر یو سره نه فاسدېږي او هغوی چې خپل رښتيني ځانونه نه پرېږدي، خو د هوښيارو او روغ ذهنه انسانانو په شان خپل ثبات ساتي..." خو مينه پال (Romanticist) ته به وسيله لکه هسې چې دلته بيان شوې او هغه يې له اوسط سره يوه ګڼې اعتدال داسې ښکاره نه شي چې د رسېدلو وړ وي، خو چې هغه احساساتي طبيعت په نظر کې ونيول شي. يوناني په اعتدال کې يو ايډيال ويني او په حقيقت کې د قهرماني ايډيال چې په سختۍ سره حاصلېږي او کوښښ کول ورته ارزي.

په دغه دليل او د انساني طبيعت د اخلاقي کمزورتيا او ناتوانيو په پېژندنې سره ارسطو ومنله چې "ښه کېدل اسان نه دي." په دغې قرينې کې د هغه مانا دا کېږي، چې اعتدالي کېدل اسان نه دي. فيثاغوريان وايي، چې شرېرې طريقې نامحدودې او ښې طريقې يو څو وي. انجيلي "تنګوالی" او "پراخ" ورونه. نو ارسطو کوښښ وکړ چې ايډيال نور هم د رسېدلو وړ وګرځوي، په دغه اعتراف سره چې هغه څه چې موږ يې متعادل معيار ګڼو، يو ټاکل شوی او د رياضي ټکی نه، بلکې د زغم يوه ساحه ده چې په هغې کې هر څوک بايد تر اخري حد پورې زيار وباسي، چې منځنی مقام غوره کړي. د اعتدالي انسان په شان ارسطو به هغه څوک محکوم نه کړي، چې له مبارزې وروسته د اعتدال له حد څخه اوښتی وي. داسې هم هغه به يوه ښه فزيالوجي پوه په شان هغه څوک ګرم نه کړي، چې د کومې ناروغۍ قربانی وي، يا يې په خپګان او ټينګ احساساتي حال کې عمل کړی وي. هغه وايي، چې دغسې ټينګ احساسات "په واقع کې زموږ جسمي عمليو ته تغير ورکوي او زموږ عقلي سوچ فلج کوي." څه عصري فکر! په زړه پورې ده چې دی له ښځو سره مهرباني کوي چې څنګه چې "هغوی ضعيف جنس" دی تر نارينه وو نه ډېر د بښنې وړ دي، ځکه چې د ښځو لپاره لا ګرانه ده چې کوښښ وکړي له طلايې وسيلې نه کار واخلي.

آیا د یوه فرد عمر د هغه په اعتدالي یا افراطي کېدلو پورې اړه لري؟ د ارسطو په فکر لري یې. د بلاغت په اړه کتابګوټي کې ارسطو د هغو په اړه، چې د عمر په قوت کې دي وايي، چې دوی د اعتدال لپاره استعداد او میل لري، په داسې حال کې چې ځوانانو او لویانو ته د افراط یا غیر اعتدال خواص منسوبوي. دی که څه هم عمومي حکمونه او شاید مبالغه کوي، د هغه ددغو درې واړو ډلو وسلوک په تحلیل کې زیات رښتین توب شته. د ځوانانو په هکله داسې وايي:

"ځوانان پیاوړې غوښتنې لري او لېوال دي، چې ترسره یې کړي. د دوی جنسي غوښتنې په خاص ډول پیاوړې دي او کنټرول یې ګران وي، خو هغه تغیر کوي او بدلېږي. ټینګې دي، خو دوام نه کوي. داسې هم ځوانان حساس دي او جذبې یې په اسانۍ پارېدلی شي. هغه تر ډېره وخته له نظر نه غورځول کېدلی نه شي. دوی عزت غواړي، ددې لپاره چې خپل لوړوالی وښيي، تر هغه لا ډېر بری لټوي. دوی پیسو ته ډېر اهمیت نه ورکوي، ځکه چې دوی لا د نه شته والي احساس نه دی کړی. دوی خوش لیدونکي دي، ځکه چې دوی لا له بدۍ سره مخ شوي نه دي. دوی چې د ژوندانه د ناهیلیو او تېرایستنو تجربه نه ده کړې، د باور وړ او زغم منونکي دي چې په اسانۍ سره تېر ایستل کېدلی شي. د دوی هیلې په راتلونکې کې پرتې دي، ځکه چې د ژوند ډېره برخه یې لا په مخ کې ده. دوی په خپلو هیلو تاوده او لېوال دي او وېره یې لږه لیدلې، ډېر زړه ور او ډاډمن دي. دوی لوړ فکرونه خپل کوي، ځکه چې دوی لا نه ژوند واړه کړي او نه له واقعیتونو سره مخ شوي دي... دوی ژوند ډېر په احساس او لږ په عقل سره تېر کړی دی... دوی خیال کوي، چې دوی ټول ځوابونه لري او په دې اړه ډاډمن دي... دوی د زړه سواندۍ وړ دي او دوی نور ښه او تر هغو چې په واقع کې وي لا ښه ګڼي، ځکه چې دوی په نورو په خپل معصومیت سره قضاوت کوي او داسې یې ګڼي، چې ورسره په غیر عادل

ډول سلوک کېږي. دوی ددې پرځای چې هېڅ څیز له حد نه ډېر ونه کړي )meden agan( ، هرڅه له حد نه زیات کوي، ) panta agan( . "
ارسطو د لویانو په اړه وایي چې دوی د ځوانانو په شان د غېر اعتدال خوا ته کاږه دي، خو دوی خپل ځانونه د صحنې په اخوا کې ویني.
"دا چې دوی اوږد ژوند کړی او زیاتره وخت تېر ایستل شوي دي او له خپلو تېروتنو نه یې ربړونه لیدلي دي، بدلېدونکي او له حد نه ډېر محتاط دي. دوی په خبرو کې )فکر کوي(، خو هېڅکله نه پوهېږي او دوی دغسې محتاطه ژبه کاروي لکه )ممکن( او ) شاید(. دوی په خپلو لارو ولاړ دي او د ترخو تجربو له امله بې اعتماده دي... د دوی هیلې محدودې دي، ځکه چې تجربو ورته تواضع ښوولې ده. د هغه پرخلاف، دوی د خپلو راحتونو او اسانتیاو له خوندي کولو سره علاقمن دي. د پیسو په اړه محافظه کار دي، ځکه چې دوی په پرمختللي عمر کې مصونیت ته اړتیا لري او له تجربو نه پوهېږي چې د پیسو ګټل څومره ګران او له لاسه ورکول یې څومره اسان دي، نو دوی په دې چې د هر څه په اړه ډار شوي، رسک نه مني... څومره چې د ژوند پای ته نزدې کېږي، په لا سختۍ سره پرې نښلي. دوی له حد نه ډېر خپل ځانونه غواړي او په خپلو سوکالیو سره هڅول کېږي او د ځان په اړه د نورو له نظریو نه بې تفاوته دي. دوی نظر دېته چې په راتلونکي کې ژوند وکړي، په تېره کې ژوند کوي، ځکه چې د دوی تېره اوږده او راتلونکې لنډه ده، نو دوی له دې سره مینه لري چې د تېرو ورځو په اړه یادونې وکړي. د دوی جسمي لېوالتیا ګانې او غوښتنې یا ډېرې کمزورې یا بیخي له منځه تللي دي. په دې ډول څنګه چې دوی د جسم په خوندونو باندې تغذیه کېدلی نشي، خپل خوند د شتمنۍ په ټولولو کې ویني چې په هغه بهیر کې دوی حساب کوونکي او د محتاط ذهن خاوندان کېږي. د ځوانانو په شان دوی د زړه سواندي حس لري، خو څنګه چې ځوانان ددې لپاره

دغسې دي، چې له نورو سره مینه لري، زاړه په خپلو ناتوانیو سره تحریک کېږي او فکر کوي چې هر مصیبت چې نورو ته پیښېږي، دوی ته به هم پېښ شي."
د لویانو دغه انځور زما د منګ خلکو ته د ستاینې وړ نه دی او زه ګومان نه کوم چې ارسطو چې د نورو په اړه منصف دی، له موږ سره هم منصف وي. ده لږ تر لږه ویلی شول چې ځینې هغه لویان چې ځانونه په جسمي خوند تغذیه کولی نه شي، ذهني خوندونه لټوي، خو له بلې خوا د ځوانانو او لویانو ترمېنځ متضاد انځورونه د رښتین توب مهم عنصرونه لري. ارسطو به په حتمي ډول د ژوند په قوت کې و چې د خپل عمر د خلکو په اړه یې دغه څه لیکلي. دی په انسان کې چې د ژوند په قوت کې و، دغسې شېګڼې ویني چې د هغه د اعتدال یا تعادل له ایډیال سره مطابقت لري. دی لیکي:
"د انسان جسم د عمر له دېرش نه تر پېنځه دېرش پورې په ډېر ښه حال کې دی، خو ذهن او روح یې په پنځوس کلنۍ کې پوخوالي ته رسېږي. دغسې انسانانو کافي ژوند کړی وي چې له تجربې نه ګټه واخلي، خو نه ډېر اوږد چې په ناوړه پېښو سره تریخ شوی وي. دوی له حد څخه نه ډېر ډاډه او له حد څخه نه ډېر بې زړه وي. دوی لا تیار نه وي، چې په هر یوه اعتماد وکړي، یا په هر یوه بدګوماني وکړي، بلکې په هرې موضوع به د هغې د ځانګړتیاوو له مخې فیصله وکړي. دوی د عزت او مصلحت دواړو په کتنې سره هڅول کېږي او غواړي نه خسیس او نه فضول خرڅ اوسي. د خپلو لېوالتیاوو او غوښتنو په حاصلولو کې دوی اعتدال له مېړانې سره یوځای کوي. دوی نه احمقان او نه ډارن وي او د یوې اخلاقي مسئلې په اړه به یو دریغ غوره کړي. دوی په زړه ورتیا کې هوښیار او په عقلمنۍ کې زړه ور وي، په داسې حال کې چې ځوانان زړه ور وي، بې له دې چې هوښیار وي او زاړه هوښیار وي، بې له دې چې زړه ور وي."
دا د انسان د طبیعت په اړه د یو ځیرکتونکي ایډیاګانې دي، نظر دېته چې د انسان د سلوک عملي

تحليل وي. هغه شيي چې د انسان طبيعت د ارسطو له وخت نه ډېر لږ تغير کړی، هغه هم که کړی يې وي.

## پېنځم څپرکی

# د ښه انسان د کرکتر خاصیتونه _ زړه ورتیا او لوړ همتي

اوس د زړه ورتیا یا مېړانې ( **andria** ( په اړه د بحث وخت دی، چې د ښه انسان یوه بله خاصه ده. د ټرای ) **Troy** ( له وختونه وروسته او په تېره له هخامنشي زورواکو پاچایانو سره د مقابلو په وخت کې یونانیانو د فزیکي زړه ورتیا په اهمیت ټینګار کاوه او مېړانه یې ستایله. د هومر د اکیلز ) **Achilles** ( د اتل او د مره تان، سه لامي او ترموپایلای ) **Thermopylae** ( سرتېري په ډرامو، سندرو او شعرونو کې ستایل کېدل او تلپاتې کېدل. سقراط او افلاتون دواړه زړه ور سرتېري وو او ایشلوس ) **Aeschalus** ( چې خپله شناخته لیکله د مره تان په جنګ کې یې خپله برخه یاده کړه، نه دا چې خپلې نامتو ډرامې یادې کړي. افلاتون په خپل غفلت ) **laches** ( نومي ډیالوګ کې وایي، چې زړه ورتیا نه یوازې په جګړې کې لازم او د ستاینې وړ وي، بلکې له سمندري خطرونو سره په مخامخ کېدو یا د ناروغۍ په مصیبتونو یا د بې وزلی په سختیو یا د سیاسي مقام په خطرونو کې هم لازم او د ستاینې وړ وي.

په ټولو حالونو کې لوړ مقصد او عقلي سلوک د زړه ورتیا لومړني اساسي شرطونه دي. په دغسې حالونو کې، چې ر ښتینه زړه ورتیا ښوولـه کېږي، هغه د کرکتر له امله وي، چې په پوهې او عقل سره ورته لار ښوونه کېږي. اجیران چې د جنګ کولو لپاره

استخدامېږي زړه ور نه وي، که څه هم دوی ممکن یوه جګړه وګټي. دوی د پیسو لپاره جګړه کوي، نه د کومې داعیې لپاره چې عقیده لري په ځان قربانې ورکولو ارزي. څه وخت چې دوی وژل کېږي، دا هغه قرباني وي، چې دوی د پیسو لپاره منلې وي، نه د کومې داعیې یا آزادۍ لپاره.
بیا هم یو انسان چې له بل یوه سره په مخامخ کېدو کې چې تر ده ضعیف وي خپله مېړانه ښیي، زړه ور نه وي. دی بس یو زورونکی سړی وي. د منځنیو پېړیو نایټ (Knight) جنټلمین یا ښاغلی و او دا هغه څه دي چې دغه کلمه یې افاده کوي. یونانیانو له ځان ستاینې یا تکبر (Hybris) نه بل څه زیات نه محکوموه او هغه څه چې د انسانانو په اړه صدق کوي، د ملتونو په اړه هم صدق کوي.
په دې سربېره هر هغه څوک چې د شرابو یا دغسې نورو څیزونو تر اثر لاندې خپل قوت ښیي، یانې څه وخت چې دی د خطر حس نه کوي، زړه ور نه وي. زړه ور په اصل کې هغه انسان وي، چې د خطر درک کوي او پوهېږي چې ژوند یې تر خطر لاندې دی او بیا هم دمخه کېږي او غوره ګڼي چې سختۍ وګالي او حتی مرګ قبول کړي، ځکه لکه چې ارسطو ویلي دي "دا ښاغلی توب دی چې دغسې وکړه شي یا ځکه چې ذلیل توب دی چې دغسې ونکړل شي."
د هغو په ستاینه کې چې د مره تان په جګړه کې وژل شوي تاسیدایدز د پرکلس له خولې نه وایي، چې "هغه انسان چې په رښتیا زړه ور شمېرل کېږي، هغه څوک دی چې پوهېږي په ژوند کې څه خوږوالی دی او څه بدوالی او بیا هم بې له ډار نه ځي چې له هغه سره مخ شي چې راځي به."
خو انسان په جګړه کې له جنګیالي نه لا زیات دی. اندریا تر فزیکي زړه ورتیا نه ډېره ده. لفظي مانا یې زړه ورتیا یا مېړانه ده او رښتیانۍ مېړانه د اخلاقي زړه ورتیا مفهوم لري، یانې هغه زړه ورتیا چې یو څوک هڅوي چې د اخلاقي موضوع په هکله ودرېږي او پرې حساب وشي. زړه ور اکیلز و چې

د خپل ملګري پاتروکلوس ) Patroclus ( د مرګ د بدل په اخیستلو کې د ټرای په وره کې وفات شو. تر هغه لا زړه ور سقراط و، چې ددې پرځای چې د کشف کولو او رښتیا ویلو آزادي له لاسه ورکړي، زهر یې وڅښل او د برم ډېر ځلانده تاج د هغه انسان حق دی، چې د اغزیو تاج یې په سر کاوه.

# لوړ همتي

د اخلاقي زړه ورتيا په هکله د ښه انسان بل صفت لوړ همتي يا د روح سترتوب ( **megalopsychia** ) دی. د ارسطو په نظر هغه څوک لوړ همتی دی، چې "سترو څيزونو ته توقع لري" او "مستحق يې دي." که دی يې مستحق وي، مانا يې دا ده چې دی هغسې صفتونه لري چې قادر به يې کړي چې ترلاسه يې کړي. هغه څوک چې ادعاګانې يا توقع ګانې يې له ارزښت څخه زياتې وي، پوچ وي. که ارزښت يې له توقعاتو نه لوړ وي، دواړه روح ( **Micropsycho** ) خاوند وي. دلته بيا هم طلايي وسيلې ته مراجعه په کار ده.
ښېګڼه او صداقت د لوړ همتي انسان صفتونه دي، هغوی چې شتمن او د قدرت خاوندان وي، بې له دې چې ښه وي احتمال لري چې کبرجن او بدغوني وي، ځکه څوک چې شته لري او ښېګڼه نه لري، د ناوړې غرور ښکار کېږي، ځان لوړ ګڼي بې له دې چې د لوړتوب خويونه ولري.
له بلې خوا د ستر روح خاوند د ښکته خلکو په برابر کې اعتدالي او مودب وي. دی کوښښ نه کوي چې خپل قوت يا ظرفيتونه د نورو له ظرفيتونو سره چې تر ده ناتوان وي، پرتله کړي. دی هغه نه دی چې تر ډېره وخته پورې ظلم او ناروا ياده کړي چې په ده شوي. د هغه پرخلاف دی په هغه سترګې پټوي او له ياد نه يې باسي. "د ښېګڼې خاصه ده چې ښه وشي، نظر دېته چې له يوه سره ښه وشي."
د "ستر روح" انسان که په شتمنۍ يا عزتمنۍ، يا قدرت يا برياليتوب يا نابرياليتوب کې وي، ټېنګ او ارام وي. دی عزت غواړي خو يواځې له ښې سرچينې نه او په عزتمنو وسيلو سره او يواځې څه وخت چې

يې مستحق وي. موخه يې رښتينتوب وي، نظر دېته چې برم اوسي. دی خپل روح خوندي او سپېڅلی ساتي.

شپږم څپرکی

# د ښه انسان د کرک تر خا صیتونه _ مدني وفاپالي

پیتارکیا ) Peitharchia ( چې تاسیس شوي یا قانوني مقام ته د وفاپالي یا عقیده لرلو په مانا ده، د ښه انسان او د ښه مدني هم ښاري بلله خاصه هم ده. دغه یوناني کلمه له دوو برخو نه جوړه ده: پیتو د هڅو لو یا قانع کو لو او ارک د قانوني واک یا صلاحیت په مانا، نو پیتارکیا د وړانده منلتوب یا اطاعت مانا نه لري. هغه د قانون د حق توب یا مشروعیت په اړه د عقیدې یا باور مفهوم په ځان کې لري. په لا ښه ډول هغه په وفاپالي تعبیرېدلی شي. دد غې کلمې ډېره ښه بېلګه د لس زرو د مارش په کیسه کې ورکول کېدلی شي، چې زنه فون ) Xenophon ( په خپل انابیسس ) Anabasis ( کې د هغې بیان کړی دی. لس زره یونانیان د کلییرکس ) Clear cus ( په قومندانۍ لاړل چې د پارس د پاچا سیروس، د داریوش زوی لپاره چې له خپل ورور خشا یا رشا ) Artxerxes ( سره چې د تخت په سر ورسره جنګېده، وجنګېږي خو سیرویس په جنګ کې ووژل شو او دغه یونانیان د وړې اسیا ]نننۍ ترکیې[ په مېنځ کې په داسې حال کې چې قومندان یې هم وژل شوی و، له خپل هېواد څخه زر میله لیرې په یوه باندني او دښمن ملک کې ګیر شول. دوی په خپله خوښه په یوې جرګې کې پرېکړه وکړه چې زنه فون خپل قومندان غوره کړي، ځکه چې دوی په دې قانع وو چې هغه د دوی د لارښوونې لپاره تر ټولو وړ و. په وروستیو

ورځو کې د هر يوه له مشورې نه وروسته پرېکړې وشوې او د زياترو په هو کې سره پلان وايستل شو. د زنه فون واک په دغې عقيدې بنا و، چې هغه تر ټولو ښه پوهېږي. د خپل مشر ددغه شعار په منلو سره چې "ټول د يوه لپاره او يو د ټولو لپاره" دوی وکولی شول چې په سره ژمي کې په غرونو باندې په تګ سره چې د ښمن قومونه پرې باندې پراته وو، په ډېرو سختيو بريالي شي او خپل وطن ته په مصؤن ډول ستانه شي. زنه فون وويل چې "په رښتيا چې د رضا اطاعت له اجباري اطاعت نه ميدان ګټي."

اوس به بيا اتن ته وګرځو.

آزادي د اتن د دموکراسۍ له بنسټونو څخه وه، خو آزادي او دموکراسي سره خوا په خوا ژوند کولی نه شي، مګر د قانون په واکمنۍ کې. نو يوه يوناني ته په داسې حال کې چې آزاد ژوند وکړي، فکر وکړي، وغږېږي، تخليق وکړي او سوچ ووهي، حتمي ده چې يو قانون منونکی تبعه وي. د اتن ځوانان په نونس کلنۍ کې مجبور و لوړه وکړي چې د ښار د قانونو اطاعت وکړي، له پلارني هېواد څخه دفاع وکړي او ژمنه وکړي چې راتلونکو نسلونو ته به دغه سې کامنولت سپاري، چې "تر هغه نه چې ماته سپارل شوی و، ووړ نه بلکې هم لوی او هم ښه وي."

ګڼه دا وه چې قانونونه به عادل او معقول وي، قانون د اجتماعي قرارداد محصول و چې ولس به پرې موافقه کوي، په دې ډول چې دوی به له ځينو حقونو څخه د هغو ګډو ګټو په مبادله کې تېرېږي، کوم چې دوی توقع لري له دغسې اشتراک نه راپيدا کېږي. څه وخت چې چارواکي ناعادل او زور واک شي، دوی بيا په اخلاقي لحاظ مکلف نه وي اطاعت يې وکړي. په واقع کې دا بيا د دوی حق او وظيفه وي، چې د بې قانونۍ په برابر کې اعتراض وکړي، تر هغه زيات دا د دوی حق او وظيفه ده چې عوض يې کړي.

تاماس جيفرسن چې د کلاسيکې فلسفې شاګرد و، د امريکې د خپلواکي په اعلاميه کې وليکل:

"...ددې لپاره چې دغه حقونه )ژوند، آزادي او د

نېکمرغۍ لټونه ( خوندي کړي، حکومتونه تاسيس کېږي، د هغو خلکو په مېنځ کې چې خپل حق واکونه د خلکو په رضا سره ترلاسه کړي. هر کله چې حکومت په پښو ودروي، اساس يې په دغسې اصلونو بنا کړي او واکونه يې په دغسې شکل تنظيم کړي، چې دوی ته ښکاره شي چې د دوی په مصؤنيت او نېکمرغۍ باندې به اثر وکړي."

سقراط خپلو ځورېدلو شاګردانو ته چې د مخه ښې لپاره ورغلي وو، توصيه وکړه چې د اتن د قانونو درناوی وکړي چې د تنظيم شوې ټولنې يو اړين شرط دی، خو په خپله يې دوه ځلې د هغو فرمانونو نه سر غړولی و، چې هغه يې ناعادل او د نورو په زيان ګڼل.

دی چې يو ځل د پېنځه سوه کسيزې شورا غړی و، شورا ته وړانديز وشو چې ټول هغه جنرالان دې محکوم شي چې په سمندري جنګ کې يې ګډون کړی و او په دې کې پاتې راغلي وو، چې د خپلو هغو ملګرو جسدونه ترلاسه کړي، چې په جنګ کې لويدلي وو. يونانيانو ته د جنګي مړو خاورو ته سپارل يوه سپېڅلې دنده وه. سقراط ټينګار وکړ چې دغه وړانديز ناعادل او استبدادي دی، ځکه چې عدالت دا دی چې هر جنرال بايد بېل محاکمه شي او ورته موقع ورکړل شي چې خپله بې ګناهي ثابته کړي. دی په دغې موضوع کې يوازې و او په هغې کې يې له هر ډول اخلاقي مسؤليت څخه ځان وژغوره. بيا "د دېرشو دکتاتورانو" يانې د هغو د واکمنۍ په وخت کې چې د پلي پونيز له جنګ نه وروسته سپارتا په اتن کې واکمن کړي وو، کله چې سقراط او نور مامور شول چې سه لامي ته لاړ شي او ليون (Leon) بېرته راولي چې چارواکو غوښتل د هغو په جرمونو کې يې تورن کړي، سقراط ددغه امر له ترسره کولو څخه غاړه وغړوله او که دغه رجيم نسکور شوی نه وای، ژوند به يې له لاسه ورکړی وای.

د انتي ګان (Antigone) په نامه د سافوکلز په تراجيدۍ کې ستړې لوبغاړې انتي ګان د تبز (Thebes) پاچا کري اون (Creon) حاکمانه فرمان

په برابر کې ودرېده، چې ورته یې امر کړی و چې د هغې د مړ ورور د خښولو مراسم دې پرځای نه شي، ځکه چې په هغه باندې د خاین حکم شوی و. انټي ګان دلیل وړاندې کړ، چې خدایان به د غه فرمان و نه مني.

د زورورو او په ځان مئینو انسانانو یوه ډله ممکن هر وخت وکولی شي دغسې اجتماعي نظم جوړ کړي، چې د قانونو او عدالت په مفکورو ولاړ وي، خو هغه به د دوی ګټې خوندي کوي او بیا به دوی بل هر یو تورن کوي، چې د قانون ماتونکي په شان یې د غه قانونه تر پښو لاندې کړي او د جزا وړ شوی دی. د هټلر ملګرو د نازي دولت قانونونه پلي کول چې یهودان له مېنځ نه یوسي، خو د نورمبرګ ( Nuremberg ) محکمې دوی د بشریت د قانون په سرغړونې سره محکوم کړل. موږ ] امریکایانو[ یو کورنی جنګ وکړ، ددې لپاره چې له تور پوټکو سره عدالت وشي او په دویم نړیوال جنګ کې مو برخه واخیستله چې نازېزم له مېنځه یوسو. د امریکې د متحدو دولتونو د اساسي قانون جوړوونکو په اساسي قانون کې د حقونو قانون او وروسته ملونه پرې اضافه کړل. ددې لپاره چې ځینې فردي حقونه د فېډرالي حکومت یا ایالتي دولتونو له حاکمانه عمل څخه خوندي وي. د غه مؤسسان د یونان له فلسفې سره اشنا وو.

د غه ټول پرنسپونه یا اصلونه د بشریت د تجربې برخې دي او د هغو رښتین توب په څرګند او لوړ اواز اعلامووي، سره له دې چې موږ یې کله کله له یاد څخه باسو.

## اووم څپرکی

# د ښه انسان د کرکټر خاصیتونه _ عدالت

پیتارکیا ته نزدې د عدالت په مانا ډیکیوساین )Dikiosyne ( دی، چې د ښه انسان بل خاصیت دی. افلاتون خپل جمهوریت چې د هغه تر ټولو لوی او مهم اثر دی، په انساني اړیکو د عدالت د ماهیت شرح ته ځانګړی کړی دی. په واقع کې ددغه اثر ووړ عنوان د عدالت په مانا همدغه کلمه ده.
ددغه اثر په سر کې د یونان د جاري فورمول ذکر شوی، چې عدالت هر یوه ته د هغه د حق سپارل دي چې مانا یې په عامه ذهنیت کې خپلو ملګرو ته ګټه رسول او دښمنانو ته زیان اړول دي او دا د انعام او جزا ورکولو یوه عنعنوي لار ده. داسې هم عدالت په ډیالوګ کې د یوه ګډون کوونکي له خوا "د قوي په ګټه" تعبیر شوی دی، "حکومتونه قانونه جوړوي چې د حکم چلوونکو ګټې خوندي کړي. بیا نو دوی دغه قانونونه عادل ګڼي او هغو ته جزا ورکوي چې تریېنه سر غړوي." داسې هم پکې ویل شوي چې دغه قانونونه ځینې وخت نه یوازې نور له خپلو شتمنیو څخه محروموي، بلکې دوی هم مریان کوي. د یونان په تاریخ کې دغسې قانونونه ډېر دي، چې فاتحان د مفتوحانو د شتمنۍ د لوټولو او په خپله د هغو د مریي کولو ادعا کوي.
سقراط له هیڅ یوه د غو نظریو سره جوړ نه و، افلاتون له یوه اوږده بحث نه وروسته چې د سقراط د مکالمې طریقه په ښه ډول شرح کوي، سقراط خپل ملګري هڅوي چې ومني چې عدالت په اصل کې ښېګڼه او عقلمنې ده او بې عدالتي بدي او ناپوهي ده، چې

عادل يا صادق سړي ته درناوی کېږي، په داسې حال کې چې له نا عادل شخص نه کرکه کېږي او دا چې د عادل ژوند د ناعادل شخص تر ژوند څخه ډېر ښه او خوښ وي. د هغه په عقیده: "که څوک ووایي چې دا عدالت دی چې هر یوه ته د هغه حق وسپارل شي او که دا په دې مفهوم وي چې د هغه دوستانو ته ګټه او دښمنانو ته یې زیان ورسول شي، هغه عادل یا عقلمن نه دی... ځکه چې یو څوک باید په هیڅ حال کې چاته زیان ونه رسوي." دا همماغه فلسفه ده چې سقراط خپلو شاګردانو ته تفسیروله چې د وروستي ځل لپاره زندان ته د هغه د لیدلو لپاره ورغلي وو. هغه د عیسی[ع] په شان پوره ونه ویل چې "له خپلو دښمنو سره مینه وکړئ" او "د بدي پر ځای ګټه ورته ورسوئ." خو هغه په دغه لور ډېر دمخه ولاړ چې وروسته عیسی[ع] هم محکوم کړ چې "سترګه د سترګې او غاښ د غاښ په برابر کې."
ارسطو په خپل اخلاقیات نومي اثر کې ډېر دقیق شوی چې د عدالت مفکوره او هغه شرایط چې عدالت به یقیني وګرځوي، تحلیل او شرح کړي. هغه چې تر افلاتون نه لږ ایډیالي و د اعدال په بحث کې منلې وه چې د پوره یا مطلق عدالت تعریف او تطبیق ګران دی. دلته هم هغه دغه عملي، متحوله او منځنۍ لار غوره کړې چې د هغې له مخې عدالت "د ښه لا ډېر او د بدي لا لږ" ترسره کوي. یو څوک باید د عدالت په فکر سره وهڅېږي حتی که د پوره عدالت ترسره کولو توان هم ونه لري. ارسطو د عدالت په اړه لکه د هر بل شیز په اړه "عقلي پرنسیب" ته مراجعه کوي. د بېلګې په ډول که یو څوک چاته په خطا یا ناپوهۍ یا په تصادفي ډول زیان واړوي، باید د تاوان جبران وکړي خو څنګه چې عمل یې اختیاري نه دی، ناعادل نه ګڼل کېږي.
ارسطو په اقتصادي ډګر کې نظر وړاندې کوي چې عدالت هغه وخت ترسره کېږي چې جایزې د "استحقاق پر بنا" ورکړل شي چې هغه د یوه چا د اجراءاتو

معادل وي. دا چې له حد نه لږ ورکړل شي، یا له حد نه ډېر واخیستل شي، عدالت نه دی. دی په دغه اړوند سود سخت غندي. هغه په دې فکر و، چې یو څوک چې له پوروړي څخه یو څه ترلاسه کوي چې مستحق یې نه وي، هغه بېعدالتي ده. د دغه حکم ددغه فکر له مخې دی چې پیسه په دغه ډول معامله کې عقیمه وي او شتمني نه تولیدوي، نو هر پور ورکوونکی چې له خپل پور نه ډېر ترلاسه کوي، هغه پیسې ترلاسه کوي چې د هغه شتمني نه ده. داسې هم هغه په دغه واقعیت بنا و چې د ارسطو په وخت کې سوداګري او صناعت تر دغه حده انکشاف نه و کړی، چې متشبثان د پور پانګې ته اړ وي. په دې وختو کې چې یو څوک پور ترلاسه کوي او پانګه په کار اچوي، په دغه مقصد چې له دغه تشبث نه کافي عایدونه ترلاسه کړي چې هم اصلي پور او هم سود بېرته ورکړي، خو په لرغونو او منځنیو پېړیو کې پور ترلاسه کول یواځې د هغو له خوا د استهلاک لپاره و چې په ډېره تنګسه کې به و، نو له ډېرو محتاجو خلکو نه د ربح اخیستلو مانا دا کېده چې د خپلو انسانانو ورونو له سخت حال نه ګټه ترلاسه شي. د منځنیو پېړیو عالم تاماس اکویناس چې د ارسطو د اقتصادي نظریو پر خوا و، ددغه فیلسوف دغه استدلال یې منلی و.

په قانون پوهنه کې د ارسطو مهمه ونډه د "عدالت" او "انصاف" ترمېنځ توپیر کول دي. دغه اصطلاح ګانې سره په تضاد کې نه دي، خو سره یو هم نه دي. انصاف هغه ډول عدالت دی چې د انسان په لاس کې له جوړ شوي قانون څخه اخوا وي. د انصاف سرچینه د کاېناتو قانون، یا د طبیعت قانون دی، چې زموږ په وختو کې د لا لوړ قانون په نامه یاد شوی دی.

ارسطو وایي چې "په داسې حال کې چې عادل او منصف دواړه ښه دي، منصف لوړ دی." وروستی "د حقوقي عدالت سمونه" او دا د هغه د استدلال لنډیز دی: څه وخت چې یو قانون ایستل کېږي، هغه باید تطبیقي موضوع ګانې په غېږ کې ونیسي او په عمومي ډول نافذ شي، خو ځینې وخت ممکنه نه ده دغسې یو قانون

وابستل شي چې په هرې ځانګړې موضوع کې بې له بې‌عدالتۍ نه تطبيق شي. د عالمي عدالت او برابر عدالت په يقيني کولو باندې ټينګار به قانون ايستونکي فلج کړي، نو په هغه حال کې چې ضروري کېږي يو عمومي قانون وايستل شي، ممکنه نه وي هغه په دغه ډول افاده شي چې هره ځانګړې موضوع په منصفانه ډول اداره کړي، قانون ايستل کېږي او په عمومي ډول نافذ کېږي. قانون جوړوونکي "د تېروتنې له امکاناتو نه بې خبره نه وي." دی پوهېږي چې ژوند په ځينو حالاتو کې موږ له غېر عادي وضع سره مخ کوي. په دغسې حالاتو کې قانون که څه هم هغسې پاتې کېږي، لکه په کتابونو کې چې وي، ښه دا وي چې د هغه په تعبير او انفاذ کې له يو څه نرمۍ (epieikeia) نه کار واخيستل شي. د ارسطو په بلاغت نومي اثر کې ويل شوي، چې "انصاف حکم کوي چې د خلکو عمومي ناکامي ګانې له نظر څخه وغورځوو. دا چې د قانون لفظي مانا په نظر کې ونه نيوله شي، بلکې د قانون جوړونکي کرکټر او نيتونه په نظر کې ونيول شي چې ايستلې يې دي، نه يواځې دا چې يوه تورن څه کړي وي، بلکې دا چې که هغه په آزادي ډول عمل کړی وي، نه د هغه دوران عمل ځينې اړخونه بلکې د هغه ټول عمل، نه دا چې هغه په هغې شېبې کې څه کړي وي، بلکې د هغه په ټول ژوندانه کې د هغه سلوک يا کرکټر څنګه و."

زموږ د امريکې د متحدو دولتونو په حقوقي سيستم کې ددغسې مقررو او دکتورينو شته والی دی چې د انګليس د عامه قانون (Common law) او زموږ دغسې وضعي قانونونه تکميلوي او هغه دغسې قانونه عوض کوي چې د يوې عادلې فيصلې لپاره کفايت نه کوي، نو د انصاف محکمې قاضي ته اختياري صلاحيتونه ورکوي، په هغه حال کې چې يو عارض له دغې محکمې نه ددغسې مدني قضيې په اړه فيصله غواړي، چې له پولي تاوانونو نه غېر مسئلې په اړه وي لکه هسې چې په قانون کې يې ذکر شوی وي. مثالونه يې د محکمې په هغې فيصلې کې موندل کېدلی شي چې فرد ته

امر کوي چې له دغسې عمل نه ډډه وکړي چې بل چاته نه جبران کېدونکی تاوان رسوي، یا د طلاق په حال کې په خپل اختیار سره ماشومان مور یا پلار ته وروسپاري او په دغه کار سره د ماشومانو ښېګڼه په نظر کې ونیسي.
هسې چې دمخه ویل شوي د یونان فیلسوفان په دې عقیده وو چې اجتماعي چاپېریال او په خاص ډول حکومتي طرز د یوه فرد کرکټر چې له هغو لاندې ژوند کوي، په ژور ډول اغېزمن کوي او په واقع کې شکل ورته ورکوي. قانونونه د انسان په لاس جوړېږي او هغه د هغو انسانانو د کرکټر او سلوکونو انعکاس کوي، چې جوړوي یې. که دوی ناعادل وي قانونونه به یې هم نا عادل وي. سیاست او اخلاقیات سره نه بېلېدونکي دي، اخلاقیات په واقع کې د سیاست مخکینی شرط دی.
نو د اجتماعي نظم کوم ډول دی چې عدالت خوندي کوي او په انسانانو کې د عدالت روحیه پیاوړې کوي؟
د پلي پونیز د جنګ د ناخوالو او د هغه د پایلو له امله افلاتون د خپل وخت په سیاسي مؤسسو باندې خپل باور له لاسه ورکړ، په تېرو کلونو کې هم فسادونه وو. افلاتون به اورومرو پوهېده چې د اتن خلکو سل کاله دمخه تر هغه له "عادل" ارستیدز ( **Aristeides** ) سره څنګه سلوک کړی وو. دی یو ستر او زړه ور جنرال و چې په مره تان کې د پارسیانو پرضد جنګېدلی و. دی پوره رښتینی سیاستوال هم و او چارې یې په دغسې صداقت سره ترسره کولې چې خلکو یې درناوی کاوه او د "عادل" لقب یې هم ورکړی وو. له دې ټولو سره سره دی له ټولنې څخه وشړل شو. دغه شړل توب ( **Ostracism** ) چې مجازي یا کنایه وي مانا یې تر نن پورې دوام کړی، د اتن د دموکراسۍ یوه عجیبه خاصه وه. خلکو به هر څوک د لسو کلونو لپاره شړلی شو، چې خیال یې کاوه هغه به یوه ورځ د دولت لپاره خطر پېښ کړي. ددغه مقصد لپاره به په یو ډول پوټکي باندې د هغه چا نوم لیکل کېده چې باید وشړل شي، شپږ سوه دغسې پوټکي

کافي وو چې د تورن قضیه فیصله شي.
ارسیتیدز که څه هم د سه لامي سمندري اتل تیمستوکلز ( Themistocles ) سره د عمومي ستراتیجی په سر جنګېدلی و او دغې پېښې به د هغه په شړل کېدلو باندې اثر کړی وي، خو د هغه رښتینې ستونځه هغه ته د خلکو بیخي ډېر درناوی وو. ویل شوي چې په هغه ورځ چې وشړل شو او د رایې ورکولو په سیمه کې ګرځېده او هلته یې یو نالوستی اتنی ولید، چې یې نه پېژنده. دغه یونانی ورته ورغی او ورنه یې وغوښتل چې "مهرباني وکړه په دغه استراکون Ostracon باندې د ارستیدز نوم ولیکه." ده ورته کړه چې هغه څه بد کړي دي؟ ځواب یې واورېد چې "زه نه یم خبر چې بد به یې کړي و" او "زه حتی دغه سړی هم نه پېژنم، خو له دېنه ستړی شوی یم چې هر یو یې د )عادل( په نامه یادوي." ارستیدز څه ونه ویل، خو په هغه پوټکي باندې یې خپل نوم ولیکه.
دغسې پېښو د یونان عدالت د افلاتون په نظر بې اعتبار کړ. پر هغه سربېره هغه په خپل ژوند کې ولیدل چې د پلي پونیز جنګ د پرکلیس طلایي عصر ته د پای ټکی کېښود او دغه جنګ څنګه هم د چارواکو او هم د عادي خلکو اخلاق فاسد کړي و، تر ټولو زیات هغه هېڅ هېرولی نه شو چې دغه دموکراسي چې په واقع کې عام واکي ( Ochlo cracy ) وه چې د هغه استاد یې په مرګ محکوم کړی و. دغو ټولو د افلاتون نظر د وخت د اساسي قانون په اړه اړولی و او هغه د خپل جمهوریت په اوومو او نهمو برخو کې د اتن حکومت او سیاست تر هغو چې ممکن و، د یونان تاریخ ډېر تور انځور کړ.
افلاتون ولیکل چې تجربو ښوولې ده چې ارستوکراسي ) چې دی یې تیموکراسي بولي( چې په تیورۍ او نظر کې د ډېرو ښو او ډېرو عزتمنو حکومت دی، په پای کې د هغو ښکار کېږي چې د شتمنۍ، قدرت او پیسو جوړولو لېوال وي او هغه اولیګارکي ( Oligarchy ) یا د څو شتمنو او مخورو حکومت کېږي. دغسې اولیګارکان یا شتمن بیا د خپلو

ګټو لپاره ولسونه زبېښي او په پای کې دوه طبقې هسکېږي: یوه یې د واکمنو چې واکمني کوي او بله یې د بېوزلو، چې واکمني پرې کېږي. څه وخت چې واکمنان پڼ او لټ شي او ظلمونه تردې حده ورسېږي چې خلک یې زغملی نه شي، ولس پاڅېږي، زبېښوونکي وژني یا شړي او حکومت ترلاسه کوي.
اوس د ډموکراسۍ په وخت کې ټولو مدني تبعه وو ته چې په استعداد یا اخلاقي وړتیا کې به سره برابر یا نابرابر وي، د دولتي مقام نیولو لپاره برابر حق ورکول کېږي، آزادي محور کېږي او غوښتنې او جذبې یا پیاوړي احساسونه په عقلمنۍ باندې لاسبري مومي. زر یا وروسته آزادي په فساد اوړي او شېګڼه له یاد نه ایستل کېږي، حتی طفل هم په عقلمنۍ او پوهه کې ځان له پلار او مور سره برابر او له هغوی نه ځان ازاد ګڼي، په داسې حال کې چې پلار یې چې نه غواړي د دکتاتور په شان ښکاره شي، د هغه د آزادۍ له خیالونو سره جوړه کوي. دغه ځوان په داسې حال کې چې د اطاعت د وړې غوښتنې په برابر کې هم حساسیت ښیي، قانون ته درناوی له لاسه ورکوي او په پای کې هر مدني تبعه ځانله قانون کېږي.
افلاتون دغه حال "په زړه پورې انارکي" نوموي.
اوس نو افلاتون زیاتوي چې هر څوک د واکمني کولو د حق ادعا کوي، که څه هم هر یو د حکومت کولو وړتیا نه لري. حتی د غومره وړتیا هم نه لري چې سم چارواکي غوره کړي، یا د رښتینو داعیو لپاره رایه ورکړي. دغه سیستم د متشبث، فعال او بې پرنسیپ غولونکي د هسکېدلو لپاره ډګر هواروي چې په تبلیغ او د پوچو وعدو په ورکولو سره خلک تېر باسي، چې دی ګواکې یو زړه سواندی پلار دی، خپل مخالفان له مېنځه وړي او ځان په پیاوړو ساتونکو او غوره مالو پوځیانو سره چاپېروي او په اوسپنیز لاس به حکومت کوي. اوس نو دموکراسي مړه وي، استبداد یې ځای نیولی وي. خلکو خپله آزادي له لاسه ورکړې وي، خو افلاتون وایي چې دغه مستبد هم آزاد نه وي. دی چې په فساد سره لوی شوی، د حس مریه شوی، د مقام

غوښتنې احساس پرې باداري کوي، له عقلمنۍ نه په کار اخيستلو کې ضعيف شوی او څپل شوی تبعه ترېنه کرکه لري، وېره او جرم يې شپه او ورځ زوروي او خپل روح ته مستبد کېږي. دلته د بې عدالتۍ لوی سند پروت وي.

اوس نو چاره څه ده؟ افلاتون وايي چې چاره په دې کې ده چې حکومت يوازې ددغسې "ساتونکو" په لاس ورکړل شي چې د ښاري_دولت (Polis) د چارو په اداره کې قدرت له پوهې او ښېګڼې سره يوځای کوي. دغه "ساتونکي" د افلاتون په فکر "فيلسوف پاچايان" دي چې هغوی به له اخلاقي او عقلاني استعدادونو څخه برخمن وي، چې د سياست والي په فن کې به د يوې اوږدې مودې منظمې پوهنې له پړاو نه تېر شوي او د انساني چارو په رښتينې نړۍ کې به د کلونو په بهير کې د تجربو خاوند شوی وي. ددې لپاره چې د ټولو شخصي ګټو په غوښتلو کې بې غرض توب يقيني شوی وي، دغه "دولتي ساتونکي" بايد شخصي شتمني ونه لري، په ګډه ژوند وکړي او ژوند يې په ګډه خوندي شي، پرته له دې چې په هوښيارۍ او په بې غرض توب سره حکومت وکړي. بله هېڅ شتمني ونه لري، حتی فاميلي مسؤليت هم.

نور مدني تبعه به د خپلو استعدادونو او وړتيا له مخې په دوو طبقو سره وېشلي وي: د مرستندويانو طبقه يا واړه چارواکي او سرتېري چې وظيفه به يې د اداري چارو سرته رسول او له دولت نه دفاع وي او د کاسبانو او بزګرو طبقه چې د دولت اقتصادي چارې به په ګډه پرمخ بيايي. په دې ډول عدالت او همغږي به رامېنځ ته شي، د هر تبعه له خوا چې خپله وظيفه به په "اماده توب" سره منې او سرته رسوي چې په دغه کار کې به تر ټولو مناسب وي.

"په اماده توب سره؟" هو، د افلاتون په وينا په اماده توب سره، ځکه د هغه ارث به چې خدايانو حکم کړی او د هغه ځانګړې پوهه چې د هغه د استعدادونو لپاره مناسب وو، هغه طبقه وټاکي چې دی ورپورې اړه لري. افلاتون په دې فکر و چې برابره موقع د

هر چا لپاره برابر بری نه تضمینوي. هغوی چې په دغې ازموینې کې پاتې راشي چې د واکمن په شان چارې ترسره کړي، په دې به قانع شي چې واکمني پرې وشي. ښه مدني تبعه هغه څوک دی چې پوهېږي څنگه واکمني وکړي او څنگه پرې واکمني وشي. په دې سربېره د ډېر زیات نفوسو او د ضعیف نفوسو مخنیوي لپاره افلاتون دغسې قانونونه غوښتل چې د کورنۍ د غړو محدود کولو او د نسل د ښه کولو لپاره واېستل شي او هغه "له ډېر ښه سره د ډېر ښه په جوړه کولو سره وي."

د افلاتون په د غه خیالي پلان باندې انتقادونه راتلونکي وو، آیا ټول واکمنان به د عمل په یوه ځانگړي پلان باندې تل سره جوړه وکړي؟ آیا دغه خطر به ]نه[ وي چې دوی له عامه خلکو سره راشه درشه او د هغو له غوښتنو او اړتیاوو نه خبرتیا له لاسه ورکړي؟ له دښمنو نه د دولت په ساتنه کې به دوی له حد نه ډېر خیالي او د قوي روح له لرلو نه عاجز ]نه[ وي؟ آیا ښکته طبقې به د تل لپاره قانع وي چې په هغه حال کې پاتې وي چې ورته یې تجویز شوی وي؟ د کاسبانو او بزگرو په لاس به د ټول اقتصادي تولید او قوت تمرکز ورته توان ور ]نه[ کړي چې نورې طبقې کنټرول کړي؟ کوم اړیکي به خلک د یوه ملت په توگه سره یو موټی کړي؟

دا ټول ممکن د افلاتون د یوټوپیا ضعیف ټکي وي، خو موږ باید د هغه ددغه اثر )Politeia( په یاد ولرو چې هغه د کومې امپراتورۍ یا د امریکې د متحدو دولتونو څو ژبیز او څو توکمیز هېواد د اوضاع او د هغو د حل په اړه نه، بلکې د اتن په شان د یوه واړه ښاري_دولت په اړه و چې په ژبه او کلتور کې متجانس وو.

دا هم باید په یاد ولرو چې د افلاتون غټ مقصد دا و چې په خپل فکر د یوې ښې ټولنې لپاره ایډیاگانې وړاندې کړي، نه دا چې د یوه عملي اساسي قانون لپاره طرح جوړه کړي. موږ ته گرانه ده چې د هغه په اصلي تیسس انتقاد وکړو او هغه دا چې "تر هغو

چې فیلسوفان پاچایان کېږي... یا هغوی چې موږ یې اوس پاچایان یا واکمنان بولو، زده کړي چې فیلسوفان شي او سیاسي قدرت او عقلمني په هماغه یوه شخص کې سره یو موټی شي... زموږ په ښارونو کې به بدي ختمه نه شي، نه، ګومان کوم په ټول انساني نژاد کې..."

دی په رښتیا د حکومت د ناوړو استفادو او خطرونو په ښوولو سره په سیاسي تیوری کې د غټ کریډټ لرلو استحقاق لري. ددغو خطرونو له ځینو سره د امریکې حکومت نن ورځ لاس په ګرېوان دی.

ارسطو په خپل سیاست لیک (**Politics**) کې د یوه ایډیالي یا خیالي دولت له جوړولو سره چې د هر یوه لپاره به عدالت تضمین کړي، لږه علاقمني ښوولې او له دې سره یې ډېره علاقمني ښوولې چې د ګټې رسولو د پرنسیپونو له مخې د حکومت یو عملي سیستم کشف کړي، ددې لپاره چې د ډېرو خلکو لپاره ډېر ښه والی یقیني کړي. هغه ددغه مقصد لپاره د یو شمېر لویو دولتونو اساسي قانونونه کتلي چې کوم یو به یې عامه ګټې په ښه ډول یقیني کولی وشي.

د افلاتون په شان ارسطو هم د دموکراسی او الیګارکي یا د نفوذمنو حکومت له افراطي حال سره مخالف دی او وایي چې "انسانان فکر کوي... چې آزادي ور ته اجازه ورکوي چې هر څه چې یې زړه غواړي، هغه وکړي... خو دا غلطه ده... دا مړیې توب نه بلکې ژغورنه ده چې د اساسي قانون د مقررو له مخې ژوند وشي." دی "د تر ټولو ښو او د تر ټولو نیکانو" څخه جوړه ارستوکراسي غواړي، له یوې پیاوړې، معقولې منځنۍ طبقې سره چې د شتمني او خوار توب او د لوړ نسب او ښکته نسب د افراطیت ترمېنځ د متعادل څرخ په شان کار وکړي. دده په فکر په دولت کې دغسې منځنۍ طبقه د ثبات عنصر کېږي، ځکه چې غړي یې نه د ډېرو غریبو په شان د نورو د شتمنیو حرص لري، نه دوی حسادت پاروي لکه هسې چې ډېر شتمن یې تحریکوي. دی هم د افلاتون په شان د قانون له لارې د نفوس د کنټرول پلوي کوي او

دواړه وايي چې د ماشومانو زېږېدنه هغوی ته مختصه وي چې د قوت په جوش کې وي. د ښځو لپاره له شلو نه تر څلوېښتو کلونو او د نارینه لپاره د ذهني پوخ والي په وخت یانې له پنځوس نه تر پېنځه پنځوس پورې.

خو ارسطو د ښځو او د ملکیت په برخه کې د افلاتون د ګډ ژوند پلوي نه کوي. دی فامیلي واحد د یوې اساسي مؤسسې په شان ګڼي، چې هغه هم د هغه د غړو او هم د دولت په ګټه وي. دی دولت د کورنیو ټولنه بولي. دی په دوو دلیلونو سره د خصوصي ملکیت د مؤسسې ملاتړ کوي: هغوی چې ملکیت یې شخصي وي په ښه ډول یې پاملرنه کوي، نظر هغو ته چې له هغه څه نه استفاده کوي چې په ټولنې پورې اړه لري. بله دا چې شخصي ملکیت د عدالت له پرنسیپ سره مطابقت لري، چې انعام د وړتیا له مخې ورکوي. هغه وېره لري، چې په کمونزم یا اشتراکیت کې هغو ته چې کار کوي، تر هغه نه چې استحقاق یې وي، لږ ورکړل شي، په داسې حال کې چې هغو ته چې کار نه کوي، ډېر ورکړل شي.

ددغو ټولو له کتنې وروسته یو څوک ممکن وپوښتي چې د اتن دموکراسي او د هغې فیلسوفان به څنګه د عدالت او انساني کرامت د ښځو او مریو له ښکته موقف سره متوافق کړي؟ افلاتون ویل چې ښځې د نارینه وو په شان د مدني تبعه کېدو او دولتي مقام نیولو لپاره استعداد لري. هغه دا هم ویل، چې له فزیکي نظره دوی توپیر لري، هو دوی د نارینه وو په شان درانده کارونه نه شي کولی، خو ښځې او نارینه دواړه یو شان ذهني خاصیتونه لري او که دوی ته هم په هماغه ډول روزنه او پوهنه ورکړل شي، ښځې حتی د دولت د ساتونکو مقام ته هم هسکېدلی شي. ده تایید کړه چې هېڅ نارینه په دې چې نارینه دی، د یوه مقام لپاره وړ یا ناوړ نه وي. لکه هسې چې ښځه هم ده. د افلاتون ډېرو هم مهالو د هغه له دغو نظریو سره موافقت نه کاوه.

د یونان ښځې په واقعي ژوند کې د نارینه وو

سرپرستې وې. دوی مدني حقونه نه لرل، په حکومت کې ورته برخه نه ورکول کېدله او له رسمي پوهنې څخه بې برخې وې او کله چې به نورو نارینه وو د فامیل له مشر سره لیدل، دوی به د کور ګوښه برخې ته شوې. د نارینه مجردو ځوانانو ترمېنځ جنسي اخلاقیات برالا او بې خنډه وو او د نارینه او ښځو لپاره، لکه د ابتدايي انسان په وخت کې، دوه معیارونه مروج وو. له دغو ټولو سره سره سمه نه ده چې فکر وشي چې په یونان کې د ښځو مقام مهم نه و. ماینې د ملت میندې وې او د پلار واکي کورنۍ په غېږ کې دننه د هغو عزت او اطاعت کېده. د متاهلو نارینه وو ترمېنځ زنا هغومره عامه نه وه، لکه د راپورونو له مخې چې نن ورځ په امریکې کې ده او طلاق چې یو ساده کار و، پکې لږ و.

میندې او لوښې لومړی اقتصاد پوهانې (economists) وې او د کورنۍ تنظیم یا اداره (oeconomia) د دوی په لاس وه او په هغه وخت کې چې د خوړو او پوښاکو په اړه فعالیتونه په کور کې متمرکز وو، ښځو مهم اقتصادي رول لوبوه. ددغو دندو په ترسره کولو کې به مریانو له ښځو سره مرسته کوله. داسې هم ښځې په مجسمو، انځورونو او ډرامو کې تمثیل کېدلې او په اولمپس کې یې په مذهبي رسمونو کې ګډون کاوه. په پای کې نارینه که څه هم له بې بې هوا څخه وروسته له قانوني حقونو څخه بهره من وو، "د ښځو تر واکمنۍ یا اثر لاندې یې ژوند کړی" چې د هغه له امله ارسطو پوښتلي چې "څه فرق کوي چې ښځې واکمني کوي یا واکمنان د ښځو تر واک لاندې واک چلوي؟"

مریي توب یوه پخوانۍ مؤسسه ده چې نېټه یې د هومر تر وخت پورې رسېږي، که څه هم په دغو لومړیو مهالونو کې ښځې او مریان دواړه د لوړ حیثیت خاوندان وو. مریي توب د فیلسوفانو په وخت کې په اتن کې یوه منل شوې مؤسسه وه. ځینې مریان د "بربر" له ملکونو څخه راوړل شوي وو او نور یې یونانیان یا بربریان یا دولتي اسیران وو. دغه

طرز په بېلو دولتونو کې سره توپیر لاره، خو مریان په ټولو دولتونو کې د هغو د څښتنانو شخصي مال وو چې د ژویو په شان پلورل کېدل او رانیول کېدل.
د اتن د مریانو د مقام او سلوک په اړه موږ د امریکې په سهیل کې د مریي په سیستم کې مثال نه مومو. د یونان زیاترو مریانو ډېر ښکته کارونه کول او په کرنې او کانو کې د دوی ونډه په طبیعي ډول ډېره وه. له بلې خوا ډېر یې ماهر صنعت ګران یا کاسبان وو چې له مدني تبعه وو سره به یې یوځای او په واقع کې له هغو سره په سیالۍ کې کار کاوه او دغسې شکایتونه به یې کول لکه او سنې کارګر یې له هغو فابریکو څخه کوي چې په لږې اجورې ډېر کار غواړي. ځینو یې د مریانو وظیفه ترسره کوله او د څښتنانو ماشومان به یې ښوونځیو ته بیول. ډېر شمېر یې د عامه سرویس په ټولو لیکو کې استخدامېدل او دوی خپله ازادي د کوم مهم عامه خدمت په ترسره کولو یا د ښار په دفاع کې د ځانونو په ممتاز کولو کې حاصلولی شوه.
د افلاتون په ویـنا سقراط د یونانـي له خوا د یونانـي د مریي کولو مخالف و او هغه یې "یو لعنتي څیز" باله. ویل یې چې ټول یونانیـــان د یــوه آواز او د خپلــوي روح خاونــدان دي او ټـــول ســره جنګــي ښارونه باید هغې ورځې ته سترګې په لار وي چې خپل اختلافونه سره پخلا کړي. پر هغه سربېره دده په فکر د یوه ټول ولس مریه کول د ښځو په ګډون په داسې حال کې چې یو څو کسه په جنګ کې سره مقابل کېږي، غیر عادل دي.
رښتیا دا ده چې یونانـیانو که څه هم د هر سړي لـپاره د پوره ځان درک کولو په ایډیال باندې عقیده لرله، د ټولو نارینه وو لـپاره په طبیعي برابری یا په بالقوه استعداد باندې معتقد نه وو. افلاتون په دې فکر و چې "ځینې د واک لـپاره او نور د واک چلول کېدلو لـپاره پیدا شوي دي" او دده پـــه خیالي دولت کې د مریانو ښکته مقام د هغه د کار د وېش لـپاره مناسب و. ځینې کسان باید ډېر ښکته

بدني کارونه وکړي او په دغه ډول اصلي تبعه وو ته چې نېغه واکمني کوي، موقع ورکړي چې فکر وکړي. د رښتين توب لپاره څېړنه وکړي او د خپلو مدني چارو د کولو لپاره وخت ولري.
ارسطو څنګه چې مريي توب يې د اتن د دولت په ژوند کې نه بېلېدونکې برخه ليدله، په خپل سياست نومي اثر کې چې څومره کولی شو کوښښ وکړ په ښه ډول يې شرح کړي. ده له افلاتون نه زده کړې وه، چې "ځينې کسان د زېږېدنې له شېبې نه ورسته د تابع کېدلو او نور د واک چلولو لپاره پيدا شوي دي." ده له دغه تيسس څخه پيل وکړ چې فاميل د کسانو ټولنه ده، چې د دولت د ژوند لپاره اساس وي. دا سې هم هغه اقتصادي واحد دی او بايد د ژوند اړتياوې پوره کړي. مريه د کورنۍ د غړي په توګه دغسې څوک ګڼل کېده چې د ښکته ظرفيت خاوند وي، په خپلو لاسو سره کار کوي او د خپل خاوند لوړ ظرفيتونه، ذکاوت او کرکټر تکميلوي. مريه د خپل خاوند "ژوندی سامان" دی او په هغه پورې اړه لري. دا د کار يو ډول طبيعي وېش او تعاوني تجويز دی چې هم د خاوند او هم د مريي په ګټه دی. ارسطو ويل چې دا طبيعت دی نه انسان چې مريي ته يې په دغسې تابع حال کې ځای ورپه برخه کړی دی، نو په دې ډول مريي توب يوه طبيعي او عادله مؤسسه ده.
ارسطو دا هم زر پرې اضافه کوي چې ګرانه ده هغه نظر له پام نه وغورځول شي چې مخالف يې وړاندې کوي او استدلال کوي چې مريي توب يو غېر طبيعي کار او په دې ډول يوه ناعادله مؤسسه ده، چې حق شايد د هغه پر خوا وي ځکه چې ډېر مريان په دغه حال کې دي نه په دې چې دوی د ښکته استعداد خاوندان دي، بلکې د دوديز قانون له امله چې لاس برو ته يې حق ورکړی چې لاندې کړي مريان کړي. دی وايي چې ډېرو حقوق پوهانو دغه عمل چې زورور ضعيفان خپل مريان ګرځوي، جرم ګڼلی. موږ په حقه اضافه کولی شو چې څنګه چې دلاندې شويو يونانيانو په منځ کې چې مريان شوي وو، شايد په زرګونو دغسې کسان وو چې د

اتن په کوڅو کې ګرځېدل چې د خپلو خاوندانو له ذکاوت او اخلاقي ظرفیت سره برابر یا ترېنه لوړ وو.
لوټماري او حرص زموږ تر وخت پورې ددې لامل شوی چې ضعیفان د زورورو له خوا وزبېښل شي او له موږ نه ډېر په دغه کرغېړن عمل باندې سترګې پټوي. حتی زموږ په وخت کې هم دغسې سفسطې لږې نه دي چې دغسې زبېښاک په حقه وښيي. په امریکې کې د تور پوټکو حال ته ځیر شئ، حتی عیسویت هم چې د خدای تعالی په نظر چې د برابرۍ او د انسان د شخصیت ښوونه کوي، بریالی شوی نه دی چې د مریي توب مصیبت، سیاسي وي یا اقتصادي، د ځمکې له مخ نه له مېنځه یوسي. د عیسی[ع] دغه وینا چې له خپل ګاونډي سره د ځان په شان مینه وکړئ او د سان پال دغه وینا چې "نه یوناني او نه یهود او نه مریه او نه آزاد شته، ځکه چې تاسې ټول یو یئ...." تراوسه هم د یو څو تنو ایډیال دی، نه د ډېرو عمل، خو راځئ چې دغه څپرکی د خوښ لیدلو په دغې وینا ختم کړو، چې موږ یو څه پرمختګ کوو.

# اتم څپرکی

## د ښه انسان د کرکټر خاصیتونه _ عقلمني

تر دغه ځایه زموږ د بحث لنډیز دا کېږي، چې ښه انسان د اعتدال، لوړ همتی، زړه ورتیا، وفا پالي او عدالت له صفتونو نه بهره من وي. هغه وروستی ښېګڼه چې د یونان فیلسوفانو تر نورو ښېګڼو څخه لوړه ګڼلې، که څه هم له موږ نه ډېر به یې لرلی ونه شي سوفیا ) **Sophia** ( ده چې په هوښیاری یا عقلمنی ) **Wisdom** ( سره ژباړل شوې ده، چې مانا یې له عملي عقل نه زیاته وي. له فلسفي نظر نه د سوفیا او فروني سیس ) **Phronisis** ( ترمېنځ توپیر ډېر دی، که څه هم موږ په عملي مقصدونو کې د هغو ترمېنځ توپیر په دقیق ډول کولی نه شو.
فروني سیس عملي احتیاط یا لیرې لید دی. څه وخت چې یو څوک که په فروني سیس ډول له عقلمني یا هوښیاری نه کار اخلي، په دغه اړه په ژور ډول فکر کوي، چې ډېره ښه او مناسبه لار به کومه وي چې دی پرې یون وکړي؟ هغسې لار چې دده په ګټه وي.
د سوفیا ددغه ډول عقلمنی نه په کار اخستلو سره یو څوک د وړو او غېر مهمو څیزونو په فکر نه وي، هغه غواړي پوهه د پوهې په خاطر خپله کړي، نه د هغې ګټې په خاطر چې په پوهې سره به یې خپله کړي. څوک چې د سوفیا له عقلمنی سره سر او کار لري، هغه د معنوي یا روحي څیزونو په فکر وي لکه د هغه ماهیت او سرچینه، د هغه ژوند مقصد، د هغه روح، د هغه برخلیک، د کاېناتو روح او خدای تعالی. هغه غواړي ددغو څیزونو په رښتین توب پوه شي او خپل ژوند له هغو سره همغږی کړي. څه وخت چې انسان په

د غه ډول بو خت وي هغه د یو نان د فیلسوفانو په نظر، د خدایانو ژوند ته نزدې کېږي او له دننی ارامی نه خوند اخلي.
سوفیا د خدای تعالی هغه نعمت دی، چې انسان قادر کوي چې خدای تعالی وپېژني.
مهمه ده چې د یوناني روح دوه ستر شاهکارونه په اتن کې د پارتینن (Parthenon) لمونځ تون ته او په استانبول کې د هاګیه سوفیا (Hagia Sophia) بیزانسي لویې کلسا سپېڅلې عقلمنۍ ته ډالۍ شوي دي.

# پایلیک

په تېرو څپرکيو کې کوښښ وشو چې هغسې چې د يونان فيلسوفان پوهېدل، د ښه انسان د کرکتر خاصيتونه او هغه حالات بيان کړل شي، چې د دوی په فکر ددغسې خاصيتونو په انکشاف کې به مرسته وکړي.
په اتن کې ښه او صادق انسانان وو، خو د يونان وګړو نه د خپلو فيلسوفانو د نظريو او ښوونو قدر وکړ او نه يې يې په لار لاړل، چې دا يو عام تاريخي حقيقت دی.
يونانيانو د ظريف، حساس، قوي_روحه، آزاد فکر، فصيح ويانند، سپورتي لوبغاړي ستاينه کوله. هېڅ څوک به ددغو ټکو په سر ورسره مخالفت ونه کړي، خو د دوی د ډېرو عملونه انتقامي او د بې اتفاقۍ هم وو او په سياست کې د دوی لېوالتيا دوی په ډلو سره ووېشل، چې پای يې دننه ښاري او د ښارونو ترمنځ جګړې وې. لويانو يې عزت يا برم )**doxa** ( ته دغومره ډېر ارزښت ورکاوه، چې دوی په شخصي مقام غوښتنې سره تحريک کېدل چې په ښې يا بدې وسيلې وي، بری ومومي. داسې هم دوی دا د لاس برو حق ګاڼه چې لاندې کړي لوټ او مريي کړي.
د افسوس ځای دی چې له سقراط نه دوه نيم زره کاله او له عيسی[ع] نه دوه زره کاله تېر شوي، خو بيا هم د دوی او د نورو اخلاقي نظريې د وګړو په ناپوهۍ او تعصب غالبې شوي نه دي. جنګ، بې رحمي، نژادي جګړه، غريبي، سياسي فساد، حرص او ځان غوښتنه لا هم له موږ سره دي. نو يو څوک شايد ووايي چې د ښه توب ايډيال او د ښه انسان خاصيتونه هغسې چې په دغې ليکنې کې تر بحث لاندې نيول شوي، له حد نه دغومره لوړ دي چې د عادي فنا کېدونکو په ژوند کې

به عملي نه شي، ځکه چې هغه نه یواځې د اخلاقي قوت لوړه درجه بلکې ذکاوت هم غواړي چې ډېر یې له هېڅ یوه څخه بهره من نه ښکاري.
سره له دې هم چې ومنله شي، چې د ښه انسان کلاسیک ایډیال یواځې لږو انسانانو ته منحصر دی، دا د هغو له اعتبار نه نه د انکار او نه د کم ارزښتۍ په مانا دی. یو ایډیال دغسې یو څیز دی، چې ورر سېدلو ته یې باید زیار وایستل شي. هغه د ایورست د څوکې په شان روڼ او ځلاند ولاړ وي، چې یوازې یو څو تنه ورته رسېدلی شي، خو بیا هم د هغه انسان لپاره هلته شته چې ورته ګوري.
د یوناني شاعر هسیود ) Hesiod ( وینا ده، چې "بدي په اسانۍ سره ترلاسه کېږي... ځکه چې لار یې هواره وي او بدي پکې وي، خو د فنا کېدونکو د ښېګڼې په مخ کې یې ستونزه ایښې ده، د رسېدلو لار یې اوږده، ژوره او له کنډکپر نه ډکه وه."
له ځینو تضادونو سره سره په عمومي ډول د یونان فیلسوفانو دا سې حس کول له او موږ باید ور سره موافقت وکړو، چې هر انسان د خپل استعداد او ذکاوت په حدودو کې دننه خپل ځان ته مسؤل دی چې څومره کولی شي، د ښېګڼې په زینه کې پورته وخېژي.
انسان هم جذباتي او هم عقلي وي، که یواځې په جذبې یا احساس سره په حرکت شي، د مصیبت په لور درومي، که یواځې په عقل سره خوځېږي، کاهل او غېر مؤثر وي، خو دا پوره ممکنه او په واقع کې ضروري ده چې د انسان عقل او احساسات سره په ګډه کار وکړي، په دغه ډول چې د هغه احساسات د هغه د لارښود او موخې په ډول خدمت وکړي.
دا د ښه ژوند او په واقع کې د خوښ ژوند راز دی.
سقراط ویل، چې "د ښه سړي لپاره نه په ژوند او نه په مرګ کې شر پیښېږي. جسم به یې له مېنځه لاړ شي، شتمني به یې لوټ شي، خپل مقام به له لاسه ورکړي، خو هېڅ څوک د هغه د شته والي زړی یاني روح له مېنځ نه وړلی نه شي." او پروفیسر پال شوري ) Paul Shorey ( چې شاید ډېر ستر افلاتون پوه وي، د هغه د

جمهوریت په ژباړه کې اضافه کوي، چې "د روح ټولې غیب ویناوې او د تجربې ټول ژور تعبیرونه دغه درس په ټینګار تائیدوي چې د ژوند هغه طریقه چې موږ به د تلپاتې محکمې عدالت ته بې له ډار نه وړاندې کړي، هغه طریقه ده چې نېکمرغي دلته موږ ته راپه برخه کړي."
د یونان فیلسوفانو هغه ایډیالونه چې موږ ته یې په میراث راپرې ایښي دي، د نهایي عقلمنۍ او ښه توب په اړه په خدای باندې اعتقاد، د روح تلپاتي توب، د عقل واکمني، د رښتین توب لپاره څېړنه، د اعتدال عدالت، د عدالت لپاره پلټنه او د عقلمنۍ لپاره هیله وه. یهودي او عیسوي اخلاقیاتو د غه صفتونه تایید کړي او په هغو باندې یې د سولې، سخاوت، زړه سواندی، زغم او له ګاونډي سره مینه د انساني ورورۍ صفتونه اضافه کړي دي. د سلوک په دغسې طرح باندې اعتقاد به په جنت کې د انسان لپاره ځای یقیني نه کړي، خو ورسره به مرسته وکړي چې نور هم ښه او خوښ ژوند وکړي او په دې ډول له جنت نه یو څه ځمکې ته راښکته کړي.

پای

*لکه چې په خپلې سریزې کې مې ویلي له دغه کتابګوټي سره مـــــــې د پروفیســــــــــــر جیمـــــــــــــز راکیلـــــــــــز (James Rachels ) له یــوه اثــر (فسلفي مسئلې) نــه دوه څپرکي نښلولي، په نامه د (سقراط میراث) او (موږ ولې باید اخلاقي اوسو؟) دغه څپرکي ددغې لیکنې موضوع ګانې نورې هم روښانه کوي او په خاص ډول د محکمې د حکم په اړه د سقراط سلوک په تحلیلي او انتقادي دول تر کتنې لاندې نیسي.*
*"کاکړ"*

# د سقراط میراث

خو زما ګران کرېټو! ولې موږ هغه ته چې "خورا ډېر خلک" فکر کوي، دغومره ډېره توجه وکړو." سقراط د افلاتون په کرېټو کې

## سقراط ولې محکوم شو؟

د برتانیې په موزیم کې د سقراط یوه مجسمه ولاړه ده چې ممکن د هغه له مړینې نه 69 کاله وروسته، له میلاد څخه دمخه په 330 کې جوړه شوې وي. د هغې لـه مخې د سقراط ونه لنډه او غړي یې پیاوړي وو، سر یې له ویښتو نه خالي و، ږیره یې ګڼه او پوزه یې پلنه او پیټه وه. دغه څېره له هغه انځور سره سر خوري، کوم چې افلاتون کښلی و.
سقراط هېڅ لیکنه نه ده پرې ایښې، نو موږ چې د هغه په اړه نزدې هر څه پوهېږو د هغه د شاګرد افلاتون د لیکنو له مخې ده، چې د هغه په اړه یې کړي دي. موږ د افلاتون له ډیالوګونو نه پوهېږو، چې سقراط د اتن په عامو ځایونو کې ګرځېده او د غټو مسئلو لکه د رښتین توب او عدالت په اړه یې له ځوانانو سره بحث کاوه. موږ دا هم لولو چې دی د ځوانانو په فاسدولو تورن شوی او له محاکمې وروسته په مرګ محکوم شوی و. دا چې ولې دغسې وشول، مرموز غوندې ښکاري. د اتن خلک دموکرات وو او په خپلو ازادو او عقلاني اجراءاتو یې ویاړل. ولې دوی یو فیلسوف د هغه د ښوونو له امله په مرګ محکوم کړ؟.

د افلاتون په وینا، سقراط "د ځوانانو په فاسدولو" او د "مقدساتو په سپکاوي" تورن شو. لومړنی تور ناڅرګند دی او جزئیات یې ترلاسه شوي نه دي. په خپله سقراط نظر ښکاره کوي چې ممکن سم نه وي چې دې ځوانانو ته په تعلیم ورکولو سره چې باید پوښتنې وکړي، تورن شوی وي. داسې ښکاري چې دویم تور هم جوړ شوی وي. سقراط د دین پر ضد نه و، په محکمه کې یې اعتراض وکړ چې دی د دیني رسمونو رعایت کوي، خو داسې ښکاري چې دی په غیر مروجو نظرونو معتقد و. د لرغونو پوهو متخصص ګریګوري ولاستوس ( Gregory Vlastos ) نظر ورکوي چې د خدایانو په اړه د نویو فکرونو وړاندې کول شاید په خپل ذات کې کافي نه و چې په قانوني تورونو تورن شي، خو "د اتن سرکونو ته د هغو کشول" چې سقراط په رښتیا دغه کار کړی و، د هغه د ستونځو علت کېدلی شي. سره له دې هم د افلاتون روایت شاید ټوله قیصه نه وي.

نو سقراط ولې محکوم شو؟ دا به ښه وي چې په یاد ولرل شي چې سقراط چې د وروستیو نسلونو له خوا په درناوي یادېږي، په خپل وخت کې وګړو ته منلی نه و. )هغه په خپله ویلي و چې تورونه له دې امله راولړل شوي چې دی د خلکو نه خوښېده.( د دلفي ) Delphi ( ستر پوه ویلي و چې دی تر ټولو انسانانو نه ډېر پوه دی او سقراط دغه ستاینه ومنله، خو په یوه عجب شرط سره او هغه دا چې دی هوښیار دی، ځکه چې پوهېږي چې ځومره ناپوه دی. دا یوه خوښوونکې تواضع وه، خو مشکل دا و چې سقراط "اسماني رسالت" په غاړه اخیستی و چې نورو ته وښیي چې دوی هم ناپوهان دي. ده په خپلو عادي بحثونو کې اورېدونکو ته د هغوی له زورېدلو سره سره ویل چې د هغو ټول نظرونه ناسم دي. دا به ددې لامل شوی وي چې خلک حاضر شول چې ورته یو سبق ورکړل شي، حتی که دا د هغه په مرګ محکومېدلو لپاره دلیل نه کېده. دی به ارومرو لانجه خوښوونکی او زوروونکی ډول انسان و.

سياست به هم دلته رول لوبولی وي. د اتن خلکو په خپلو دموکراتو مؤسسو ویاړ کاوه، خو سقراط د هغو په ویاړ کې ځان نه ګډوه. هغه د افلاتون په وینا د دموکراسۍ ډېر ټینګ منتقد و، شکایت یې کاوه چې دموکراسي چې انسانان د واکمنۍ مقام ته هسکوي، د هغوی د عقلمنۍ یا وړتیا له مخې نه وي چې حکومت وکړ، بلکې دی د هغه قابلیت له مخې وي چې وګړي په پوچو وعدو سره غولوي. په دموکراسۍ کې دا رښتین توب نه، بلکې اجتماعي اړیکي دي چې اهمیت لري. په اتن کې په دغه اړه لا دمخه ماهران هسک شوي وو. د هغه وخت ډېر نفوذناک ښوونکي سوفسطائیان وو، چې د هغوني په فن کې یې ښوونه کوله او د "رښتین توب" په اړه برالا شکمن وو. که هغوی دوه زره او څلور سوه کاله وروسته اوسېدلای، دوی به د عامه رسنیو مشاوران، د ذهن سروې کوونکي او د نظرونو جوړونکي وای.

که د اتن دموکراسي مصؤنه وای، د سقراط مخالفت به یې غنیمت ګڼلی وای، لکه نن ورځ چې د لویدیځ دموکراسي انتقاد زغمي، خو د هغوی دموکراسي ټینګه نه وه، یو لړ ټکانونه یې خوړلي و چې تازه یې د سقراط له محاکمې نه دمخه پېښ شوي و. د کریتیاس (Critias) په مشرۍ یوه ډله خلکو چې د دېرشو مستبدانو (The Thirty Tyrants) په نامه یاد شوي دي، یوه خونړۍ کودتا کړې وه. کریتیاس د سقراط شاګرد و، سقراط د خپلې محاکمې په وخت کې دغه مستبدان سخت وغندل او د "شریر" په نامه یې یاد کړل. سره له دې هم اسانه ده چې د اتن لویانو به د سقراط په تللو سره په راحت سره ساه کښلې وي.

دغه کوښښ چې معلوم کړي، ولې هغه پېښه چې دوه زره او څلور سوه کاله دمخه شوې وه، اوس هم زوروونکې ده، په دغه حقیقت سره نوره هم غېر یقیني کېږي چې ټول هغه کسان چې پکې د خیل وو، هر یوه بېله محرکه لرله. ځوک په دې پوهېږي چې یو باندې پېښځه سوو منصفانو ولې هغسې رایه ورکړه، چې یې ورکړه؟

افلاتون مرسته نه کوي، هغه يواځې د سقراط وينا راوړي، نه د هغه د تورنو. په هر حال، سقراط محاکمه شو، مجرم وګڼل شو او په مرګ محکوم شو. جزا له حد نه زياته ښکاري، خو سقراط هغه تر يوه حده په خپله په ځان راوړه. د محکمې د مقررو له مخې ده ته اجازه وه چې د جزا وړانديز وکړي. هغه ددې پرځای چې د کومې معقولې جزا وړانديز وکړي، غوښتنه وکړه چې د هغو خدمتونو په برابر کې چې يې دولت ته کړي، ده ته دې عمري تقاعد ورکړل شي. دغه "خدمتونه" هغه فعاليتونه وو چې همدا اوس پرې مجرم ګڼل شوی و. وروسته له هغه چې ملګرو يې مداخله وکړه، سقراط د يو واړه جرم ورکول ومنل. نو دا ډېره عجيبه نه معلومېږي، چې د منصفانو هيئت د هغه د تورنو غوښتنه ومنله.
خو دغه حکم په اصل کې ډېر سخت نه و، ځکه چې هېڅ چا فکر نه کاوه چې سقراط دې په رښتيا مړ شي. تبعيد يو نا رسمي بديل و. هغه وخت چې دی د وژل کېدلو په انتظار و، د پرار و ساېل ورته برابر شول. ډېر ښارونه تيار وو چې ويې مني او استازي يې له پيسو سره ورغلي وو. د افلاتون د ليکنې له مخې هېڅ څوک د سقراط پرار ته خنډ نه کېده. دښمنانو يې غوښتل دی پرار ته اړ کړي او ملګري يې حاضر وو، مخه ښه ورسره وکړي.
خو سقراط نه لاړ، پرځای يې د تښتېدلو په مخالفت او پلوي فکر وکړ. ده تل په ټينګه ويل چې موږ بايد د عقل په لارښوونې سره سلوک وکړو. ده ويل چې په هر حال موږ بايد هغه څه وکړو، چې د کولو لپاره يې ښه دليلونه لرو. دغه وخت د هغه د غې ايډيا ته د هغه د ژمنې نهايي ازموينې وخت رسېدلی و، په داسې حال کې چې بيرون بېړۍ په انتظار وه، سقراط کرېټو ته کړه چې که د تېښتې لپاره ټينګ دليلونه وو، دی ولاړ به شي او که د پاتې کېدلو لپاره دليلونه پياوړي وو، پاتې به شي. وروسته له دې چې په دغې موضوع يې له هر اړخ نه سوچ وکړ، سقراط دې نتيجې ته ورسېد چې د محکمې له حکم نه

سر نه شي غړولی. بیا نو دی پرځای پاتې شو، د محکمې له حکم سره یې سم زهر وڅښل او مړ شو. ده به داسې میل هم لاره چې دغه کار به یې وروستیو نسلونو ته د یاد وړ شخص وګرځوي. د اتن خلکو ته یې خبرداری ورکړ چې دا به د دوی نوم وي چې دده په مرګ سره به محکوم شي، نه دده.

## سقراط ولې معتقد شو چې باید مړ شي؟

سقراط "لومړنی فیلسوف" نه و، دغه لقب د تهالیس (Thales) استحقاق دی چې یې یو پېړی دمخه تر هغه ژوند کاوه. )ولې تهالیس؟ ځکه چې ارسطو هغه په دغه لست کې نیولی دی.( سره له دې هم تاریخپوهانو تهالیس او نور چې تر سقراط دمخه راغلي وو، تر سقراط مخکې بللي لکه دا چې هغوی تر تاریخ نه دمخه کوم ډول فیلسوفان وي او د فلسفې تاریخ له سقراط نه پیل کېږي.
د هغه دکتورین هغومره نه، بلکې د هغه طریقه وه چې سقراط یې تر نورو څخه ممتاز وګرځاوه. هغه په استدلال دده کوله او ټینګار یې کاوه چې حقیقت یواځې په عقل سره لوڅېدلی شي. تر هرڅه نه زیات د هغه میراث د هغه په دغې عقیدې بنا دی چې ډېرې مجردې پوښتنې هم په عقلي تحلیل سره حل کېدلی شي. عدالت څه ته وایي؟ آیا روح تلپاتی دی؟ دا به کله په حقه وي چې یو چا ته ضرر ورسول شي؟ آیا دا ممکنه ده چې د حق درک وشي او بیا هم پرې عمل ونه شي؟ دی معتقد و چې دغسې پوښتنې یواځې نظري موضوع ګانې نه دي. دوی رښتینې ځوابونه لري چې که موږ په ژور ډول سوچ وکړو، موندلی یې شو. دا بل څه و چې د سقراط تورنان یې وپارول چې هغوی د افلاتون په روایت له عقلمني نه شکمن وو او غوره یې ګڼله چې یواځې په عامه ذهنیت، عادت او مذهبي صلاحیت ډډه وکړي.
سقراط معتقد و چې ځینې دلیلونه دغومره پیاوړي وو چې دی یې اړ کړ په اتن کې پاتې شي او له مړینې سره مخ شي. آیا ممکنه ده چې دا به حق وي؟ کوم

دلیلونه به دغومره پیاوړي وي؟ لومړی مسئله دا وه چې ده کرېټو ته وویل چې دی مجبور دی د اتن قانون ومني. د اتن قانون په ده حکم کړی و، حتمي وه چې دی یې ومني؟ د دوی بحث د حقوقي مکلفیت د ماهیت په اړه لومړنی فلسفي پلټنه ده.

## د دولت د ورانولو په اړه بحث

سقراط معتقد و چې درې دلیلونو دی مجبور کړ چې زهر وڅښي. لومړی دا چې که دی د قانون اطاعت ونه کړي، دولت به وران کړي. هغه شرح کړه چې که خلک د دولت د قانونو اطاعت ونه کړي، دولت دوام کولی نه شي.

*"داسې وګڼئ چې په داسې حال کې چې موږ تیاری نیسو له دغه ځای نه وتښتو (یا څنګه چې یو څوک یې باید بیان کړي( د اتن قانونونه او اساسي قانون راغلل او له موږ سره مخ شول او ویې پوښتلو چې: "ښه سقراطه! غواړې څه وړاندیز وکړې؟ آیا ته له دېنه انکار کوې چې په دغه عمل سره چې غواړې وتښتې، تر هغه ځایه چې ته د غه قدرت لرې چې وران مو کړی، قانونونه او ټول دولت هم؟ آیا ته خیال کوې چې که حقوقي حکمونه چې په هغه کې صادرېږي، هېڅ قوت ونه لري او هغه د شخصي کسانو له خوا نفي او له مېنځه لاړ شي، دغه ښار به پاتې کېدلی وشي او سرچپه به نه شي؟."*

بیا نو په دغه ډول استدلال سره د قانون په ماتولو سره موږ دولت له مېنځ نه وړو. سقراط اضافه کوي چې دا به په خاص دول د هغه چا ناشکري وي، چې له "قانونو او اساسي قانون" نه یې ګټه اخیستې وي او په عوض یې غواړي زیان ورته ورسوي.

د حېرانی ځای دی چې سقراط تیار و په دغسې فکرونو څخه له خپل ژوند نه تېر شي. آیا دا کوم سم دلیل دی؟ یو ه څرګندونه مسئله دا ده چې دا غېر واقعي ده چې فکر وشي چې د سقراط د دغسې بې اطاعتی عمل به په واقع کې هغسې زیانمن کوونکي اثرونه ولري، چې دی یې بیان کوي. که دی تبعید شو، اتن به "نسکور

نه شي" اتن به لږ و ډېر د پخوا په شان پرمخ ولاړ شي، البته که خلکو د عادت له مخې د قانونو اطاعت ونه کړ، ګډوډي به را شي خو که خلکو په نهايي حالاتو کې يواځې کله کله بې اطاعتي وکړه، دولت به زيانمن نه شي.

سره له دې هم يو څوک شايد احساس وکړي چې دغه استدلال سم دی. هغه فکرونه چې سقراط وړاندې کړي دي، يو څه مفهوم لري، که څه هم هغه هغومره څه ثابتولی نشي لکه چې هغه فکر کوي. هغه ښيي چې موږ پراخ، خو نا محدود مکلفيت لرو چې د قانون اطاعت وکړو. موږ به دغه استدلال په بله بڼه، خو تر هغه نه زيات په دفاعي شکل بيان کړو:

1_ که موږ د عمومي مقررې په توګه د قانون اطاعت ونه کړو )د ځينو استثنايي حالاتو نه غېر(، دولت شته والی لرلی نه شي.

2_ دا به مصيبت وي چې که دولت نه وي، ځکه چې موږ ټول به د هغه په نشته والي سره په بد حال کې شو.

3_ نو موږ بايد د عمومي قاعدې په توګه د قانون اطاعت وکړو )له ځينو نادرو حالاتو نه غير(.

د سقراط لومړنی دليل، که څه هم ضعيف دی، اړولی شکل يې ډېر ښه دی، خو له دغه تعديل شوي دليل څخه نه معلومېږي چې سقراط بايد پاتې شي او زهر وڅښي. دغه حال "نادره استثنی" کېدلی شي، چې سرغړونه لازمه کوي.

## د دولت او د يو چا مور او پلار ترمېنځ ورته والی

د سقراط دويم دليل له دولت سره زموږ د مور او پلار د اړيکو له پرتله کولو سره ارتباط پيدا کوي. زموږ مېندو او پلرونو زموږ ژوند ممکن کړی دی، موږ د دوی په وسيله شته شوي يو، دوی موږ لوی کړي او روزلي يو، نو موږ مکلف يو چې درناوی او اطاعت يې وکړو. دولت هم د اجتماعي چاپېريال په تنظيمولو سره چې موږ ته وده راکوي او ساتي مو، زموږ ژوند ممکن کړی دی، نو موږ په ورته ډول مکلف

يو د دولت در ناوی او اطاعت وکړو. يو ځل بيا سقراط خيال کوي د "اتن قانونونه او اساسي قانون" غږېږي:

*"بيا نو څنګه چې ته پيدا شوې او لوی شوې او روزل شوې يې انکار کولی شې چې ته، تر هر څه دمخه زموږ ما شوم او خادم يې. دواړه تا سې او ستا سې تـ يېر شوي؟.... آيا ته دغومره هوښيار يې چې هېر کړي دې وي چې ستا د مور او پلار او ستا د ټولو تېر شويو په پرتله ستا هېواد ډېر ارزښتناک، د ډېر درناوي وړ، ډېر سپېڅلی دی او هم د خدايانو او هم د ډېرو معقولو انسانانو په مېنځ کې د ډېر عزت مقام لري؟ آيا ته ددې درک نه کوې چې ته لا ډېر مکلف يې چې درناوی يې وکړې او د خپل پلار تر خپګان نه ډېر د هېواد د خپګان درناوی او تسکين وکړې؟."*

او په دغه ډول سقراط دغې نتيجې ته ورسېد، چې ورته حتمي وه، د محکمې حکم ومني او زهر وڅښي.

دا په ورته والي سره د استدلال يو مثال دی. دغسې دليلونه کله سم او کله ناسم وي، آيا دا سم دليل دی؟ مشکل دا دی چې قانون ته زموږ د اطاعت کولو مکلفيت هغه مکلفيت نه شي کېدلی، چې موږ بايد خپلو مېندو او پلرو ته اطاعت وکړو. موږ ته حتمي ده چې هغه وخت چې هلکان يو د خپلو مې ندو او پلرونو اطاعت وکړو، په دغه دليل چې موږ قضاوت کولی نه شو، خو هغه وخت چې بلوغ ته رسېږو موږ د ځان په اړه په خپله فکر کولی شو او له هغو سره زموږ اړيکي تغير کوي. موږ که څه هم د خپلو مېندو او پلرونو مشکور يو او درناوی به يې کوو، خو نور نو د دوی د اطاعت مديون نه يو. که کوم بالغ بيا هم "د خپل پلار او مور اطاعت کوي" داسې چې لکه دولس کلن وي، هغه په غم لړلي حال تمثيلوي، نو دغه دليل هم ضعيف دی.

نو تر دې ځايه موږ دغسې دليل ونه موند چې سقراط مجبور و زهر وڅښي، نه د دولت ورانولو لپاره دليل او نه د دولت او د يوه چا د پلار او مور ترمېنځ ورته والی ددغې نتيجې قبول حتمي کوي. خو

د استدلال یوه ښه لیکه لا هم شته، چې باید پرې بحث وشي.

## د اجتماعي قرارداد استدلال

د سقراط دویم دلیل تر ټولو مهم دی، چې فکر کوي دی ولې مجبور دی د قانون اطاعت وکړي. دی د لومړي ځل لپاره د اجتماعي قرارداد ایډیا وړاندې کوي چې وروسته تاماس هابز (Thomas Hobbes) او ژان ژاک روسو (Jean Jacques Rousseau) په خپلو اثرونو کې پرې اوږد بحث کړی دی.

د اجتماعي قرارداد کلیزي ایډیا دا ده چې ټولنه په دغسې ضمني قرارداد باندې ولاړه ده چې موږ یې له یوه او بل سره کوو. اجتماعي ژوند یو تعاوني ترتیب دی، چې په هغه کې له موږ نه هر یو بیخي ډېرې ګټې ترلاسه کوي او په عوض یې موافقه کوو د هغو مؤسسو او تمرینونو ملاتړ وکړو چې د دغه ګټې ممکنې کوي.

د اجتماعي ژوند ګټې په رښتیا کومې دي؟ که موږ په ګډه کار وکړو چې یو ټینګ اجتماعي نظم وساتو، موږ صناعت، پوهنه، هنرونه، سوداګري، کرنه، طب او ډېر نور لرلی شو. موږ په سوله او ارامۍ کې ژوند کولی شو، دوستان لرلی شو، سپورتونه ننداره کولی شو او ټنګ ټکور اورېدل شو. ګټې یې له حد نه ډېرې دي. که موږ ددغه نظم په ساتلو کې سره لاسونه ورنکړو، چې تولید یې کړي، دغه ښه څیزونه شته والی لرلی نه شي. هر څه به درې وړې وي او لکه چې هابز وایي، ژوند به "ګوښه کړل شوی، خوار، لړلی، حېواني او لنډ وي."

سقراط اجتماعي قرارداد ته په اشارې سره څه وخت چې استدلال کوي چې د اتن د تبعه توب د ګټو په منلو کې یې ژمنه کړې چې د قانونو اطاعت به یې کوي، سقراط په خپلې وینا کې د قانونو نظر په دغه ډول راوړی دی:

*"هر اتنی بلوغ ته په رسېدلو سره چې د دولت سیاسي مؤسسه او موږ په خپله ویني، اجازه لري چې که له*

*موږ سره خوښ نه وي، خپله شتمني واخلي او چېرته چې غواړي لاړ شي او ژوند وکړي... له بلې خوا که له تاسې نه هر یو په ځای وي چې لیدلی شي موږ عدالت او خپلې نورې عامه مؤسسې څنګه چلوو، موږ فکر کوو چې هغه په واقع کې منلې هغه څه وکړي چې موږ یې ورته وایو... بیا نو دا واقعیت دی چې ]قانونونه او اساسي قانون[ به ووایي چې ته هغه قراردادونه او ژمنې ماتوې چې له موږ سره دې کړي، سره له دې چې تا هغه د مجبوریت له مخې نه وې کړي او مجبور شوی نه وې د غه فیصله په محدود وخت کې په اجبآر سره وکړې، تا اویا کلونه لرل چې که دې زړه غوښتل له ملک څخه ووځې، چې که ته له موږ سره راضي نه وې یا دې حس کړې وای چې د غه قراردادونه ناعادل دي... او اوس له دغو ټولو نه وروسته نه غواړې په خپل قرارداد ودرېږې؟."*

بیا نو سقراط دغې نتیجې ته ورسېد، چې ورته حتمي ده په خپل قول وفا وکړي، حتی که هغه یې د مرګ په مانا هم وي.

آیا دا سم استدلال دی؟ اجتماعي قرارداد د حقوقي مکلفیت تر ټولو مهم غېر مذهبي بیان دی، چې تجویز یې شوی دی. سره له دې هم نقادانو د هغه پر ضد یو لړ شکایتونه وړاندې کړي دي. ډېر مهم انتقاد دا دی، چې دغه "قرارداد" یواځې جوړ شوی یا فرضي دی. له موږ نه یواځې ځینې د قرارداد له مخې اجتماعي قراداد کوو. مهاجران چې د تبعه توب په وخت کې قانون ته د اطاعت ژمنه کوي، یوه رښتینې استثنا ده. موږ پاتې ټول دننه په سیستم کې زېږېدلي یو. څنګه چې موږ هېڅ نه دي غوښتي، د هغه یوه خوا اوسو. موږ دغه "قرارداد" د ماهیت په اړه چې سقراط څومره ډېر پرې ټینګار کوي، شاید حېرانتیا ښکاره کړو.

په ځواب کې یې څه ویل کېدلی شي؟ که د اجتماعي قرارداد د ایډیا د فاع و شي، موږ د ضمني و عدې ایډیا ته اړه پیدا کوو، چې په څرګند ډول یې ذکر شو نه دی، خو سره له دې هم هغه زموږ په سلوک کې

په همغه ډول مانا کېږي. د سقراط استدلال دغه ډول ضمني وعدې ته مراجعه کوي. هغه وايي چې موږ د تبعه توب مکلفيتونه منو، نه د ژمنې په ورکولو سره، بلکې د هغې د ګټو په منلو او له دغه اجتماعي سيستم نه د خپلو مقصدونو لپاره په استفادې کولو سره.
خو دلته يوه بله ستونځه هم شته، موږ اړ يو وپوښتو لکه د دولت د ورانولو د استدلال په اړه مو دغسې کړي دي، چې د غه دليل وينه د څومره پراخ مکلفيت ملاتړ کوي، آيا اجتماعي قرارداد ته مراجعه ددغې نتيجې پلوي کوي، چې موږ بايد تل د قانون اطاعت وکړو، يا دا چې موږ په عمومي ډول د هغه اطاعت وکړو؟ دا پرځای ده چې وويل شي چې د غه قرارداد هېڅ وخت په سلو کې سل د اطاعت وړ نه دی. تل داسې شرايط پيدا کېږي، چې د هغو په شته والي سره قرارداد کوونکی د خپلو مکلفيتونو له ادا کولو نه ژغورل کېږي. د بېلګې په ډول که زه او ته سره موافقه وکړو او ته خپله ژمنه ترسره نه کړې، زه د خپل مکلفيت له ترسره کولو نه ژغورل کېږم. هېڅ معقول شخص به ونه مني، چې په هر ډول شرايطو کې به د يوه چا مکلفيت پرځای پاتې وي.
خو يو ځل چې دا ومنل شوه، د سقراط د برخليک موضوع له سره پيل کېږي. موږ به ومنو چې موږ په عمومي ډول مکلف يو د اجتماعي مقررو اطاعت وکړو او دا چې زموږ مکلفيت زموږ په دوه اړخيز موافقت بنا دی چې قانونونه وباسو او مراعات يې کړو، خو بيا داسې وګڼئ چې يو بېګناه انسان په مرګ محکوم شوی او په داسې حال کې چې د اعدام انتظار باسي، موقع لري چې وتښتي. که هغه له دغې موقع نه استفاده کوي، هغه به هم غلط کار کړی وي؟ )دلته سقراط او بل فراري په نظر کې ولرئ.( ډېره ګرانه ده وليد له شي چې تېښته به څنګه د قراردادي دليلونو له مخې محکومه شي. که د دولت کوښښ چې ودې وژني تا له قرارداد څخه ازادولی نه شي، بل کوم څه دې آزادولی شي؟ دلته به دا هم ووايو چې

دولت وظیفه لري تا له نا عادلو ګوا ښونو څخه وساتي.
په دې ډول له دغو دلیلونو څخه یو هم ثابتولی نه شي چې سقراط مجبور و زهر وڅښي، خو دا موږ له یوې پېچلې پوښتنې سره مخ کوي. څنګه وشوه چې هغه دغسې یوه مصیبتناکه غلطي وکړي؟ څنګه هغه لیدلی ونه شو چې هغه ټول نیمګړي دلیلونه دي؟ د ځواب یوه برخه په دا وي چې د غه مسئلې چې سقراط تر بحث لاندې ونیولې، نوې او ناآشنا وې. د حقوقي مکلفیت ماهیت به موږ ته زړه موضوع وي، خو سقراط دوه زره او څلور سوه کاله دمخه له هغې سره د لومړي ځل لپاره مخ شوی و. د ځواب بله برخه به دا وي چې د سقراط دلیلونه په تېره لومړی او درېیم یې په واقع کې دومره بد نه وو. هغه موږ ته په دې اړه ډېر څه ښیي چې ولې د قانون اطاعت وکړو. د سقراط تېروتنه دا وه چې دغه ایدیا چې موږ باید په نورمال ډول د قانون اطاعت وکړو، له دغې ایډیا څخه بېلولی نه شو چې موږ تل مجبور یو د قانون اطاعت وکړو. د هغه دلیلونو د لومړی تایید کاوه، خو هغه په غلطه فکر کاوه چې هغه د وروستي تایید هم کوي.
ددې لپاره دلیل شته چې ده ولې ونه شو کولی د هغو ترمېنځ توپیر وکړي، یا لږ تر لږه ولې یې ښه ټینګ ونه نیسي. له اتن او قانونو سره یې د سقراط د ادراک اړیکي تر هغو نه چې موږ یې له حکومت سره لرو په ژور ډول متفاوت وو. سقراط د نورو یونانیانو په شان ځان په خپل ښار پورې په ټینګه تړلی حس کاوه، هغه خپل ځان له خپل ښار نه جلا تصور کولی نه شو. له اتن سره د هغه د اړیکو د شلولو ایډیا به هغه ته نه تصور کېدونکې وه. د افلاتون د کریټو په دیالوګ کې ویل شوي، چې سقراط په خپل ټول اویا کلن عمر کې له پوځي خدمت نه پرته هېڅکله له ښار نه بېرون شوی نه دی. دی د زړه په تل کې اتنی و، لکه سان پال چې عیسوی و.
د مرګ موضوع ته چې راشو، سقراط له هغه نه هېڅ نه وېرېده. هغه په دې عقیده و، چې د هغه د بدن له

مړینې نه وروسته د هغه روح به هغسې نرۍ ته ورشي چې هلته به په پای کې د هغه پوښتنو ته ځوابونه ورکړل شي. ډېر خلک وایي چې په جنت عقیده لري، خو ورتګ ته یې زړه نه کوي لکه چې السیباډز (Alcibiades) په سیموزیم کې ویلي دي: "هغه په مطلق ډول بې‌ساری دی او د هغه په شان بل څوک نه شته او ګومان نه کوم چې هېڅکله به پیدا شي."

# مـــوږ ولـــې بـايـــد اخلاقـــي اوسو؟

## د ګـايـګز ګوتـمۍ

د يوې لـرغونـې افسانـې لـه مخې د ګـايـګز (Gyges) پـه نـامه يوه غريب شپـانه لـه زلـزلـې نـه راپـيدا يوه غوچانـي کې يوه ګوتـمۍ وموندلـه. ګـايـګز کشف کړه چې څه وخت چې دغه ګوتـمۍ پـه ګوتـه وسولـولـه شي، دی لـيدل کېدلـی نـه شي. ګوتـمۍ پـه دغه ډول دی قـادر کړ هغه څه وکړي چې نورو يـې خوب لـيده: دی هر چېرې تـللـی او هغه څه يـې کولـی شول چې زړه يـې و، بې لـه دې چې څوک يـې ويـنـي. دی د ګوتـمۍ پـه زور شتمن شو، هرڅه يـې اخيـستل چې يـې غوښتل او هر څوک يـې وژلـی شو چې پـرمخ يـې خنډ کېده. پـه پـای کې يـې پـاچـايي مـانۍ ونـيولـه، پـاچـا ښځه يـې تـېر ايـستلـه، پـاچـا يـې وواژه او پـه خپـلـه د ټـول هېواد واکمن شو.

ګلاکون (Glaucon) د افلاتـون جمهوريت پـه لـومړۍ برخـه کې دغه قـيـصه راوړي. ددغې قـيـصې لـه افـسانـوي بـڼې ســره ســره ګـــايـګز يــــو واقـعـــي شـــخص او د ساردس (Sardis) پـاچـا و. هيـرودوت هم پـخپـل تـاريخ کې د ګـايـګز د واک تـه رسېدلـو قـيـصه کوي. د هغه پـه روايت ګـايـګز د پـاچـا کنډالـيس (Candaules) پـه نـوکري شروع وکړه او دغه پـاچـا دغسې "يـــو کـــس و، چـــې پـــه خپـلـې مـايـنـې مئين و." ) داسې ښکـاري چې هېرودوت تـه دا غيـر عـادي دی. ( کـانـدالـيس يوه ورځ ګـايـګز تـه لاپـې کولـې چې ښځه يـې ډېـره ښکـلـې ده او ښکلا بـه يـې هغه وخت ورتـه ثـابـتـه شي چې لـوڅه يـې ويـنـي. ګـايـګز اعتراض وکړ، خو پـاچـا ورتـه امر وکړ چې د ملکې د خوب پـه کوټـه کې چېرتـه پټ شي او د جامو بدلـولـو پـه

مهال یې لوڅه ووینې. بخت داسې پېښه کړه چې ملکې دی ولید او بیا یې ورته وویل چې ددغې بې حیایۍ له امله به یې له مېنځه یوسي، خو دا چې کاندالیس ووژنې او له هغې سره واده وکړي، په دغه حال کې به سمه وي چې یې لوڅه لیدلی، ځکه چې دی به د هغې مېړه شوی وي. د ګلاکون په روایت ګایګز کاندالیس وواژه او په خپله پاچا شو.

ګلاکون په دغې قیصې سره ښیي چې د یوه چا غیر اخلاقي عمل کله د هغه په ګټه تمامېږي. که ګایګز اخلاقي سلوک کړی وای، غریب به پاتې شوی وای. د اخلاقي مقررو په تر پښو لاندې کولو سره شتمن او د قدرت خاوند شو. ددغه حال په کتنې سره ګایګز ولې د اخلاقیاتو پروا وکړي؟ یا دا چې له موږ نه هر یو ولې د اخلاقیاتو رعایت وکړو؟ که دروغ ویل درته ګټه رسولی شي، ولې رښتیا ووایې؟ که په ځان پیسې لګولی شي ولې یې بل چاته د خیرات په توګه ورکړي؟ اخلاقیات پر موږ باندې محدودیتونه ږدي چې زموږ په خوښه نه وي، نو ولې موږ پرې سر وخوږوو او له یاد نه یې ونه باسو؟ ګلاکون اضافه کوي چې د هغه په نظر موږ ټول باید دګایګز په شان سلوک وکړو خو چې څوک مو نیولی ونه شي.

اوس به په دغې پوښتنې غور وکړو چې موږ باید ولې اخلاقي اوسو؟ خو تر هغه دمخه موږ ته باید څرګنده وي چې موضوع څه ده. دا د اخلاقي سلوک د پرحقه ښودلو موضوع نه ده. که یوازې د غه څه غوښتل کېدلای، ځواب به یې اسان وای. دا کوم چل نه دی چې دلیلونه تهیه شي چې ګایګز ولې د تخت نیولو لپاره لوټ او مرګ نه وای کړی. لوټماري د هغو څیزونو خپلول دي، چې د تا نه دي او مرګ قربانیانو ته دغسې دردناک زیان اړول دي چې هغوی یې مستحق نه دي. په ورته ډول اسانه ده شرح شي چې موږ ولې باید رښتیني اوسو یا موږ ولې له اړو خلکو سره د پیسو مرسته وکړو؟. دروغ ویل خلکو ته ضرر رسوي او وږي کسان ډوډۍ ته تر هغو نه لکه زموږ غوندې یو څه شتمنو کسانو نه چې قالینو یا فیشني جامو ته

اړه لري، ډېر ضرورت لري. البته دغه دليلونه بايد تر دې ډېر پراخ شي، خو دا څرګنده ده چې هغه څنګه وشي.
خو دغه دليلونه يواځې دا ثابتوي چې حق څه دی او دا د بحث موضوع نه ده. د ګلاکون چيلنج وروسته له هغه راځي چې ټول اخلاقي دليلونه وړاندې شوي وي. موږ به ومنو چې له اخلاقي نظره دا سمه ده چې د خلکو د ژوند او ملکيت درناوی وشي. د ګلاکون پوښتنه دا ده چې موږ ولې پروا وکړو چې حق څه ته وايي؟ ولې له هغه نه اوړه خالي نه کړو او هغسې ژوند وکړو چې زړه مو غواړي.
ددغې پوښتنې ځواب به دا وي چې موږ ته حتمي ده وښيو چې په اخلاقي ډول ژوند کول زموږ په ګټه ده او دا يو اسان کار هم نه دی. په ظاهر کې داسې ښکاري چې چېرته چې د يو چا ګټه مطرح وي، اخلاقيات تر مرستې نه ډېر يو خنډ کېږي. البته دا به دتا لپاره ښه وي چې که نور خلک اخلاقي ژوند وکړي، ځکه چې په هغه حال کې بۀ هغوی ستا د حقونو درناوی او له تا سره مرسته وکړي، خو که ته په اخلاقي اصلونو باندې ټينګ ولاړ يې، دا بله موضوع ده ځکه چې اخلاقيات به کله درته ووايي چې ته نه شې کولای هغه څه وکړې چې په هغه سره خپله شخصي اجندا پرمخ بوځې.
آيا د ظواهرو پرخلاف شوول کېدلی شي چې د اخلاقي قيدونو رعايت په رښتيا د يوه چا په ګټه تمامېږي؟ د ګلاکون د چيلنج چاره به وکولی شو، يا کولی ونه شوه. دا ټول په اصل کې په دې اړه لري چې اخلاقيات زموږ په نظر څه ته وايي او زموږ په فکر د هغو د قيدونو سرچينې کومې دي.

## اخلاقيات او دين

يو اشنا فکر دا دی چې په حقه ژوند کول د خدای تعالی د امرونو په کولو کې نغښتی دی. ددغه فکر له مخې خدای تعالی امرونه کړي او موږ ته حتمي ده اطاعت يې وکړو او خدای تعالی به هغو ته انعام

ورکوي، چې امرونه یې پرځای کوي او هغو ته به جزا ورکوي، چې تریینه سر غړوي.
که وضع په رښتیا دغسې وي موږ په اسانۍ کولی شو د ګلاکون چیلنج ته ځواب ورکړو او هغه دا چې موږ ته حتمي ده چې اخلاقي اوسو او که نه خدای تعالی به جزا راکوي، حتی که ګایګز په شان موږ د نه لیدل کېدو قدرت هم ولرو، بیا به هم ځان د اسماني امر تابع ګڼو او د هر هغه څیز ځواب به ورکوو چې غواړو یې. د یوې اشنا طرح له مخې نیکي کوونکی به د تل لپاره په جنت کې وي او د بدکار ابدي ځای به په دوزخ کې وي. په دې ډول د تا د هر غیر اخلاقي عمل ګټه به د څه وخت لپاره او د نیکي ثمره به د تل لپاره وي. )ددغه بحث د پاتې برخې له ژباړلو نه ډډه وشوه، په دې چې په هغې سره به حساسیتونه توریدلی وای.(

## اجتماعي قرارداد

په معاصر مهال کې په دې اړه یوه عمومي موافقه ده چې اخلاقیات باید د انساني پېښې په شان وپېژندل شي، د انسان د اړتیاوو، ګټو او غوښتنو محصول او نور څه نه.
تاماس هابز لومړنی مهم عصري متفکر دی چې د اخلاقیاتو لپاره یې یو طبیعي او دنیایي بنسټ ټاکلی دی. هابز چې په اشرافي کورنیو کې یې د ښوونکي او سکرتر په توګه ژوند کاوه، ماده پال او د پاچایي نظام پر خوا و، چې د دواړو له امله یې کله کله ستونځې لیدلې. د لوی سمندري ژوي په مانا د هغه لیویتان )Leviathan( اثر د سیاسي فلسفې لومړنی عصري اثر دی. د لیکلو په وخت کې یې دی )1588_1679( 63 کلن و.
هابز داسې ګڼله، چې "ښه" او "بد" هغه نومونه دي چې موږ یې هغو څیزونو ته ورکوو چې یا مو خوښېږي، یا مو نه خوښېږي. په دې ډول کله چې زه او ته دوه بېل څیزونه خوښوو، موږ مختلف څیزونه یا ښه یا بد ګڼو، خو هغه دا هم وویل چې موږ په اساسي روحي

جوړښت کې ډېر سره يو شان يو. موږ په اساس کې ځان خوښوونکي انسانان يو چې غواړو ژوند وکړو او چې څومره کېدونکي وي، ښه ژوند وکړو. د اخلاقياتو د پوهاوي لپاره دا د يوې کلي په شان ده، اخلاقيات هغه وخت راولاړ يږي چې خلک ددې درک کوي چې دوی بايد څه وکړي، چې ښه ژوند وکړي.
هابز دېته ګوته نيسي چې موږ هر يو په دوه اړخيزې تعاوني ټولنې کې تر هغه نه ډېر ښه ژوند کوو چې کوښښ وکړو، ځانله واوسو. د اجتماعي ژوند ګټې د ملګرتوب له ژوند نه اخوا بيخي ډېرې دي. اجتماعي ژوند ښوونځي، روغتونونه او لويې لارې ممکنې کوي، له برېښنا او مرکز ګرمۍ سره کورونه، الوتکې او ټيلفونونه، اخبارونه او کتابونه، سينماګانې، تياترونه، ساينس او کرنه ممکنه کوي. له اجتماعي ژوند نه پرته به موږ دغه ټول له لاسه ورکړو، نو دا زموږ د ټولو په ګټه ده چې هر هغه څه وکړو چې د تعاوني ټولنې د جوړولو او ساتلو لپاره ضروري وي.
خو لکه چې ليدل کېږي دوه اړخيزه اجتماعي ټولنه هغه وخت لرل کېدلی شي چې موږ د سلوک ځينې اصلونه رعايت کړوز داسې اصلونه، چې رښتيا وويل شي، وعدې پرځای شي او د يوه او بل د ژوند او مال درناوی وشي او داسې نور...
_له دغې ګڼې نه پرته چې خلک بايد رښتيا ووايي، خلکو ته به دليل نه وي چې د نورو په وينا باور وکړي. مفاهمه يا پوهاوی به ناشونکې وي او ټولنه به د غړو ترمنځ د ناپوهاوي له امله له مېنځه لاړه شي.
_له دغه شرط نه پرته چې خلک بايد وعدې پرځای کړي، د کار وېش به نه کېدونکی وي. کارګران به د اجورې په ترلاسه کولو ډاډه نه وي، هټۍ وال به له تهيه کوونکو سره په قراردادونو باندې باور نه لري او داسې نور... اقتصاد به پرځای ودرېږي، سوداګري به نه وي، کرنه به نه وي او طب به نه وي.

_د يرغل، غلا، وژنې پر ضد ډاډينې نه پرته به هېڅ يو مصؤن نه وي، هر څوک به د هر چا په مقابل کې تل د خپل مصؤنيت په فکر وي او ټولنيزه مرسته به ناشونکې وي.
نو ددې لپاره چې د ټولنيز ژوند ښېګڼې ترلاسه کړو، موږ ته حتمي کېږي چې له يوه بل سره چنه ووهو، په دې ډول چې هر يو به د مقررو مراعات کوي، په دې شرط چې نور به هم همدغسې کوي. دغه "اجتماعي قرارداد" د اخلاقياتو بنسټ جوړوي. په دغه ډول *اخلاقيات د مقررو ټولګه کېږي چې معقول خلک سره موافقه کوي چې اطاعت به يې کوي د خپلې دوه اړخيزې ګټې لپاره په دې شرط چې نور خلک به يې هم رعايت کوي.*

## د اجتماعي قرارداد تيوري ولې جذابه ده؟

د اخلاقياتو په هکله په دغې طريقې سره تفکر په زړه پورې خاصيتونه لري. لومړی دا چې د دغه طريقه اخلاقيات له رمز څخه پاکوي او د ژوند موضوع يې ګرځوي. په اخلاقي ډول ژوند کول د طبيعت نه اخوا موجود د اطاعت موضوع نه وي. داسې هم هغه د لوړو خو بې مقصده مجردو مقررو ته د اطاعت موضوع نه وي. د هغو پرځای اخلاقيات د هغه څه کولو موضوع کېږي، چې اجتماعي ژوند ممکن کوي. دويمه دا چې دغه تيوري واضحه کوي چې اخلاقيات څنګه عقلي او افاقي کېدلی شي، حتی که اخلاقي واقعيتونه ( **Moral Facts** ) هم موجود نه وي. داسې هم دا يواځې نظري موضوع نه ده چې د مرګ پر ضد مقرره به د کوم عملي اجتماعي طرح برخه وي، يا دا چې معقولو خلکو ته ددې لپاره چې خپله سوکالي خوندي کړي، حتمي وي چې ددغسې مقررې اطاعت وکړي. داسې هم هغه يواځې د نظر موضوع نه ده چې هغه مقررې د رښتين توب لپاره هغو خلکو ته ضروري وي چې په اجتماعي محيط کې و غوړېږي، حتی په هغه حال کې چې که اخلاقي واقعيتونه هم نه وي. د دوی استدلال به چې دغسې نتيجو ته پرې رسېدل کېږي، پوره افاقي وي.

دربیدمه دا چې د اجتماعي قرارداد طریقه موږ ته زموږ د اخلاقي وظیفو د ټاکلو لپاره یوه معقوله او پخه طریقه په لاس راکوي. کله چې د "اخلاقیاتو" ذکر کېږي، لومړی څیز چې د ډېرو خلکو ذهن ته ورځي، هغه کوښښ دی چې په هغه سره جنسي عمل تحدید شي. د خواشینی ځای دی چې ډېر خلک د "اخلاق" له کلمې نــه دغه ډول تعبیر کوي. د قرارداد د تیورۍ له مخې د اخلاقیاتو د سیستم له لرلو نه ټول مقصد دا دی چې هغه د ټولو خلکو لپاره ممکنه کوي چې د اجتماعي تعاون په محیط کې خپل فردي ژوند وکړي. د هغه مقصد دا نه دی چې خلکو ته ووایي چې څه ډول ژوند وکړي. )له هغه نه پرته چې تر هغه ځایه چې لازمه وي خپل سلوک د اجتماعي تعاون د خوندي کولو په خاطر تحدید کړي.( په دې ډول د اجتماعي قرارداد پر بنا اخلاق له دې سره لږه علاقه لري، چې خلک د خپل خوب په کوټه کې څه کوي.
څلورمه دا چې د اجتماعي قرداد تیوري د انسان د طبیعت په اړه نسبتاً لږ څه وایي او انسانان دغسې موجودات ګڼي چې خپله ګټه غواړي او داسې نه ګڼي چې دوی په طبیعي لحاظ په ډېره لږه درجه به هم خپل ځان هېروي او نور خوښوونکي یا انسان پال به وي. ددغې تیورۍ یو سحر دا دی چې هغه دغې پایلې ته رسېدلی شي، چې موږ باید زیاتره وخت د انسان دوستۍ په روحیې سره سلوک وکړو، بې له دې چې وګڼو موږ په طبیعي ډول انسان پال یو. موږ غواړو هغسې شه ژوند وکړو چې ممکنه وي او اجتماعي مکلفیتونه ددې لپاره ایستل شوي وي، چې له نورو سره په ګډه دغسې تعاوني ټولنې جوړې کړو، چې زموږ لپاره چې په اصل کې خپلې شخصي ګټې خوندي کړو، ضروري وي.
په پای کې د اجتماعي قرارداد تیوري د ګلا کون پوښتنې ته قانع کوونکی ځواب ور کوي. که خدای تعالی موږ ته جزا نه راکوي، ولې موږ خپل ځان ته د ښو په کولو سره زحمت ورکړو، په تېره چې په هغو کې زموږ شخصي ګټه نه وي. ځواب دا دی چې دا زموږ په ګټه ده، چې په دغسې ټولنې کې ژوندو کړو، چې

خلک یې په اخلاقي ډول سلوک وکړي، نو زموږ لپاره معقوله ده چې په خپل سلوک باندې اخلاقي بندیزونه ومنو، د هغه قرارداد په شان چې موږ یې له نورو سره کوو. موږ د هغو له اخلاقي سلوک نه په نېغ ډول ګټه اخلو او له قیدونو نه زموږ متابعت هغه قیمت دی، چې موږ یې باید تادیه کړو چې د هغو متابعت جلب کړو، خو دلته یوه خو شته چې شرح غواړي.

## د آزاد سواره پرابلم

د اجتماعي تعاون طرحې تل دا "آزاد سواره" له پرابلم سره مخ کېږي. آزاد سور هغه څوک دی چې له اجتماعي نظم څخه ګټه اوچتوي، بې له دې چې خپله ونډه ادا کړي. داسې وګڼئ چې زموږ په ګاونډیتوب کې د کوڅې برېښنا راوړلو لپاره باید هر څوک خپله ونډه ورکړي. زه به هم د نورو په شان له دغې برېښنا نه ګټه واخلم او زه دغه برېښنا غواړم، خو نه غواړم په لګښت کې یې برخه واخلم. په دغې پوهې سره چې له مانه پرته به نور کسان دغه کار وکړي. دوی دغه کار وکړ او زه له هغه نه ګټه اوچتوم، بې له هغه چې د هغه په لګښت کې مې برخه اخیستې وي، زه په دغه کار سره ازاد سور کېږم.
که اخلاقیات په اصل کې د اجتماعي تعاون طرح یا سیکم وي، آزاد سواره به ولري هغه افراد چې په دغسې ټولنه کې له ژوند کولو نه ګټه اوچتوي، چې په اخلاقي نورمونو سره ادا کېږي، خو هغوی په خپله ددغو نورمونو یا مقررو رعایت نه کوي، نو د ګلاکون چیلنج به په دې ډول له سره طرح شي چې یو څوک ولې ازاد سور نه شي؟ زموږ نه هر یو اوس په دغسې یوې ثبات لرونکې ټولنې کې ژوند کوي، چې خلک یې په عمومي ډول د اجتماعي مقررو اطاعت کوي او موږ ټول لا دمخه د اجتماعي ژوند له ګټو نه بهره من یو. که هر یو له تاکلو مقررو نه سر وغړوي، ټولنه به سقوط وکړي. موږ نه غواړو دغسې وشي، نو موږ ښه دلیل لرو چې نور وهڅوو چې ددغو مقررو اطاعت وکړي او په خپله هم وښیو چې اطاعت به یې کوو، خو

ممکن ته ووایې چې ته ولې د ضرورت په وخت کې که کولی شې، هغه په پټه نقض نه کړې؟.
د اخلاق لپاره به د آزاد سواره پرابلم حل شي، خو یواځې په جزیي توګه او په دغه ډول. زموږ نه هر یو قوي دلیل لرو چې نه یواځې نور وهڅوو چې د اجتماعي مقررو اطاعت وکړي، بلکې د نورو لپاره چې څومره ممکنه وي ګرانه کړو چې له دغو مقررو نه سر ونه غړوي. د بېلګې په ډول، د قتل پر ضد قانون په نظر کې ولرئ. ته نه غواړې یواځې نور وهڅوې چې تا ونه وژني. پر هغه سربېره ته دغسې حالت غواړې چې هېڅ څوک ستا له وژلو نه بې جزا پاتې نه شي. زموږ نه هر یو په دغه حالت کې دی، زموږ نه هر یو پیاوړی دلیل لرو چې د دغسې اجتماعي سیستم د جوړولو او ساتلو حمایه وکړو چې په هغه کې هېڅ څوک موږ وژلی ونه شي. ددغه کار د اجرا لپاره موږ قانونونه او د هغو د انفاذ طریقې باسو، خو ددغسې کار په کولو سره موږ دغسې یو حالت رامېنځ ته کوو چې موږ هم له قتل کولو نه بې جزا پاتې کېدلی نه شو.
ما وویل چې دا "یو برخیز او محدود" حل دی، په دوو دلیلونو سره. یو دا چې موږ د قانون له قوت نه د وژنې، غلا او نورو دغسې غټو جرمونو پر ضد استفاده کوو، خو ټولې اجتماعي مقررې د حقوقي مقررو د انفاذ لپاه مساعدې نه دي. حتمي ده چې د عادي شرم او حیا مقررې په لږو رسمي وسیلو سره نافذې شي. د بېلګې په ډول د دروغ ویلو جزا یواځې دا ده چې خلک به له تانه خپه شي او نوم به دې بد شي، البته چې دا به ستا په زیان وي، خو دغسې غېر رسمي میکانزمونه تر حقوقي بندیزونو څخه لږ مؤثر وي او هر څوک پوهېږي چې نسبتاً اسانه ده چې د کله کله دروغ ویلو له جزا نه یو څوک مصؤن پاتې شي.
بله دا چې دغه ډول استدلال یواځې ښیي چې موږ ددې لپاره دلیل لرو چې دغسې اجتماعي چاپېریال وغواړو چې په هغه کې خلک د مقررو له سرغړونې نه مصؤن پاتې نه شي، حتی که موږ وکولی شول دغه اجتماعي

معجزه و کړو. موږ به لا هم د ګلاکون د لومړنۍ پوښتنې ځواب ورکړی نه وي. موږ به لا هم ښوولې نه وي، چې که موږ د اجتماعي مقررو په نقض سره ځان ژغورلی شو، ولې د هغو اطاعت وکړو.

## اخلاقیات او خیر رسونه

د اجتماعي قرارداد د تیورۍ یوه څرګنده خاصه دا ده چې هغه داسې نه ګڼي چې خلک به نور خوښوونکي یا خیر غوښتونکي وي. هر څوک مشغول کېدای شي د خپلې شخصي ګټې لپاره قرارداد کوي چې د اجتماعي مقررو اطاعت به کوي، خو خلک پوره ځان غوښتونکي نه دي. داسې ښکاري چې انسانان لږ تر لږه یو څه نور غوښتونکي احساسات لري، که څه هم هغه به یوازې د دوی د کورنیو او ملګرو په اړه وي. موږ د اجتماعي حیواناتو په شان وده کړې ده، لکه هسې چې موږ د سېږو لرونکو حېواناتو په شان وده کړې ده. زموږ د خپلو خپلوانو او د محل د ډلې د غړو په اړه زموږ پاملرنه هغسې طبیعي ده لکه ساه کښل چې زموږ لپاره طبیعي دي. که انسانان د طبیعي انسان پالنې کومه درجه بهره لري، هغه به د اخلاقیاتو لپاره اهمیت ولري؟ د ډیوډ هیوم (**David Hume**) په فکر لري یې. هیوم له هابز سره په یوه فکر و، چې زموږ اخلاقي نظرونه زموږ د احساساتو څرګندونې دي، خو هغه له دې سره موافق نه و چې زموږ احساسات پوره پر ځان تمرکز کوي. هغه معتقد و، چې موږ "اجتماعي عاطفه" یا دغسې احساسات لرو چې موږ له نورو خلکو سره نښلوي او د هغو هوساینې ته مو اندېښمن کوي. له همدې امله ده چې د هیوم په نظر موږ حق توب او ناحق توب د "انسانانو د رښتینو ګټو" پر معیار ټاکو:

"د اخلاقیاتو په ټولو ټاکنو کې د اجتماعي ګټې دغه اصل په نظر کې وي او هر کله چې د وظیفې د حدودو په اړه په فلسفه یا عامه ژوند کې لانجې پیدا کېږي، مسئله په یقین سره حل کېدلی نه شي خو دا چې د بشریت رښتینې ګټې په هره خوا کې یقیني شي."

دغه نظر د خیر رسونې یا ګټه رسونې ) Utilitarinism ( په نامه یاد شوي، چې اوسمهال اخلاقي فلسفه کې د اجتماعي قرارداد تیوري لوی بدیل دی.

## خیر رسونه یا ګټه رسونه ) Utilitarianism (:

خیر رسونه په دغه فکر بنا ده چې یواځې یو اصل زموږ ټول اخلاقي مکلفیتونه خلاصه کوي. نهایي اخلاقي اصل دا دی، چې *موږ باید په حتمي توګه تل هغه څه وکړو چې هر چا ته چې زموږ په عمل سره اغېزمن کېږي، تر ممکن نهایي حد پورې ګټه ورسوي.*

د "خیر یا ګټې اصل" په غولوونکي ډول ساده دی، هغه په واقع کې د درې ایډیاګانو ترکیب دی: لومړی دا چې موږ باید د خپلو کړو په پایلو سره وهڅول شو، موږ باید هغه څه وکړو چې په معقول ډول هیله کېږي چې تر ټولو ښې نتیجې ولري. دویمه دا چې په دغې ټاکنې کې چې کومې نتیجې تر ټولو ښې دي، موږ باید هغو ګټو او زیانونو ته توجه وکړو چې تولیدوي یې. موږ باید هغه څه وکړو چې ډېره ګټه او لږ زیان اړوي. درېیمه دا چې د خیر یا ګټې رسولو اصل په دغه فکر بنا دی، چې د یوه کس هوساینه هغومره مهمه ده، لکه د هغه بل چې ده.

که څه هم دا هېوم و، چې دغه فکر یې وړاندې کړ، دوه نورو فیلسوفانو هغه ښه شرح کړ. انګلیس جرمي بنتهام ) Jeremy Bentham ( چې عمر یې په اتلسمې او نونسمې پېړۍ کې غزېدلی و، د فلسفي راډیکالانو د ډلې مشر و او مقصد یې دا و چې د برتانیې په قانونو کې د انتفاعي لیکو پر بنسټ اصلاحات راولي. پلویان یې ددغسې داعیو پرمخ بیولو کې لکه د بندي خانې اصلاح او د وړو هلکانو په کار کې د تحدید په راوستلو کې پوره بریالي وو. جان ستیوارت مل ) John Stuart Mill (، د بنتهام د لومړیو پلویانو یوه زوی په خپل اثر خیرپالنه ) Utilitarianism ( کې، چې په ۱۸۶۱ کې

خپور شو، ددغه نظر ټینګه دفاع وکړه.
له اول سر نه په دغه انتفاعي حرکت باندې ډېر انتقادونه وشول. پر هغه باندې نیوکې په دې اساس وې، چې ویل کېده چې په هغه کې مروج مذهبي نظرونه په نظر کې نیول شوي نه دي، خو ددغه حرکت پلویانو په ځواب کې ویل چې دغه حرکت په اصل کې خدای تعالی ته د اطاعت یا په جنت کې د مقام ګټلو په اړه نه، بلکې په دې اړه دی چې په دغې نړۍ کې ژوند تر هغو چې ممکنه وي، هوسا کړي. سره له دې هم ځینو دغه حرکت د دین پر ضد باله، چې ستوارت مل هغو ته په دغه ډول ځواب ورکړ:
*"دا چې خدای تعالی تر هر څه نه زیات د خپلو مخلو قاتو نېکمرغي غواړي او دا د هغه د تخلیق مقصد دی، انتفاعیت بیا نه یوازې د بې دینۍ دکتورین نه کېږي، بلکې تر هر بل حرکت نه ډېر دیني حرکت کېږي."*
خیر پالنه ]د انتقاد[ اسان هدف هم و، ځکه چې هغه دغسې یوه تخریبي تیوري وه )او لا هم ده( چې ډېر عنعنوي اخلاقي فکرونه یې په بل مخ اړولي دي. د بېلګې په ډول بنتهام ویل، چې د جزا یي عدالت سیستم مقصد چې په عنعنوي ډول د بد عملو د بدو عملو بېرته تادیه ده، پوهېدل کېدلی نه شي، چې د بیخي ډېرو مصیبتونو لامل کېږي. په عوض یې د جرم په برابر کې اجتماعي ځواب باید دغه درې وي: چې د جرمي عمل تشخیص وشي او علتونه یې درک شي، چې چېرته ممکنه وي قانون ماتونکې اصلاح شي او رغنده تبعه ترېنه جوړ شي او چې خلک یوازې دغومره جزا وویني چې نور له ورته جرمونو له کولو نه وډار شي. )نن ورځ البته دا ډېر اشنا فکرونه دي، چې هغه د خیرپالنې د حرکت له امله ده.( یا دا چې یو بل ډول مثال راوړو: په دغه ټینګار سره چې د هر یوه نېکمرغي په برابره اندازه مهمه ده، خیر پالو د لوړتیا غوښتونکو د بېلو بېلو لوړتیا غوښتنې نظرونه پارولي دي. د خیر پالو د معیار له مخې نه نژاد، نه جنس او نه اجتماعي طبقه د یوه

چا په اخلاقي مقام کې توپير راولي. ستوارت مل په خپلــــــــــه د ښــــــــــځو لانــــــــــدې تــــــــــوب ) The Subjection of women ( تـر نـامه لانــدې يــوه لـيکنــه وکړه، چې په نونسمې پېړۍ کې د ښځو د حرکت يو کلاسيک اثر شمېرل کېږي.
په پای کې خيرپالنه لانجمنه وه، ځکه چې دغه حرکت د اخلاقي مقررو "مطلقې" استفادې ته ضرورت نه لاره. خير پالو عنعنوي مقررې هغه قاعدې ګڼلې، چې له تجربو نه راوتلي او ګټورې وې، ځکه چې د هغو رعايت به په عمومي ډول ډېر ښه وي، خو هغه مطلقې نه وې او هر کله چې د يوې مقررې ماتېدل د هر مربوط کس په ګټه وي، بايد ماته شي.
خو دا يو څيز دی چې د يوه اخلاقي نظر بيان وشي او دا بل څيز دی چې هغه په حقه وښوول شي. خيرپالنه وايي چې زموږ اخلاقي وظيفــه "د عمومــو د نېکمرغــۍ خوندي کول دي." موږ ولې دغه کار وکــړو؟ ســتيوارت مل د ګلاکون د چيلنج په ځواب کې وايي، چې:
*"احساس کوم زه مکلف يم نه لــوټ وکــړم او نــه وژل وکړم، نه غولول وکړم او نه خيانت وکړم، خو ولې زه مکلف يم عمومي نېکمرغي پرمخ بوځم؟ که زما نېکمرغي په بل څيز کې وي، ځله هغه غوره و نه ګڼم؟."*
مل فکر کوي چې د قانون او عمومي ذهنيت له "باندنيو بنديزونو" نه پرته ددغه يــا بــل اخلاقــي معيار د منلو لپاره يو بل ممکن دليل شته. د اخلاقياتو "داخلي بنديز" بايد "زموږ په ذهنونو کې د يوه احساس په شان تل موجود وي، پرته له دې چې کوم ډول اخلاق ددغه احساس تائيد کوي."
"نو د ټولو اخلاقياتو نهايي بنــديز )لــه بانــدنيو محرکاتو نه سربېره( چې زموږ په ذهنونو کې عندي احســــاس وي، زه بيـــــا هغـــــو تـــــه هـــــېڅ خجالـت ) embarrasing ( نـه وينم، چې د هغه خاص معيــار بنديز څه دی؟ په مسئلې کې يې معيار انتفاعيت وي. موږ به هغه او نورو ټولو معيارونو ته ځواب ووايو د بشريت وجداني احساسات."

نو دغه ډول اخلاقيات چې موږ به يې ومنو، زموږ د احساساتو په ماهيت پورې به اړه ولري. که انسانان "اجتماعي احساسات" ولري، مل وايي چې هغو ته به د خير يا ګټه رسونې اخلاقيات يو طبيعي معيار وي:

*"د ]خير رسونې اخلاقياتو[ ټينګ بنسټ د انسانانو اجتماعي احساسات دي، چې د غه غوښتنه زموږ له همنوعو سره په اتحاد کې وي، چې هغه لا دمخه د انسان د طبيعت قوي پرنسيپ او په خوښۍ سره له هغو څخه يو وي چې وار په وار پياوړی کېږي، د وړاندې تلونکي مدنيت له څرګندې هڅونې څخه پرته هم."*

## منصف توب

خير او ګټه رسونه ضمني نتيجې لري چې له عنعنوي اخلاق سره نه جوړېږي. دغه څه په زياته اندازه د اجتماعي قرارداد د تيورۍ په اړه هم ويل کېدلی شي. دواړه تيوري ګانې په ډېرو عملي موضوعګانو کې چې يادونه يې شوې ده، لکه جزا، نژادي توپير، د ښځو حقونه او داسې نور... سره ورته نتيجې لري، خو دوی په يوې موضوع کې په ډراماتيک ډول سره توپير لري. خير پالان عقيده لري چې دا زموږ اخلاقي مکلفيت دی چې له نورو خلکو سره مرسته وکړو. د اجتماعي قراداد پلويان له دغه مکلفيت څخه انکار کوي.

د بېلګې په ډول داسې وګڼئ چې تاسې غواړئ په زر ډالرو سره يوه نوې قالينه رانيسئ. آيا تاسې بايد هغه واخلئ؟ بديلونه يې څه دي؟ يو بديل يې دا دی، چې دغه پيسې د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق يا يونيسف ته بسپنه ورکړئ. هر کال د دريمې نړۍ دريېمه برخه ماشومان د لسو شلو مليونونو ترمېنځ له ناروغيو او علاج کېدونکو ناروغيو څخه مري، ځکه چې کافي پيسې نه شته چې واکسينونه، د ويټامين الف ټابلېټونه او د مايکروب ضد دواګانې رانيولی شي يا د هغو د مايع ضايع کېدلو درملنه وشي. ته به يونيسف ته د پيسو په ورکولو او له خپلو شتو قالينونو نه د زياتې مودې په کار اخيستلو سره

وکولی شي، چې دغسې ډېرو ماشومانو ته اړین درمل تهیه کړې. څرګنده ده چې دغه درملنه به ماشومانو ته تر هغه نه ډېره مرسته وکړي، چې نوې قالینه به یې له تا سره وکړي.
خو د اجتماعي قرارداد له نظر څخه څېزونه په بل ډول ښکاري. که اخلاقیات د خلکو ترمېنځ د قرارداد پر بنسټ ولاړ وي، چې د هغه له مخې هره خوا خپله ګټه په نظر کې نیسي، هغه به له نورو خلکو سره د مرستې کولو په اړه څه ووایي؟ دا په دې پورې اړه لري چې هغه نور خلک په دغسې حال کې دي چې له موږ سره به مرسته وکړي، یا زیان راواړوي. که موږ ته ګټه رسوي، موږ به له هغو سره په قرارداد کولو کې ګټه وکړو، چې په دغه حال کې به موږ له یو او بل سره مرسته وکړو او که داسې نه وي، بیا به داسې دلیل نه وي چې موږ په خپل سلوک باندې د نورو په ګټه قید ومنو.
موږ به ددغه نظر له مخې دلیل ونه لرو چې عمومي مکلفیت ومنو چې له ماشومانو سره په نورو ملکونو کې مرسته وکړو. کوم نظر سم دی؟ آیا موږ اخلاقي مکلفیت لرو چې له بېګانه وو سره مرسته وکړو؟ دلته به یوه فکري تجربه له موږ سره مرسته وکړي.
داسې وګڼئ چې دغه مهال زما په مېز کې دوه تنۍ دي او زه د "الف" تنۍ په وهلو سره د خپلې لور د کالیزې په ویاړ یوه ښه مېلمستیا برابرولی او د "ب" تنۍ په وهلو سره د یو شمېر بېګانه وو ژوند ژغورلی شم. آیا دا به سمه وي چې د "الف" تنۍ ووهم، ځکه چې زه تر هرڅه زیات د خپلې لور په فکر یم؟ ستا "وجداني احساسات" به درته څه حکم وکړي؟ ستوارت مل عقیده لري چې د یوه چا "وجداني احساسات" یا هغه احساسات چې د هر ډول فکر کولو نه وروسته غلبه کوي، باید د یو چا مکلفیتونه وټاکي. هغه عقیده ښکاره کوي چې که موږ هغه وخت چې فکر من اوسو او په ژور ډول سوچ وکړو، وبه نه منو چې د "الف" تنۍ ووهو.
خو ځینې وروستي خیرپالان استدلال کوي چې دغه موضوع

باید د فرد د احساس تغییرونو ته پرې نه ښوول شي. استدلال یې په دغه ډول دی: دا به رښتیا وي چې موږ نظر بېګانه ګانو ته خپلو ځانونو، خپلو فامیلونو او خپلو ملګرو ته ډېره توجه کوو، خو موږ هم عقلي ظرفیتونه او هم احساسات لرو او که موږ په دې اړه په افاقي ډول فکر وکړو، موږ به درک کړو چې زموږ او دغو نورو ټولو خلکو ترمېنځ اړوند توپیرونه نه شته. نور، حتی بېګانه ګان هم، د خپلو ځانونو، خپلو کورنیو او خپلو ملګرو په اړه هغسې فکر کوي لکه موږ چې یې کوو. د هغو اړتیاوې او د هغو ګټې زموږ له اړتیاوو او ګټو سره د پرتلې وړ دي. په واقع کې په دغه عمومي ډول کې دغسې څیز نه شته، چې یو له بل نه بېل کړي او که موږ ټول په اړوندو خواوو کې یو له بل سره ورته او سو، بیا د هېڅ چا لپاره دلیل نه پیدا کېږي چې خپلې ګټې د نورو تر ګټو نه مهمې وګڼي. پیټر سنګر (**Peter Singer**) د پرنستن پوهنتون خیرپال پروفیسر لیکي:

*"عقل موږ ته ممکنه کوي چې خپل ځانونه په دغه ډول ووینو... زه توان لرم وو وینم چې زه د نورو په مېنځ کې یو موجود یم، د نورو په شان له ګټو او غوښتنو سره. زه د نړۍ په اړه شخصي نظر لرم چې له هغه څخه زما ګټې د صحنې په مخ او مېنځ کې، زما د کورنۍ او دوستانو ګټې نژدې شاته، د بېګانه ګانو ګټې شاته او په اړخونو کې راځي، خو عقل مې قادر کوي چې وو وینم نور هم په ورته ډول عندي نظرونه لري او "د کاېناتو له نظره" زما نظر د نورو تر نظر نه ممتاز نه دی. په دې ډول زما له عقل نه د استفادې کولو قابلیت دغه امکان راته راکوي چې خپل ځان له خپل نظر څخه جلا کړم او راته ښیي چې که ما شخصي نظر نه لرلای، کاېنات به څه راته ښکاره شي."*

بیا نو له افاقي نظر څخه موږ هر یو باید ومنو چې زموږ خپل نظر، زموږ خاص ضرورتونه، ګټې، خوښېدونکي او نه خوښېدونکي د ډېرو په مېنځ کې

يواځې يو دي او کوم خاص مقام نه لري. ددې مانا دا کېږي چې له اخلاقي نظر نه هر يو برابر شمېرل کېږي، حتی په باندنيو ملکونو کې بېګانه ګان هم چې نه شي کولی له موږ سره مرسته وکړي، يا زيان راته ورسوي.

**پایله**: دغه څه د ګلاکون د چيلنج په برابر کې موږ په څه حال کې پرېږدي؟ موږ په دې اړه چې اخلاقيات له موږ نه څه غواړي، ممکن بېلو نتيجو ته ورسېږو او هغه په دې اړه لري چې موږ دغه اخلاقي دليلونه څنګه ارزوو؟ سره له دې هم د ګلاکون مسئله پر ځای پاتې کېږي، که موږ ته په کوم څيز کې څه نه وي، ولې هغه څه وکړو چې حق وي؟.

لکه چې وليدل شو مذهبي نظر چې د بدي په برابر کې د دوزخ په اور سره تړل کوي، پوره ځواب ورکوي. هغو ته چې دغه ځواب ميسر نه وي، دغه واقعيت شته چې موږ ټول له هغو اجتماعي ترتيبونو څخه ګټه ترلاسه کړو، چې اخلاقي مقررې ومنلی شي او نافذې شي. سره له دې هم د آزاد سواره پرابلم پوره حل کېدلی نه شي. خلک د لږ څه بد سلوک په کولو سره بې جزا او مصؤون پاتې کېدلی شي. بيا په يوه وخت کې وروسته له دې چې د قانون او اجتماعي فشار ټولې ذخيرې پای ته ورسېدلې، بل هېڅ نه پاتې کېږي خو دا چې د ستوارت په وينا: "د انسان وجداني احساساتو" باندې ډډه وشي.

دا به يوه ضعيفه پايله معلومه شي، سره له دې هم د "انسان وجداني احساسات" يو پياوړی ځواک دی او د پوهنې او مدنيت په پرمختګ سره نور هم پياوړی کېږي، هغه بايد کم ونه ګڼل شي. سره له دې هم داسې خلک به وي چې دغه احساسات به پکې ضعيف وي، نو موږ بايد ومنو چې که خلک د بدو په کولو سره مصؤن پاتې کېدلی شي او په رښتيا پروا نه کوي، چې عملونه يې په نورو څه کوي، موږ هغوی منع کولی نه شو، البته موږ به ټول دغه دليلونه ورته په ياد کړو چې د دوی دغه عملونه ولې په ناحقه دي، خو دغه دليلونه به يواځې تثبيت کړي چې دغه عملونه ناروا دي. دا چې خلک ددغسې عملونو له کولو نه منع شي، بل څه ته ضرروت لري چې دوی د هغو رعايت وکړي. کله چې دغه ټول وويل شول او عملي شول، موږ هر يو بايد پرېکړه وکړو، چې غواړو څه ډول شخص اوسو؟ پای

*Aghalibrary.com*